## د شعر سلطان

# علي خان



پوهنیاره اریانا حقپال

۱۳۹۳

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شعر سلطان :

# علي خان

لیکواله: پوهنیاره آریانا حقپال

**۱۳۹۳ل کال**

www.melitharik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم : د شعر سلطان علي خان

لیکواله : پوهنیاره آریانا حقپال

خپرندوی : د افغانستان د ملي تحریک فرهنګي څانګه

د خپرندوی شمېره: (۱۷)

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپکال: ۱۳۹۳ ل کال

پښتۍ ډیزاین: فیاض حمید

کمپوز او ډیزاین : دیپلوم انجنیر احمد طارق حقپال

www.melitharik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نیولیک


| سرلیک | مخ |
|---|---|
| سریزه: | ۱ |
| د ښېړني چارچلند: | ۳ |
| د علي خان د ژوند حالات: | ۴ |
| زو کړه او مړینه: | ۱۳ |
| قوم: | ۲۰ |
| تاټوبی: | ۲۶ |
| د علي خان پلار: | ۳۱ |
| اولاد: | ۳۳ |
| تحصیل: | ۳۹ |
| علوم: | ۴۴ |
| قران او تفسیر: | ۴۴ |
| حدیث: | ۴۸ |
| صرف او نحوه: | ۴۹ |
| منطق: | ۵۲ |
| فلسفه او هیئت: | ۵۴ |


www.melitharik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



مناظره:------------------------------------------- ۵۶
علي خان شعر روا ګڼي:--------------------------- ۵۸
علي خان او ادبي فنون:--------------------------- ۶۰
لفظي صنایع:------------------------------------ ۶۱
سجع:------------------------------------------ ۶۱
تام تجنیس:------------------------------------ ۶۵
منځوال تجنیس:--------------------------------- ۸۰
مفروق مرکب تجنیس:----------------------------- ۸۱
مکرر تجنیس:----------------------------------- ۸۱
مضارع تجنیس:---------------------------------- ۸۵
خطي تجنیس:------------------------------------ ۸۵
لفظي تجنیس:----------------------------------- ۸۶
اشتقاق یا اقضاب:-------------------------------- ۸۶
تصدیر:----------------------------------------- ۸۷
بې تکیو صنعت:---------------------------------- ۹۲
اقتباس:---------------------------------------- ۹۴
ذوالقافیتین:------------------------------------ ۹۵
مصرح تضمین:---------------------------------- ۹۶

www.melitharik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library




معما:------------------------------------------ ۹۷

افراد:------------------------------------------ ۹۹

معنوي صنايع:------------------------------------ ۱۰۰

طباق يا تضاد:----------------------------------- ۱۰۰

مقابله:----------------------------------------- ۱۰۴

حسن تعليل:-------------------------------------- ۱۰۴

سياقة الاعداد:----------------------------------- ۱۰۶

تنسيق الصفات:----------------------------------- ۱۰۶

مراعات النظير:----------------------------------- ۱۰۹

تدبيج:------------------------------------------ ۱۱۱

حسن طلب:--------------------------------------- ۱۱۱

حسن مطلع:-------------------------------------- ۱۱۲

حسن مقطع:-------------------------------------- ۱۱۲

لف و نشر:--------------------------------------- ۱۱۳

جمع:-------------------------------------------- ۱۱۴

مبالغه:------------------------------------------ ۱۱۵

التفات:------------------------------------------ ۱۱۶

عارفانه تجاهل:----------------------------------- ۱۱۸

محتمل الضدين:----------------------------------- ۱۱۹


www.melitharik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوال او ځواب:------------------------------------ ۱۱۹
مدعا مثل:------------------------------------ ۱۲۰
تلمیح:------------------------------------ ۱۲۱
ارسال المثل:------------------------------------ ۱۲۵
ځلوریځې:------------------------------------ ۱۲۶
قافیه:------------------------------------ ۱۲۹
علي خان او نورې ژبې:------------------------------------ ۱۳۴
علي خان او مینه:------------------------------------ ۱۳۹
پایله:------------------------------------ ۱۵۱
وړاندیز:------------------------------------ ۱۵۲
مأخذونه:------------------------------------ ۱۵۳

www.melitharik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تحریک یادښت

فرهنګي څانګه د افغانستان ملي تحریک له اساسي څانګو څخه یوه ده. د دې څانګې دنده داده چې هېوادوالو ته فرهنګي خدمات وړاندې او ګټور فرهنګي کارونه ترسره کړي. د تاریخي، ملي، کلتوري ورځو او تاریخي او ملي شخصیتونو نمانځل د دې څانګې نورې دندې دي.

د هېواد د لیکوالو د علمي، دیني، روزنیزو او معلوماتي اثارو چاپ هم د دې څانګې له اساسي دندو څخه ګڼل کېږي. له هغې ورځې راهیسې چې تحریک خپل عملي فعالیتونه پیل کړي دي، نو دې څانګې هم ورسره سم خپل فعالیتونه چټک کړي دي. تاریخي ورځې یې نمانځلي، تاریخي واټونو ته یې لوحې جوړې کړي. علمي سیمینارونه او ورکشاپونه یې جوړ کړي دي.

د تحریک دې څانګې د تحریک د عمومي هدفونو په رڼا کې وټاکله چې په یوځایي ډول (شل عنوانه) کتابونه چاپ کړي. په دې اثارو کې اکثره دیني او علمي اثار شامل دي چې درنو هېوادوالو ته یې وړاندې کوي.

دا اثر (د شعر سلطان، علي خان) چې ستاسو په لاس کې دی، اغلې (پوهنیارې اریانا حقپال) لیکلی او د همدغو شلو عنوانو اثارو له جملې څخه دی. هیله ده درانه لوستونکي ترې ښه ګټه پورته کړي. تحریک خپلو هېوادوالو ته ډاډ ورکوي چې په راتلونکي کې به هم خپلو دې ډول هڅو ته دوام ورکړي.

د هېواد د فرهنګ د بډاینې په هیله

په درناوي

د افغانستان ملي تحریک

**فرهنګي څانګه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیلیزه:

له دود سره سم د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې هر محصل باید له فراغت سره سم خپل مونوګراف ولیکي ماهم د لیسانس دورې د بشپړتیا لپاره د مونوګراف موضوع (د علي خان ژوند او فن) وټاکله، دغه عنوان په هغه وخت کې نوی و او ښکلی بریښېده مګر اوس دغه ډول ترکیب زیات شوی، ددې لپاره چې عنوان مبتذل نه شي نو ما د خپل اثر (د شعر سلطان علي خان) ونوموه، دا چې د علي خان په دیوان کې ډېر علمي جوهر پروت دی نو ځکه مې تر لوستلو وروسته دې ته پام شو چې علي خان دې ولې داسې له نظره پټ وي په تېره بیا په افغانستان کې، که څه هم په کوزه پښتونخوا کې د سترو ادیبانو او لیکوالو له نظره نه دی وتی خو چې څومره د هغوی په ژبو ګرځي په لیکنو کې یې هسې نه دی ځلېدلی. ددې لپاره چې یو څه مو د هغه حق اداء کړی وي ما هڅه وکړه چې د هغه په ژوند او فن یو څه ولیکم ترڅو نور پوهان او ادیبان ورته خپل پام وګرځوي، په دې ډګر کې تردې لازیاته څېړنه او تحقیق وکړي چې دغه پټ ځلاند ستوری راښکاره شي او راتلونکی ځوان نسل یې وپېژني. همداراز له شعر او شاعرۍ څخه یې پوره ګټه واخلي، علم او شاعري سره ملګري کړي او د پښتو ادب شعر او شاعري د نړۍ د پرمختللو ژبو له شعر او شاعرۍ سره د سیالۍ ډګر ته وراندې شي څنګه چې په پښتو ادب کې علي خان د ادبي فنونو بادشاه ګڼل شوی دی نو غواړم چې په راتلونکي کې که خدای کول د هغه په ادبي فنونو یو مستقل اثر ولیکم.

په درناوي

آریانا حقپال

(c) ketabton.com: The Digital Library



سریزه:

د پښتو ادب د شعر او شاعرۍ یو پټ ستوری چې د تاریخ په آسمان کې د وخت د تاړاکونو د وریځو تر شا پټ پروت دی هغه علي خان دی.

د علي خان په اړه ادیبانو په خپلو ځینو آثارو کې تر یوې اندازې پورې خپل نظریات وړاندې کړي دي خو داسې یو اثر چې دده د ژوند او فن پر هرې خوا یې رڼا اچولې او په یوه ټولګه کې یې را غونډ کړي وي زما تر سترګو نه شو، نو دا مې اړینه وګڼله چې زه تر خپلې وسې دغه کار ترسره کړم، که څه هم د علي خان د ژوند هر اړخ په تیارو کې پروت دی او زه هم په دې ونه توانېدم چې دغه ټول اړخونه په بشپړ ډول روښانه کړم خو هڅه مې وکړه چې دده د شعرونو په رڼا کې یو څه پرې وکښم ترڅو له یوې خوا د علي خان چې یو خوږ ژبی او زړه خوږی شاعر دی، علمي حق ادا شي او له بلې خوا زما د لیسانس دورې پایلیک (مونوګراف) هم تر سره شي او په دې ډول د ادب په پانګه کې یوه بله زیاتونه وشي.

(د شعر سلطان علي خان) اثر په لیکلو کې له یوې ستونزې سره مخ وم چې هغه د مأخذونو کموالی و. ما داسې مأخذونه چې د علي خان په اړه پوره پوره معلومات ولري، ترلاسه نه شو کړی.

دا اثر چې (د علي خان ژوند او فن) تر سرلیک لاندې و، ما د خپل لارښود استاد پوهندوی ډاکټر محمداجان حقپال په لارښوونه پای ته ورسوه چې زما مادي او معنوي روزونکی دی، زه پوهېږم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه لیکنه هرومرو نیمګړتیاوې لري ځکه چې له ځینو مقالو او ژباړنو پرته زما لومړنۍ لیکنه ده او بله دا چې د وخت د نشتوالي له امله مې پرې بیړه وکړه، نو هیله منه یم چې درانه او ګران لوستوال او د ادب مینه وال به د نیمګړتیاوو په صورت کې ما وبخښي.

له استاد ډاکتر حقپال څخه یوه نړۍ مننه کوم چې په دې برخه کې یې راسره پوره پوره مرسته وکړه، له خدای جل جلاله څخه ورته له ښې روغتیا سره د اوږد عمر او عزتمن ژوند استدعا کوم.

همدارنګه له استاد پوهنوال محمد اسماعیل یون څخه مننه چې تل د پښتو ژبې او ادب د پرمختګ لپاره نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کوي او زه یې هم ددې اثر چاپولو ته وهڅولم، لګښت او چاپ چارې یې په غاړه واخیستې.

په همدې ډول د پښتو څانګې له محصل شفیق الله امیرزي څخه چې د ټایپ په برخه کې یې را سره همکاري کړې ده، هم مننه کوم.

په پای کې له خپل ورور دیپلوم انجنیر احمد طارق حقپال څخه هم مننه کوم، حقیقت دا دی چې دده له همکارۍ پرته دغه اثر په دې ښکلا سره د چاپ ډګر ته نه شو راوتلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د څېړنې چارچلند:

ددغه اثر په ليکلو کې له کتابتوني مېتود څخه کار اخيستل شوی، دا چې د علي خان د ژوند ژواک په اړه مې ډېر مأخذونه ترلاسه نه شو کړی نو ځکه مې دده له شعرونو څخه زياته ګټه واخيسته، په دې هيلې چې ګوندې څه نوې خبرې ترې ترلاسه کړم.

همداراز له يو شمېر مأخذونو څخه مې د (ځينو علومو يا هم د بديعي صنعتونو او ...) تعريفونو لپاره کار اخيستی.

ارزښت او هدف: ددې اثر په ليکلو کې مې دوه هدفه وو:

١. د ليسانس دورې بشپړتيا
٢. په پښتو ادب کې د علي خان ځلول

چې په دې توګه په پښتو ژبې کې يو بل اثر هم ورزيات شو.

په درنښت
پوهنياره آريانا حقپال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د علي خان د ژوند حالات

علي خان د پښتو ژبې یو ستر شاعر دی چې د کلاسیکې او معاصرې دورې تر منځ د اتصال کړۍ هم ده.

له بده مرغه باید ووایم چې د علي خان د ژوند حالات لکه نورو ډېرو پیاوړو پوهانو؛ په تیارو کې پراته دي، تردې حده چې خپل نوم یې لا هم په سمه توګه نه دی څرګند شوی، پوهانو ډول ډول لیکلی دی؛ لکه: محمد علي خان، حسن علي خان، علي احمد خان او علي خان، خو په اغلب ګومان اصلي نوم یې علي خان دی دا ځکه چې د هر غزل په مقطع کې یې نوم علي خان راغلی دی؛ لکه په لاندې مقطعو کې:

څوکرې پګړې دې پرې ایستې آسمانه
ځکه نه ږدي علي خان په سر دستار کج
۲۳: ۵۶

که ترې بوی د وریتو غوښو ځي په ځای ځي
چې تاوونو کړو لړمون د علي خان وریت
۲۳: ۵۱

علي خان د زماني په چال نن پوه شو
هره ورځ مې اوس دریغه که پرون وای
۵: ۱۵۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



علـي خـان مينـې لاهـو کـړو کـه هوښـيار و
سـيند د عشـق همـېش د مينـې لامبـوزن وړي
۵: ۱۶۱

علـي خـان غونـدې بـه تـل تروتـه تـاون وي
سـوداګر چـې د ديـدن وي لکـه زه
۲۳: ۷۱

که څه هم عبدالکافي اديب دده نوم علي احمد خان ښودلی او په ثبوت کې يې دغه لاندې بيت وړاندې کړی دی:

زړه بـه سـتا غلبيـل کېـده علـي احمـده
چـې مـدام دې تېـرو غشـيو تـه سـپر دی

او همداراز تقويم الحق کاکاخېل هم د علي خان ديوان په مقدمه کې دا دعوه کړې چې د علي خان اصلي نوم علي احمدخان دی، ده هم په ثبوت کې دا بيت راوړی دی:

زړه بـه سـتا غلبيـل کېـده علـي احمـده
چـې مـدام دې تېـرو غشـيو تـه سـپر دی

خو دغه بيت د علي خان په ديوان کې نه تر سترګو کېږي ددې بيت په اړه ډاکټر اقبال نسيم خټک په خپل اثر (د رنګ او بو قافله) کې داسې کښلي دي: ((حالانکه دغه شعر ماته چرته هم په نظر رانغی تردې حده چې د علي خان په هغه ديوان کې هم دا شعر نه شته کوم چې ميا صاحب په خپله مرتب کړی دی، د حميدبابا د کلام خطي نسخه کومه چې د کوهاټ د ښاغلي رومان ساغر صاحب په ذريعه پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسيټي ته را رسېدلې ده - په دغه نسخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې پنځوس خوا اوشا غزلې د علي خان هم شته او دغه اختلافي شعر پکې هم شته چې په دې ډول دی:

زړه بـه سـتا سـوری سـوری کـړي علـي خانـه
چـې مـدام دې مـلا تيـر و غشـيو تـه سـپر دی»
۱۱: ۳۲۳-۳۲۴

نو په دې توګه د ډاکټر اقبال نسيم خټک دا دعوه چې «د علي خان اصلي نوم علي احمد خان دی» بې دليله ګڼې.

دا بايد ووايم چې د علي خان په ديوان کې يو داسې بيت هم شته چې د هغه د نوم معما په کې راغلې ده او هغه بيت په دې ډول دی:

معمـــه مـــے ده اووه ســـوه د اســـــم
لاهـــم کـــم دی کـــه دوه واره ورلـــه لام لاړ
۲۳: ۸۵

پورتنی د بې ټکو صنعت غزل بيت داسې تحليلوو:

| | | |
|---|---|---|
| ۷۰۰ | : | چې په خپله ذکر دی |
| ۳۰+۳۰ | : | دوه لامه |
| ۱ | : | کم دی |

نو ۷۰۰+۳۰+۳۰+۱=۷۶۱

که د علي خان نوم د ابجد په حساب يو يو توری حساب کړو نو پورته خبره تصديقيږي هغه په لاندې ډول:

ع = ۷۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



ل = ۳۰

ی = ۱۰

خ = ۶۰۰

ا = ۱

ن = ۵۰

نو ۷۰+۳۰+۱۰+۶۰۰+۱+۵۰=۷۶۱

په دې توګه د علي خان نوم د ابجد په حساب ۷۶۱ دی بل نوم ترې نه راوځي نو ځکه وايو چې ترځو کوم بل پوخ دليل نه وي تر لاسه شوی د علي خان اصلي نوم علي خان دی او بس.

همداراز دده د عهد تاکنه هم ستونزه وره خبره ده ځکه چې په خپلو اشعارو کې يې داسې کومه پښنه نه ده ځلولې چې د هغې له مخې يې عهد او زمانه وټاکو، خو بيا هم د پوهانو د هڅې په نتيجه کې تر يوه حده په دې مسئله بحث کولی شو، د بېلګې په توګه دهغه لاندې بيت را اخلو:

سـن د هجـر غـر و سـر د کـاني تـرې کمتـر و
ورځـه ديارلسـم د ذوالحجـې وه پـه تحريـر کـې
۲۳ :۸۷

په دې اړه عبدالکافي اديب کښلي دي:

((د پښتو ژبې يو نامتو او ستر ليکونکی او فلسفي خادم محمد اکبر مرحوم د لټون مطابق د علي خان د زيږون کال ۱۱۸۰هـ د ذوالحجه ۱۳ دی لکه څنګه چې د هغه د يوې قطعې ثابته ده.)) ۱۱: ۳۳۹ او بيا دا پورتنی بيت راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ابجد په اساس: (غر= ۱۲۰۰) او د کاڼي سر (ک= ۲۰) دی نو چې ۲۰ ترې کم شي ۱۱۸۰ هـ پاتې کېږي ځينو ليکوالو او محقيقينو دغه تاريخ ۱۱۸۰هـ يوازې د همدغه شعر د ويلو نېټه ګڼلې ده، خو ډاکټر اقبال نسيم خټک، لطيف وهمي او ځينو نورو دغه بيت د علي خان د پيدايښت نېټه ګڼلې ده او داسې فکر کوي چې ګوندې علي خان ته به په څه نه څه ذريعه د هغه د پيدايښت نېټه معلومه وه خو دا کومه يقيني خبره نه ده که دغه تحليل مونږ ومنو نو د علي خان ژوند د ديارلسمې هجري پېړۍ لومړۍ نيمايي پورې رسېږي.

ميا تقويم الحق کاکاخېل په دې اند دی چې د علي خان دغه بيت د همدغه غزل تاريخ څرګندوي چې په دې مهال کې علي خان دېرش کلن و. همدا راز ښاغلي قلندر مومند په دې بيت دا راز تحليل کړی دی:

سن د هجر غر و سر د کاڼي ترې کمتر و
ورځ درياسمه ذوالحجه وه په تحرير کې

دی وايي: ((غر = ۱۲۰۰ جوړوي او سر د کاڼي يعنې (ک= ۲۰) چې ترې کمتر دی که يې ور جمع کړو نو ۱۲۲۰ هـ کال به ترې جوړ شي چې دا د صاحبزاده محمدي د مړينې نېټه ده.))

۲۵: و - ز

خو په دې کې ستونزه دا ده چې له ۱۲۲۰ هـ کال سره ديارلس ذوالحجه نه ثابتېږي، بلکه دا چې دا غزل له سره تر پايه روماني او غنايي دی او څرنګه چې صاحبزاده محمدي د علي خان استاد و نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خامخا به علي خان دده په مړینه یوه دردناکه مرثیه ویلې وه نه دا چې یوازې یو روماني غزل ووایي، سربېره پردې د علي خان په دیوان کې څه نورې مرثیې هم شته دي چې د سعادتمند، حبیب الله، فیض الله، غیاث، هوس او داسې نورو په اړه یې ویلي او همداراز یوه بې نومه مرثیه هم لري.

دغه کسان چې علي خان په یوې مرثیې کې یاد کړي دي، ښایي په یوه جنګ کې په یو ځای مړه شوي وي او دا هم ممکنه ده چې د دوی مرګونه جلا جلا وي خو ده ته به دغه ټول په یو وخت ور په یاد شوي او مرثیه به یې ویلې وي:

روز شـب چـې زه نالـه کـړم لـه دې بابـه
خـدای مـې هسـې ورځ د بـدو کـړه بـې تابـه
سـعادتمند حبیـب الله د ګـور بنـدیان شـو
اول شـــعر یـې آغـاز لـه انتخابـه
رسـول خـان او فـیض الله چـې لـه مـا لاړه
زه هـم هـسـې زړه بـې واکـه مـخ ترابـه
زمـا زړه لکـه کشـتۍ پـه دریـاب پـروت وو
طوفـان راغـی دا کشـتۍ یـې کـړه خرابـه
د رسـول لـه غمـه زړه زمـا ذرې شـه
څـه بـه وایـم د اسـتازي لـه ځوابـه
خدایـه زړه زمـا صـابر کـړه لـه دې غمـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د غم لینـــــدۍ مې ووځي لـه جنابـه
د خـزان پـه بـاد مـې زړه پـه زمـین پرېـوت
الهـــي کـــرم! مـــــــــسبب الاســـبابه
دا ځلـور طوطیـان وو راغلـــه سـبز رنګـه
د معبـود حکــــــم پـري وشـو لـه شـتابه
زه کـه ژاړم اوس کـه خـاورې پـه سـر لـونم
را بــه نشـي هغــــه تللـي مـخ سـیمابه
رسـول ګـل و د ګلابـو پـه بوستـــــان کـې
خـزان راغـي بانـــــدې پرېـوت لـه ترابـه
د رخسـار او د سـپین مـخ وصـف یـې څو کـړم
روزي نــه شــو دی زمـــا لکــــــه سـرابه
تــاو د صــبر پــه خاونـد وي علــي خانــه
تــه اوس دســت راکـړه زمـونږه اصـــحابه
۲۳: ۴۰- ۴۱

په دې مرثیې ډېر بحثونه شوي دي دا چې په پورته مرثیې کې یاد شوي کسان څوک وو په دې اړه هم ډېرې زیاتې څېړنې شوي دا چې د مقصد اصلي ټکي ترې نه ترلاسه کېږي ځکه یې له تشریحاتو څخه ډډه کوو خو تقویم الحق کاکاخېل د علي خان دیوان په حاشیه کې دومره واضحه کړې چې هوس خان د سوات د خوزي خېلو قبیلې یو سردار و او په جنګ کې شهید شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ددغه جنګ او د هوس خان خوزي خېل د زمانې په اړه معلومات تر لاسه کړو نو د علي خان زمانه به په آسانه وټاکو د هوس خان خوزي خېل په اړه د علي خان مرثيه داسې ده:

چې مې ستا د مرګه واورېده هوسه
اوښکو پرېوينځ زما زړه له کل هوسه
توکل يې خزانه دی پرې غني و
نه و بې له ښه جامو له ښه فرسه
بې دنيا حاتم طايي د زماني و
ځان يې پاک ساته د زرو له دنسه
په خپل قدر له کتابه بهره ياب و
له لمانځه و خبردار هم له اودسه
په يوسف منډ يې غېږ و د مېړانې
اتمانخېلو تېښته کړه دده له تسه
په خوزي کې يې مخې نه و د تورې
څو چنده يې ترې ډوډۍ وه يو په لسه
چې رسد به يې تر غليمه پورې وشه
نور يې نه وه اندېښنه له پېش و پسه
د هرچا له قيده خلاص وي قلندره
تل قابل طوطي آزاد وي له قفسه
له زړګونو يې نيست تير وه بارې څه کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قـــــضاپه ګولـــــې ولوېــدو لــه اســه
د زړه ســر يــې د دارو لمـــــبې جلـــــيا کــړو
لکـه شـين لـوګی چـــې خېـژي لـه ققنـسه
لـورا لـور يـې غـږ راځــې چـې يـاران لېـږدي
علـي خـان بــه څـه غفـــلت کـړي لـه جرسـه
۹۳ :۲۳

ډاکټر محمداجان حقپال چې د بېدل عصر تاکي نو هغه د (علي خان، حميد مومند او ...) معاصر ګڼي. دی وايي: ((بېدل هم د حميدمومند، محمدي صاحبزاده، علي خان، سعيد او ميا اکبر د عصر شاعر دی.))

او په دليل کې يې هغه شعر وړاندې کوي چې ده پکې خپل همعصر شاعران پخپله ښودلي دي خو همدغه شعر د علي خان د معاصرينو لپاره ښه دليل کېدی شي:

هـــر چـــې دي زمـــا د عصـــر هغـــه دادي
چــې هــر يــو پکــې خوشــخويه ســخندان دی
صـــاحبزاده محمـــدي علـــي خـــان ګـــوره
هــم ســعيد لــه ميــا اکبــر ســره عيــان دی
مقبــول شــوی پــه دريــاب کــې دی هــر چاتــه
چــې هــر يــو پــه خپــل قــوت کــې پهلــوان دی
محمــدي تــر حميــد زيــات ويــنم کــم نــه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـر چـې زړونـه پـرې غـوځېږي علـي خـان دی
چـــې ممتـــاز زمـــا د عصـــر دي همـــدا دي
نـــور بـــې شـــماره دي د واړو ښـــه بيـــان دی»
۱۰: ۲۸۲

په پای کې باید ووایم چې د علي خان عهد په سمه توګه نه دی ټاکل شوی، سره له دې چې ډېرې څېړنې هم پرې شوې دي خو بیا هم کومه مثبته نتیجه ترې نه ترلاسه کېږي.

## زوکړه او مړینه:

د حیرت خبره خو دا ده چې د علي خان د ژوند یو اړخ هم په مستنده توګه نه شو سپړلی دا ځکه چې ده په خپلو شعرونو کې عمداً یا په بې خبرۍ هیڅ داسې اشاره نه ده کړې چې مونږ د هغې له مخې دی مطالعه کړو د ژوند د نورو اړخونو په شان دده د پیدا ښت او مړینې نېټې هم په تیارو کې پرتې دي، له همدې کبله مونږ د هغه د عمر اندازه هم نشو ټاکلی خو د پوهانو په اند دده له اشعارو څخه داسې ښکاري چې دی به په ځوانۍ کې مړ وي ځکه چې په دیوان کې یې د ځوانۍ غوښتنې او نور بحث و بیان راغلی دی خو د زړښت کومه ګیله شکوه په کې نه لیدل کېږي البته د ځوان عمر له ضعیفۍ څخه ګیله من ښکاري:

ســـتا د هجـــر محنتونـــه بـــه يـــــــې زوړ کـــا
کــه لــه ډېرشـــــــو کــم پــه ســن وي لکــه زه
۲۳: ۷۱
پـه ځـوانۍ کـې يـې ټيـټ ټيـټ لکـه همـزه کـړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیلتانـــــــه مـې ګټـې کېښـودې پـه ولیـو
۲۳: ۱۳۵

خدایـه د حضرت پـه روی توفیـق د نېکـۍ راکـړې
پــوچې اند ېښــــنې مــې پــه ځــوانۍ کــې زړوي
۲۳: ۱۶۳

پورته بیت د کلام د منځپانګې له مخې د آخري دور له شعرونو څخه دی ځکه خو سید تقویم الحق کاکاخېل په دې اند دی چې علي خان په ځوانۍ کې مړ دی او وایي: ((علي خان د زوړوالي دردناک ژوند نه دی لیدلی)) ربښتیا هم دده په ډېرو شعرونو کې همداسې ښکاري چې دی به ځوان مړ وي خو دغه بیت چې عبدالکافي ادیب یې د علي خان د ژوند سند نیسي:

سن د هجر غر و سر د کاڼي ترې کمتر و
ورځ وه دیارلسمه د ذوالحجې په تحریر کې

اقبال نسیم خټک ددې بیت په اړه لاندې نظر وړاندې کوي:

((د علي خان د پیداوښت دغه شان جرأت مندانه تأویل ددې خبرې غمازي کوي چې ګویا علي خان ته په څه نه څه ذریعه د خپل پیداوښت نېټه معلومه وه خو دا څه یقیني سند نه دی او که مونږ دغه تأویل ومنو نو بیا د علي خان د اخري ژوند زمانه د دیارلسمې صدۍ هجري لومړۍ نیمې ته را اوړېدېدی شي.))
۱۱: ۳۴۰

دده د ټول دیوان تر لوستلو وروسته دا څرګندېږي چې علي خان به لږ څه د ځوانۍ دوران تېر کړی وي او غالباً د زړښت یو پوړ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



به تر یوه حده رسېدلی وي، ددې خبرې د تایید لپاره زه د علي خان له دیوان څخه دغه ویرنه وړاندې کوم:

آه سپرلی مې دخزان په ناتار تېر شه
ما لا ګل بوی کړی نه و بهار تېر شه

لا مې خ پټې غوټۍ نه وې تازه شوې
چې بیا دور نسیمه خوا د ګلزار تېر شه

اوس که ځان وهم که خاورې په سر نولم
په هېڅ رنګ په بېرته نه راځي وار تېر شه

لا مې غټ ورته په ځیر کتلي نه و
لکه برق رخشنده په تلوار تېر شه

مونږ لا اوس بوس و کنار وو ندا وشوه
چې را پاڅه وخت د بوس او کنار تېر شه

چې رخسار یې د کفن په شویو ونغښت
رود د اوښکو د مهجور په رخسار تېر شه

لکه د پر پري پیکر هم پري روی وو
همدغه رنګه تېز روه پرې وار تېر شه

ما یې نیوی نه شو فتراک چست و چالاک تلو
د لرګو په مرکب سور شهسوار تېر شه

ستا د مرګ په ناره زړه زما پاره شه
خود به چاود چې پرې د هجر منشار تېر شه

www.meltharkz.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library



رب مې ورځ د طرب تېره کړه عقرب يم
د غم شپه رابانديې راغله نهار تېر شه
دا هم شکر چې سرې پرې بد نام نه شو
خو بنده په واک د خپل کردګار تېر شه
جبر نه دی په دا قبر بويه صبر
خو نمسي و د نيکونو په لار تېر شه
د بلبل اسره خوره شوله د ناستې
چې د باغ په ځنګ راته په چغار تېر شه
اوس به څه پورې شماره يا مرثيه ښکوم
چې يې عمر د شمارې و په شمار تېر شه
يوه ورځ به دې غږ وشي علي خانه
چې فلانی هم لکه ګرد و غبار تېر شه
۲۳: ۹۵

په پورته مرثيې کې د علي خان رومانيت او د هغه د ځوانۍ ويرنه له ورايه ښکاري، که مونږ د دې ويرنې لومړي بيت ته ځير شو نو داسې ښکاري چې د علي خان د ځوانۍ سپرلی د زړښت خزان له منځه وړی وي او دغه خزان غمجن کړی او ښايي ډېرو غمونو زړ بوډا کړي وي خو علي خان د خپلې ځوانۍ ارمان کوي:

اوس که ځان وهم که خاورې په سر نولم
په هيڅ رنګ په بېرته نه راځي وار تېرشه
لامې غتې ورته په ځير کتلي نه وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکـه بـرق رخشـــــنده پـه تلـوار تېـر شـه

پورته بيتونه دا څرګندوي چې علي خان د ځوانۍ په تېرېدو ډېر افسوس کوي سربېره په پورته دوو بيتونو ددې مرثيې ټوله لومړۍ برخه همدا مطلب په ګوتو کوي.

علي خان ډېر علم لري او په کلام کې يې ډول ډول علمونه څرګندېږي؛ لکه: بديع، بيان، فقه، تفسير، حديث، صرف و نحو، منطق، مناظره، همداراز په هر بيت کې يې يو ځانګړې معنويت او هنريت، ښه نصيحتونه او داسې نورې چارې ټولې دومره اسانې نه دي چې سړی دې په دومره کم عمر کې تر لاسه کړي او بېرته دې نورو ته په دومره قوت سره د شعر په ژبه وړاندې کړي، ځکه خو زه وايم چې علي خان به د ډېرې ځوانۍ په عمر نه وي مړ شوی.

د علي خان نور علميت به وروسته راوسپړو، دلته يې د بېلګې په توګه يو څو نصيحتونه راوړم:

چـې آسـمان پـه کـې خلـل او تزويـر ګـډ کـه
نـو سـندرو تـه ټـول شـوي پـه ويـر ګـډ کـه
هسـې کـاڼې لـه تقـديره پـرې را خـلاص شـي
چـې شکسـت يـې پـه پجـه د تـدبير ګـډ کـه
کـه دې دوه ورځـې پـه مـراد شـي غـره مـه شـه
عاقبـت بـه دې غوبـل پـه ضـمير ګـډ کـه
پـه هـر کـار چـې د ښبـتن اراده نـه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو مانع په کې قلیل او کثیر ګڼه کړه
هسې چارې د نادان له لاسه وشي
چې هوښیار به په فکرت په تصویر ګڼه که
چې الله یې زیانوي سبب یې جوړ شي
د دانا سرې په عقل تغییر ګڼه که
د کامل عقل لانبو به دې شي هېره
زمانه که دې د غم په غدیر ګڼه که
کله هسې چاره پېښه کړي د مکر
چې سلطان په خوشامند د وزیر ګڼه که
بادشاهان له تخته پرېباسي په مځکه
بیایې کور په کور په شان د فقیر ګڼه که
چې کاسه یې شي نسکوره بخت یې تور شي
د کارغانو په قطار کې قجیر ګڼه که
څوک په دواړه کونه وي څوک میانه وي
د چا سر له سره غم په خمبیر ګڼه که
د چا قلبي ناکره روپۍ چلېږي
د چا زرو ته د مسو تاثیر ګڼه که
که یې څوک کره کوي لا مته کېږي
بده برخه چې یې غش په اکسیر ګڼه که
کله غوږ نیسي خوبان و علي خان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



که همه دُر و مرجان په تقدیر ګډ که

۲۳: ۱۱۳

په پورته غزل کې علي خان هر څه په تقدیر پورې تړلي او وايي چې انسان باید له غرور او نادانۍ څخه ځان وساتي.

نا اشنا ښه دی اشنا تګل کوي
یاران ماران شو اکثر چیچل کوي
ازموده یار کړه له غیرو ډار کړه
واړه غولول کوي کار چلول کوي

۲۳: ۱۷۸

په پورته رباعي کې علي خان له اشنا او نا اشنا څخه سر ټکوي، وايي چې له اشنا څخه پردی ښه دی بیا وايي له پردیو وېره په کار ده خو اشنا باید وازمېیل شي او بیا ورسره دوستي وشي. لنډه دا چې د علي خان په نظر د اشنا په انتخاب کې باید دقت وشي.

زمانه د بې شرمۍ شوه علي خانه
بختور هغه ګڼه چې تري کنار شه

۲۳: ۹۸

پورته بیت چې د یوه غزل مقطع ده دا راښیي چې علي خان له زمانې زړه تورن شوی او د خلکو ناکردې یې دې ته مجبوروي چې له دوی څخه ځان لرې کړي څکه خو نورو ته هم همدا نصیحت کوي. البته ټول غزل همداسې مطالب افاده کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوم:

کله چې د یو انسان نوم ثابت معلوم نه وي د هغه به قوم څرنګه معلوم کړو، خو دا چې ځینو پوهانو خپل نظریات وړاندې کړي دلته یې لنډیز را اخلو، علي خان د مختلفو دلایلو پر اساس د ځینو پوهانو په نظر محمدزی، مهمنزی او مامونزی او د ځینو نورو په نظر ختټک، اخونزاده، درانی، منګل، افریدی او مروت ګڼلی شوی دی، اثر افغاني یې موسی خېل محمدزی ګڼي، علامه عبدالحی حبیبي، پوهاند صدیق الله رښتین او د دوی په تایید اجمل ختټک یې ختټک بولي.

دا چې علامه حبیبي یې ختټک بولي غالباً داسې فکر کوي چې علي خان اصلاً محمد علي خان بن افضل خان ختټک دی چې د اشرف خان هجري لمسی د خوشحال خان ختټک کړوسی او د کاظم خان شیدا ورور دی په دې اړه سید تقویم الحق کاکا خېل داسې وایي: ((دا محمد علي د خپل پلار کشر او محبوب زوی و سنه ۱۱۳۳ هـ کې یې پلار خپل نایب الحکومت کړو - دده مشر ورور سعد الله خان په دی مرور لاړو او د کاکا صاحب رحمت الله علیه د زوی سید غیاث الدین (کاجی) بابا رحمته الله علیه په مدد یې تیری کې خپل ریاست قایم کړو.

سنه ۱۱۵۳ هـ کې محمد علي خان د پلار وفات نه پس د اکوړي حاکم شه او په تیری یې حمله وکړه، شکست یې اوخوړو او اکوړی یې هم دلاسه لاړو، دې نه پس تاریخ د هغه متعلق چوپ دی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سنه ۱۱۶۰ هـ کې د دغه محمد علي خان زوی لښکر خان په سعدالله حمله کړې ده هغه يې مړ کړی دی بيا يې د هغه د زوی دلاسه شکست خوړلی دی- دکن کې نوکر شوی دی او اخر په دې قصاص کې قتل شوی دی، ليکن په دې ټوله سلسله کې تاريخونه بيا د محمد علي خان نوم نه اخلي - معلومېږي داسې چې په دې وخت کې هغه په دنيا کې يا کم از کم په دې صوبه کې موجود نه و. د سنه ۱۱۵۳ هـ نه پس د محمد علي خان ټول ژوند په جنګ يا په ارمان کې تېر شوی دی، ليکن د علي خان په ديوان کې ددې هېڅ تذکره نه شته بلکې هغه د تېرو تورو پر ځای د اشنا ديدن پسې ذکر کوي او خپل کور کلی، وطن، حکومت او د خپلو خپلوانو ظلم و ستم ته هېڅ اشاره نه کوي.

په يوه بله خبره هم غور کول غواړي - د محمد علي خان زوی په سنه ۱۱۶۰ هـ کې ددې قابل و چې د هغه د شکست بدل د خپل تره نه واخلي - ليکن د علي خان تصريح تاسو اوليده چې د هغه نه زوی شته نه لور.))

۲۳: ۲۱

ښاغلی تقويم الحق د خپلې هرې خبرې د لا روښانولو لپاره د ديوان په حاشيه کې د علي خان شعر د ثبوت په ډول وړاندې کوي؛ لکه د تېرو تورو پرځای تورې زلفې داسې يادوي :

تــور طــالع زمــا د ترکــو تــورې زلفــې
مســافر بــه مــې آخــر د هندوســتان کــا

۲۳: ۱۱۰

او د پنا هګاه پرځای د يار ديدن داسې ځلوي :

يــو وصــل د يارکــه مــې مونــدی پــه زر ســفره

(c) ketabton.com: The Digital Library



اور بـه مـې هـزار ځلـه پـه کـور ولګـاوه
۲۳: ۱۴۴

او دا چې ده اولاد نه درلود دغه بیت یې وړاندې کوي:

خپلـه لـور څـه چې لا زویـه مې هم نـه شتـه
خـو لیـده اوربـد شـي غـم محکـم د لونـو
۲۳: ۱۳۸

په دې توګه پروفیسر تقویم الحق کاکاخېل دا خبره ردوي چې علي خان دې محمد علي خان د افضل خان زوی او اشرف خان هجري لمسی او په قام خټک وي.

همداراز فاضل استاد پوهاند رشتین هم ورته خټک وايي، دی په دې اند دی چې علي خان اصلاً حسن علي خان دی چې د خپل ورور سعد الله خان له وجې جلا وطن کړی شوی او بیا ده په اشنغر کې استوګنه اختیار کړې ده، په دې برخه کې دغه بیت د نورو بیتونو ترڅنګ د دلیل په توګه وړاندې کوي:

زه یـو لـوغړن یـم خوارخسـته جـلا وطـن یـم
هسـې ارزومـن یـم سـر کـړم سـپک تـر ګیاهـه
۲۳: ۱۴۵

د دوی په خیال علي خان اصلاً د سرای اکوړه دی او د یو مسافر په توګه اشنغر (هشتنغر) کې یې ژوند تېر کړی دی.

خو پوهاند رشتین په خپل اثر (د پښتو ادب تاریخ) کې بیا یو بل نظر وړاندې کوي او وايي: ((علي خان خوشنوا بلبل او یو نامتو ادیب دی، د افضل خان زوی او د خوشحال خان کړوسی کېږي. علي خان په پښتو کې یو ورړوکی قیمتي او خوندور دیوان لري. مضامین

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې اکثر عشقي او تصوفي دي ځينې اخلاقي او اجتماعي اشعار هم پکې پيدا کېږي. علي خان يو عالم سړی و دده په ديوان کې ډېر علمي اصطلاحات شته، دی په خپل ټبر کې د شهرت خاوند دی او ډېر وروستني شاعران يې د اشعارو ستاينه کوي.))

او بيا د شمس الدين کاکړ نظر د علي خان په اړه داسې وړاندې کوي:

((د علـي خـان پـه رنګـين شـعر کـه خبـر شـې
هـــر غـــزل يـــې دی تنهـــا ديـــوان د شـــعر))

۱۸: ۸۰

همدا ډول د تيری اکمل اسد آبادي هم دا ادعا لري چې علي خان ختک دی هغه وايي د علي خان له نوم سره ختک توری دومره ګډ شوی چې که څوک يې د جلا کولو کوښښ وکړي او ترې يې اوشوکوي نو د علي خان نوم به نيمګړی پاتې شي.

څرنګه چې زياتره پوهان علي خان ختک ګڼي همداراز يو ډېر شمېر ددې خبرې مخالفت کوي چې تر ټولو لوی مخالف يې عبدالحليم اثر افغانی دی، دی د نورو خبرو په ترڅ کې داسې وايي:
((... حالانکه علي خان نه ختک دی او نه محمدزی بلکې درانی دی.))

۳۱: ۱۴۷

قاضي صاحب (اثر افغاني) وروسته له نورو تحقيقاتو خپل لومړنی نظر پرېږدي او وايي: ((زه اثر افغان وايم چې د علي نوم احمد خان د پلار نوم يې عبدالکريم خان د نيکه نوم يې عبدالرحمن په قام موسی خيل محمدزی دی، د چارسدې کلي په څلورو کندو مشتمل دی، ديوي کندی نوم، کندی موسی خېل دی، داکورنۍ په چارسده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلی کې په موسی خېل کندی کې اوسېدله - روستو چې د علي خان نیکه عبدالرحمن خان د عرفان اوطریقت لوړه مرتبه حاصله کړله نود خپل قوم او قبیلې روحاني پېشوا ووتو.))

۳۲: ۴۲

همداراز ښاغلی کامل هم دا خبره ردوي چې علي خان ختټک دی؛ وایي: ((هرکله چې موږ سره د علي خان (ختټک) منګل اتمانخېل یا له کومې بلې قبیلې کېدو د لیکلي سند یا مسلسل روایت په بنا څه ثبوت نه شته نو باید چې ترڅو مو نور شهادت نه وي موندلی نوکه قبیله یې ارومرو فرض کوو مهمنزی یې ګڼو ځکه چې د هشتنغر اکثر خلق مهمنزي دي.))

۲۸: ۱۲

ددې خبرې رد پوهاند رشتین په اووه ورځنۍ رهبر مردان ۱۵/۸/ اپرېل سنه ۱۹۵۷ او اووه ورځنۍ رهبر پېښور ۳۱/۱۵/۶ اکتوبر سنه ۱۹۵۷ کې په مسلسل ډول کړی دی؛ وایي: ((که د کامل صاحب په خیال د یو شاعر لپاره د خپل ځان او قوم ښودنه لازمي وي نو خو باید چې علي خان خپل کلی، ځای او قوم په واضح ډول ښودلی وي چې هډو دا لانجه غوڅه وی. د علي خان په دیوان کې چې څه رنګ د سرای او ختټکو ذکر نه شته داسې په کې د اتمانزو او مامنزو ذکر هم نه شته نو بیا په څه دلیل کامل صاحب دی له پخواني روایت څخه را اوباسي او بې سنده یې په بل ځای او خېل پورې تړي.))

۳۰: ۱۲

په دې توګه پوهاند رشتین غواړي چې علي خان دې ختټک وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرزاخان قندهاري چې د علي خان زمانې ته نږدې دی، هغه يې اخونزاده ګڼلی؛ لکه چې وايي:

علــي خــان اخــونزاده هــم ښــه شــاعر دی
ښـــــه آبــدار در يــې بــه ژبــي تويــول

قنبر علي د علي خان په غزل تضمين کړی او دی يې ممنزی ګڼلی دی:

دا څـــــواب قنبـــر د علــي خــان ممنــزي کـا
ښـه چـې دا نيـولې هنـډه سـر د کبـرژن شـوه

خو دا چې قنبر علي علي خان ممنزی ګڼلی دی کوم ثبوت نه لري. بايد ووايو چې د علي خان په ديوان کې د قنبر علي ذکر نه دی راغلی او نه مونږ د علي خان او قنبر علي تعلق څرګندولی شو.

سرمحقق زلمی هېوادمل يې مامنزی ګڼي، دی وايي: ((علي خان مامنزی د پښتو يو رنګين بيان شاعر تېر شوی دی؛ علي خان د ديوان خاوند او د هندي سبک په پيرو شاعرانو کې ولاړ سړی دی. ده د هشنغر په سيمو کې ژوند کړی دی؛ دده مزار د هشنغر د چارسدې د پړانګو په هديره کې پيدا شوی دی. پردې مزار چې کومه لوحه پيدا شوې ده، د هغې لوحې له مخې علي خان په ۱۱۵۰ هـ ق کال کې زوکړی او په ۱۱۹۵ هـ ق کال مړ دی. دده ديوان درې ځله په پېښور او لاهور کې چاپ شوی دی. دا يې هم د يوې ښکلې غزلې څو بيته:

ای د زړه ســلطانه تــه د زړه ســلطان د چــا يـــې
ستـا رنځـوران ډېـر دي يـاره تـه درمـان د چـا يـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اور د اننګـو دې څـوک پاخـه کـړه څـوک دې وسـوه
ای پـه مـخ آتشـه سـود د چـا نقصـان د چـا يـې»
۲۹: ۲۱۸-۲۱۹

سرمحقق هېوادمل په خپل اثر د «د پښتو ادبياتو تاريخ» کې د علي خان په اړه همدومره بحث کړی چې مونږ کټ مټ را واخيست دا چې په کوم دليل يې مامنزی ګڼلی ذکر يې دلته نه دی شوی. همداراز د زوکړې او مړينې کلونو په اړه يې هم نور څه معلومات نه دي وړاندې کړي.

په هر صورت سره له دې چې ډېرو پوهانو په دې اړه څېړنې کړې دي خو نه دي توانېدلي چې ټول په اتفاق علي خان د يوه ځانګړي قوم وګڼي بلکې هر چا بېل بېل قوم ته منسوب کړی دی او دغه مسئله ګونګه پاتې ده.

## ټاټوبی:

د علي خان د ژوند بله معما د هغه ټاټوبی دی، هغه د کوم ځای و؟ په کوم ځای کې زېږېدلی؟ دغه پوښتنې هم دومره په آسانه توګه نه شي ځوابېدلی، ځکه چې نه تاريخ د علي خان په اړه څه ويلي او نه ده په خپله دا لازمه ګڼلې چې د خپل ځان په اړه څه ووايي او خپل ټاټوبی څرګند کړي.

څېړونکو دده د ديوان له ګړدود څخه دا ثابته کړې چې علي خان د هشتنغر اوسېدونکی دی ځکه چې لهجه يې خالصه هشتنغرۍ ده او بله دا چې ده په خپلو اشعارو کې هشتنغر او جيندی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زيات ياد کړي دي او ورسره يې زياته مينه ښودلې ده له دې څخه داسې ښکاري چې ګوندې دی به د هشتنغر اوسېدونکی وي او هغه به يې اصلي ټاټوبی وي يا دا چې هلته به لوی شوی وي.

چې يار نه وينم دلې په هشتنغر کې
پټوم به له وطنه پسې سر مخ

نه پوهېږم زه د چا زړه څه له غولاوه شم
ښنلي مې ساده صافي اوبه دي د جيندي
۲۳: ۱۵۵

يا:

نه پوهېږم زه د چا په زړه ځکه غولاوه شم
ښنلي مې صفا ساده اوبه دي د جندي
۲۳: ۱۳

پروت وم په درياب د تحير کې چپو وړی
نه پوهېدم هېڅ چې اباسين وړم که جيندي
۲۳: ۱۵۷

کېدای شي هشتنغر - جيندی دده اصلي ټاټوبی وي او دا هم کېدای شي چې اصلي ټاټوبی يې کوم بل ځای وي او دلته په هشتنغر کې لوی شوی وي ددې معما د حل لپاره نورې لارې نه شته مګر دا چې دده د ديوان لهجه ووينو، ښاغلی عقاب خټک يې لهجه د خټکو بولي او ډېر مثالونه يې له ديوان څخه راباسي چې اوس هم په خټکو کې معمول دي؛ لکه: لوستونيه (لوستونکيه)، لېږدېدل (کډه کول)، پور (قرض)، دوک (تکليف)، ډبلې (ډبې)، روزی نه شوې (نصيب نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې)، پژان (میلوګان) لونم (نولم)، سنکده (ساه رغرېدل) او داسې نور، خو قاضي عبدالحلیم اثر یې اصلي ماموزنزی واله ګڼي.

امکان لري د لهجې له مخې د علي خان قوم او ټاټوبې څرګند شي خو دا هم له امکانه لرې نه ده چې د یو چا د زېږېدو ځای یو او د اوسېدو ځای یې بل وي، په یو ځای کې اوسېږي خو هغه یې اصلي وطن نه وي، یو ګړدود (لهجه) کوي خو هغه یې اصلي ګړدود نه وي. داسې ډېر پېښ شوي دي مثلاً ددغو دوولسیزو جګړو په ترځ کې افغانان خواره واره شول ځيني یوې خوا او ځيني بلې خوا ته مهاجر شول. ډېر افغان ماشومان په نورو هېوادو کې لوی شول یا لږ تر لږه بل ولایت ته وکوچېدل او په دې توګه د زیاترو افغانانو ګړدود حتی ژبه بدله شوه، نو کېدای شي علي خان هم همداراز وي خو دا هم کېدای شي چې همدغه (هشتنغر - جینډي) یې اصلي ټاټوبی وي.

په هر صورت اوس همدومره پوهېږو چې علي خان په خپلو شعرونو کې هشتنغر او جینډی یاد کړي دي.

اشـــــــنغر شـو کـان دزلفـو د دلبـرو
ځکـه نشـته پـه داملـک دکـان د مشـکو
۲۳: ۱۳۵

پروفیسر تقویم الحق کاکاخېل داسې نظر لري چې علي خان پس له ډېره صبره له وطن نه د خپل محبوب د لېدو لپاره پېښور ته تللی خو څرنګه چې هغې پرې پروا نه ده ساتلې بېرته خپل وطن ته راغلی دی؛ ددې موضوع په اړه لاندې غزل وړاندې کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه كـه پوهېـدی چـې دې پـه مانـه شـــــته وتنـه
نـه بـه وم پـه تـا پسـې وتلـی لـه وطـــــنه

زړه وړه خـو آسـان دي دلبـري مشـكل هــــنر دی
ګرانــه ده بــې حــده د آشـنا د زړه ساتــــنه

ډېـره آشـنايې څـه بيـا زر هېـره آشـــــــنايي څـه
ښـه ده اشـنايي خـو بـارې غـوارې پـت پالـــنه

ډېر ټګـان كـه اورم يـا يې ويـــــــنم لكه تـه يې
نـه كانـدي دا هسـې څـوک لـه نيكـو جارېستنه

پـروت پـه دركـې سـتايم كـه رټـې مـې هـم دې سـتايم
شـاه لـه بايـده نـه دي د رعيـت عـالم وهـــنه

يـا زه پـه سـودا د مينـې نـه پوهېـدم زيـان شــــوم
يـا خـو پـه دنيـا كـې آشـنايي نـه ده سودمـــنه

مـا درپسـې وچ پـه وچـه نـو د صـــــــــورت وچ كـړ
تـا راتــه يــوه خـــــــبره و نــه كـړه نوجنـه

سـتا د در ملنـګ شـوم چـې دې بـدې شـومه څنـګ شـوم
خوښ مـې دي بېلتـون لـه نـا چـارۍ كـړو كبـــرژنه

دا ګومـان خـو مـه كـړه چـې بـه ژر تـر ژره روغ شــــم
سـتـا د غـم شـتـۍ څـه هسـې نـه ده برسـېرنه

خـوښ يـم كـه څګـر زمـا د يـار بـــڼو ســـــوری كـړو
ښــــه وشـوه دا كـور و خـالي پـاتې لـه روزنـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شـــــپول د رقیبـانو دی چاپـــــــېر تـر ګلعـذارو
هـر یـو ځـای پـه ځـای را پـورې نښـلي لکـه غنـه
مـــرم پـــه رنـــځ د هجـــر تـــا خبـــر زمـــا وانـــه خســـت
عـذر لـه را مـه شـي چې را نـه غلـي پـه پوښـتنه
لاس د کـــرم ورکـــړې حقیقـــي محـــــبوبه وار دی
ډوب شـه علـي خـان د مجـازي عشـق پـه بوختنـه
۲۳: ۱۳۲

په دې غزل کې د هشتنغر یا د پېښور خاص ذکر نه دی راغلی خو دا خبره سمه ده چې دی د خپلې معشوقې په خاطر له خپل وطن څخه بهر تللی دی. دا چې چېرته تللی په دې غزل کې دا ذکر نه شته.

په (پښتو شاعري)اثر کې هم داسې راغلي چې د علي خان کورنۍ له افغانستان نه پېښور ته راغلې وه، دلته له دغه اثر څخه همدغه موضوع کټ مټ را اخلو: ((علی خان کے خٹک ہونے پر جمہور کا اتفاق ہے تا ہم جدید محقیقن کا خیال ہے کہ - علي خان منگل قبیلے کا فرد تھا ، اس کے والدین افغانستان سے وادی پشاور میں اُتر آئے تھے. بعض کی نزدیک علی خان کا گھرانہ قندھار سے احمد شاہ درانی کے ساتھ وادی پشاور میں آیا اور ھشت نگر کا حاکم اعلی بنادیا گیا))

۴: ۲۱۸

دوی وايي چې د علي خان والدین له افغانستان نه پېښور ته ورغلل، د ځینو په نظر د علي خان کورنۍ له قندهاره احمدشاه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دراني سره يو ځای وادي پشاور ته راغلل او هشت نګر (هشتنغر) کې مېشت شول، چېرته چې د علي خان پلار يې د هشت نګر حاکم کړ.

## د علي خان پلار:

دا چې علي خان د چا زوی دی، پلار يې څه کار کوه دا يو بل لاجوابه سوال دی چې تحقيق او څېړنې ته اړتيا لري.

علامه عبدالحی حبيبي ليکلي دي: ((علي خان د خوشحال خان د کورنۍ يو مشهور اديب چې د کال ۱۱۵۰ هـ پورې ژوندی و، دی د افضل خان خټک زوی او د اشرف خان هجري لمسی او د کاظم خان شيدا ورور و.))

۷: ۲۵۷

پوهاند صديق الله رشتين هم په دې اند دی چې علي خان د افضل خان خټک زوی دی، دی وايي: ((علي خان د خټکو د بڼ يو خوشنوا بلبل او يو نامتو اديب دی، د افضل خان زوی او د خوشحال خان کړوسی کېږي.))

۱۸: ۸۰

قاضي عبدالحليم اثر افغاني داسې نظر وړاندې کوي:

((او زه اثر افغاني وايم چې د علي خان د پلار نوم عبدالکريم خان د نيکه نوم عبداالرحمن خان په قام موسی خېل محمدزی دی.))

۳۲: ۴۲

نو په دې ډول د علي خان د پلار نوم ځکه څرګند نه شو چې لومړی نظر د علامه حبيبي و او د پروفيسر سيد تقويم الحق کاکا خېل له خوا په مستندو دلايلو رد شوی چې ما د علي خان د قوم تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



عنوان لاندې کتې متې را اخیستې دی.

او د ښاغلي اثر افغاني نظر دلیل ته اړتیا لري ځکه خو وایو چې د علي خان د پلار نوم معلوم نه دی.

ښاغلی د ټیري اکمل اسد آبادي وایي: ((د علي خان درې تصنیفات قلمي صورت کې زما نظر لاندې راغلي دي، هغو درېواړو کې علي خان ختېک لیکلی شوی دی او د هغه د پلار نوم پکې صفا لیکلی دی او چې کومه قلمي نسخه د مضمون لیکلو په وخت زما مخکې ده هغه کې هم ختېک لیکلی شوی دی.))

۱۱: ۳۲۸

ما دغه (اووه ورځنۍ دوران پېښور) ترلاسه نه کړه خو داسې ښکاري چې اسد آبادي به هم د علامه عبدالحی حبیبي او پوهاند صدیق الله رښتین ملګری او هم نظر وي.

په دې لړ کې ښاغلي عبدالکافي ادیب داسې لیکلي دي: ((د علي خان اصلي شخصیت رابرسېره کولو په لړ کې اول دا سوال پورته کېږي چې د علي خان خاندان د کوم ځای اوسېدونکی و؟ دا د پښتو ادب بد قسمتي ده چې د علي خان غوندې ستر شاعر د پلار نوم چا تراوسه پورې لیکلی نه دی او نه یې خاندان چا معلوم کړی.....))

۳۳: ۱۱۱

که هر څومره محققینو څېړنې کړې دي خو بیا هم دا ترې ثابته نه شوه چې علي خان څوک و، کله وفات شوی دی، اولاد لري او که نه؟

مونږ اوس له دې ټولو تېرېږو او صرف وایو چې علي خان د پښتو ژبې یو نامتو عالم ادیب او روحاني، تصوفي شاعر دی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند يې له ډېرو کړاوونو ډک ښکاري دا چې د مينې په برخه کې تر هر څه زيات کړېدلی دی نو وايو چې علي خان که هر څوک دی خو د پښتو ادب د کلاسيکې دورې تر ټولو وروستنی په مينه کې دردېدلی، کړېدلی او وريت شوی شاعر دی. چې هر څه يې په چوپه خوله زغملي دي.

اولاد:

دا چې علي خان اولاد لري او که نه، په دې اړه دوه ډوله نظريات موجود دي:

لومړۍ نظريه: علي خان صرف يو زوی درلود هغه هم په کوچنيوالي کې مړ شوی دی. دغه خبره له لاندې شعر څخه ښه معلومېږي:

زړه مې په پلکونو د هجران شو آموخته
لالکه سندان شو په تاوونو کې پخته
ونه د صورت مې ځکه وخته له برمه
اړ په کې يو نيله وه هغه هم اوخته
هجر د غياث چې زما تري الغياث دی
پروت مې په زړه پاس دی چې پرې سوزم پنج وخته
دا مې د خوږ زړه قوله وښکی شي پرې پوهېږم
يا يې سره ټوپۍ ده چې ترې خېژي په تخته
خود له عشقه سوی وم هلک زويه ايرې کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اور لــــه لـــړ بخـــري نـــه زر لګـــي پـــه ســـوخته
زه يـــې هجـــر وســـوم د پتنـــګ پـــه دود خولــه پټــه
نـــور عـــالم دي كـــوكې پـــرې وهـــي لكـــه فاختـــه
خداى كـه زما سوى رضا كـه چې مې دوستان دي
مـــه شـــه د يـــوه زويـــه د مـــرګ پـــه غـــم اختـــه
صبر زغـم چې نـه كـا بې چـاره مهجـور بـه څـه كـا
خـــوار تـــه بـــې لـــه هجـــره واړې لارې دي دوختـــه
ما كـه څوک لېدلى چې پـه تېښـته لـه غـم خلاص شـه
زه بــــه نرغـــــونى لـــــه بېلتانـــــه وم ګرېختـــــه
ډېـــره مـــوده پـــروت وزړه د زلفـــو كشـــاكش كـــې
مـــزى د امېـــد يـــې عاقبـــت شـــو ګســـېخته
غـم چې شـو همـدم د علـي خـان كـم بـه يـې نـه كـا
شـعر كـه پښـتو كـا كـه فارسـي ګـوهر رېختـه
۲۳: ۴۹

له پورته غزل څخه دا جوتېږي چې د علي خان دغه يو زوى و، هغه هم مړ شوى و دده د زوى نوم غياث و چې علي خان يې په مړينه ډېر ويرجن شوى دى، په ځانګړې توګه كله چې د هغه له سره سره توپۍ پر تخته لرې كوي، علي خان داسې انګېري؛ لكه چې دا سره توپۍ د غياث له سره نه بلكې د علي خان د زړه سر لرې كوي او غوڅوي يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو قاضي عبدالحلیم اثر افغاني داسې انګېرې چې دغه غیاث د علي خان زوی نه دی بلکې دی د غیاث الدین د سعادتمند خان او فیض الله خان په نمسو کې راځي او لکه څنګه چې د دوی نیکونه شهیدان شوي دي دغه شان غیاث هم د نیکونو په لاره تېر شو.

۳۴: ۲۳۶

او په دې ډول اثر افغاني ددې خبرې په ثبوت کې لاندې شعر وړاندې کوي:

دا هـم شـکر چـې سـړی پـرې بـدنام نـه دی
خـو بنـده پـه واک د خپـل کردګـار تېـر شـو
جبـــر نـــه دی پـــه دا قبـــر بویـــه صـــبر
خـــو لمســـی و د نیکونـــو پـــه لار تېـــر شـــو
د بلبـــل اســـره خـــوره شـــوله د ناســـتې
چـې د بـاغ پـه څنـګ راتـه پـه چغـار تېـر شـو
اوس بـه څـه پـورې شـماره یـا مرثیـه ښـکوم
چـې یـې عمـر د شـمارې و پـه شـمار تېـر شـو
یـــوه ورځ بـــه دې غـــږ وشـــي علـــي خانـــه
چـــې فلانـــی هـــم لکـــه ګـــرد و غبـــار تېـــر شـــو

۲۳: ۷۸

ډاکټر اقبال نسیم خټک وایي چې دغه یقیناً یوه مرثیه ده خو د چا نوم په کې نه دی ذکر شوی دا چې علي خان به دا مرثیه غیاث ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویلې وي یا کوم بل چا ته دا یو قیاس دی نو قیاس د سند درجه نه لري په دې توګه مونږ پورته مرثیه غیاث الدین ابن سیف الدین لپاره نه شو دلیل کولی.

دویمه نظریه: که څه هم د علي خان په یوې مرثیې کې د غیاث په نوم د هغه زوی ګڼلی شوی چې علي خان یې په مړینه سخت ویر کوي خو بیا په یوه بل غزل کې دا اعتراف کوي چې بالکل اولاد نه لري:

خپله لور څه چې لا زویه مې هم نشته
خو لیده اورېد شي غم محکم د لونو

۲۳: ۱۳۸

له پورته بیت څخه داسې ښکاري چې علي خان هېڅ اولاد نه درلود یا دا چې ددې غزل تر ویلو پورې یې اولاد نه درلود دا هم ویلی شو چې ددغه غزل تر لیکلو به د مخه غیاث مړ شوی وي، ځکه خو یې ویلي چې نه زوی لرم او نه لور.

په هر حال که علي خان اولاد درلوده نو هماغه غیاث به و چې کوچنی مړ شوی دی او بس، کېدای شي د اولاد ښه او بد یې نه وي لیدلي.

علي خان هم یو عجیب کلک غیرتي پښتون و سره له دې چې ده هېڅ اولاد نه درلود خو بیا یې هم له خدای څخه غوښتنه کړې چې لور ورته ورنه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله لور څه چې لا زویه مې هم نه شته
خو لیده او ریده شي غم محکم د لوڼو

***

خدایه ته ترې علي خان له امن ورکړې
شته دي ډېر اوږي لیوال عالم د لوڼو

د پښتو همدا شان کلتور دی، د لور ساتنه ورته ډېر درونډ کار ښکاري که هر څومره یوه لور ښه خوی او اخلاق ولري بیا هم دوی ته د شرم وړ وي. بده خو یې لا پرېږده چې څوک یې ښه هم ووایي نو پرې بده اغېزه کوي.

په لاندې غزل کې علي خان د لوڼو په اړه د پښتنو احساسات په ښکاره توګه ځلولي دي:

بل یو غم به نه وي زیات له غم د لوڼو
واقعې چې چوي زړه الم د لوڼو
ډېر عالم یې د سیالۍ له برمه پرې یست
خدای دې پل په هیڅ نه کا سم د لوڼو
که په خوی ملایکه حوره په رنګ وي
هم رښا ګڼه رښتیا تور تم د لوڼو
بد خو پرېږده که یې ښه له چا نه واورې
دغه مدحه ده بېشکه ذم د لوڼو
که د نر پلو پرې ګرم وي په خوبښۍ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـر پـه نـره بـه مـور پـلار كـړي ګـرم د لوڼـو
واخيسـت مـه شـه د دوی مهـر پـه زرګونـو
كـه څـوک تخـت مـومي پـه نـيم درم د لوڼـو
شـرم ګيـرو تـه يـې لـږ غمونـه ډيـر وي
وي بـې شـرمو تـه ډيـر لـږ مـاتم د لوڼـو
پـه نعـم الخـتن الحـد كـې غـوږ كـړه
چـې حـديث پـه دي حـديث كـه تـم د لوڼـو
خپلـه لـور څـه چـې لازويـه مـې هـم نشـته
خـو ليـده اوريـد شـي غـم محكـم د لوڼـو
خدايـه تـه تـرې علـي خـان لـه امـن وركـړې
شـته دي ډيـر اوږي لېـوال عـالم د لوڼـو
۲۳: ۱۳۸

دا يوه طبيعي خبره ده چې كومه مسئله په يوه كلتور كې جدي وي د ټولنې په ټولو غړو اغېز لري، د لوڼو حقوق په اسلام او پښتو دواړو كې خوندي دي. خو هغه مسايل چې په غيرت او ناموس پورې اړه لري اسلام او پښتو دواړو كې ورته جدي پام اړول شوی دی.

دا چې علي خان له لور څخه امن غواړي دا ددې معنا نه لري چې ګوندې لور ښه نه وي بلكې د لور ساتل په ټولنې كې، د هغې هر ګام ته د ټولنې پام او داسې نور چې د پښتو لپاره د ننګ خبره ده نو ځكه وايي چې لور ونه لرم نو ښه ده.

## تحصيل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې علي خان به په رسمي ډول تحصيل کړی وي ددې خبرې لپاره کوم خاص سند نه لرو خو د هغه له ديوان څخه داسې معلومېږي چې دی يو لوی عالم او اديب دی، د دين يو ښه عالم دی، داسې برېښي چې د علومو تدريس يې هم کاوه، د تفسير، حديث، فقهې، صرف او نحوې، منطق، فلسفې، هيئت او مناظرې په ميدان کې يې پوره لاس درلود.

کله چې مونږ دده ديوان په ځير سره وګورو نو د پوهې کچه يې په پوره ډول سره را څرګندېږي، هم د معنا او مفهوم په لحاظ او هم د لفظ او جملو د ترکيب په لحاظ، کوم راز بدايع او صنايع چې ده استعمال کړي همداراز تشبيهات، کنايات، مجاز او استعارې، په دومره ظرافت سره کارول بې له دې چې يو شاعر پوره پوهه ولري د دې ډول علومو انعکاس هغه هم د شعر په ژبه له امکانه لرې دی. ځکه خو وايو چې علي خان په يو نه يو راز شخصي يا عمومي ډول علم تر لاسه کړی دی.

علي خان په خپل کلام کې دا اعتراف کوي چې د محمدي صاحبزاده او جامي پيرو دی:

زه پيــرو محمــدي يــم هم تابع د صاف جامي يم
په دا دواړو پسې ما ده ځــکه کــړې اقتــدا دا

څرنګه چې علي خان ځان د محمدي صاحبزاده پيرو ګڼي نو د هغه حق ادا کولو لپاره د خپل مرشد او پيرو له غزلونو او شعرونو څخه پوره ګټه اخلي، همداراز په پورته شعر کې علي خان ځان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جامي پيرو هم ګڼي او وايي چې ما محمدي او جامي پسې اقتدا کړې ده:

د جنـت د باغ قـمري دی که شـېرين زبان طــوطي دی
يا بلبــلِ سيـــــلاني دی که جامي دی ډېر شيـدا دا
زه پيـــرو محمــــدي يـم هم تابع د صاف جامي يم
پـه دا دواړو پســې مــا ده ځـــکه کړې اقتـــدا دا
علي خان چې په پښتـــو کړه د جـامي صاحب بيتونه
ګويا ښکليو جامې وښکې نوې اغـــوندې زيبـا دا
۲۳: ۴۰

له دې بيتونو څخه داسې ښکاري چې علي خان د عبدالرحمن جامي دري بيتونه په پښتو نظم ژباړلي دي او هغو ته يې نوی رنګ ورکړی دی.

سربېره پردې علي خان په روحاني علم کې مرشد درلود، د هغه په شعرونو کې دې اړخ ته هم څه نغوتې شوې دي خو افسوس دی چې د ژوند د نورو حالاتو په شان په دې اړه هم بشپړ او دقيق معلومات نه لرو، خو په يوه بيت کې يې د صاحب يادونه په دې ډول کړې ده:

دا هغـه قسـم غـزل دی چـې صـاحب وې
لــه خــاطره مـــې آرام او جميعـــت لاړ
۲۳: ۷۵

ددې بيت په اړه پوهاند رشتين داسې نظر لري چې دی يې له شيخ رحمکار سره د عقيدت په خاطر زيارت ته لېږلی دی ځکه چې علي خان خټک و او خټک اکثراً د شيخ رحمکار مريدان دي، مګر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلی کامل د دې خبرې مخالفت کوي او د میا تقویم الحق کاکاخېل په اند دغه غزل به يې صاحبزاده محمدي ته ليکلی وي.

میا تسنیم الحق کاکاخېل وايي چې: ((له خاطره مې آرام او جمیعت لاړ)) دا مسره د محمدي ده او علي خان په دې تضمین کړې دی. صاحبزاده محمدي د هغه پیرو و، په زړه کې يې دا راغله چې هسې نه هغه خفه شي نو ورپسې وايي :

تبعیـــت دی د تمثیـــل وا همـــه نشـــته
ستـا بارګـاه لـه پـه دا هســې روایـت لاړ
۲۴: ۰

تسنیم الحق کاکاخېل چې کوم نظر ورکړی او ویلي يې دي چې: ((... صاحبزاده محمدي پیرو و)) زما په خیال دا به د کاتب تېروتنه وي ځکه چې صاحبزاده محمدي د علي خان پیرو نه و بلکې علي خان د محمدي پیرو و لکه پخپله علي خان چې ویلي دي:

زه پیـرو محمــدي یـم هم تابع د صاف جامي یم
په دا دواړو پسې ما ده ځـــکه کــړې اقتــدا دا
۲۳: ۴۰

او دا چې (له خاطره مې آرام او جمیعت لاړ) د محمدي مسره ده شاید تسنیم الحق کاکاخېل په کومې نسخې کې لیدلي وي خو په چاپي نسخې کې دا مسره نشته، ځکه خو مونږ صاحب و نه شو پېژندلی.

روهي ادب کې راغلي ((قیاساً ویلی شي چې په دې زمانه کې د ځوکنو حضرت میا عمر صاحب د پښتونخوا روحاني پېشوا و هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې هغوی د شعر او ادب شوق لرلو نو داسې معلومېږي چې علي خان د طریقت بیعت هم د هغه نه کړی وي.)) او بیا د علي خان هغه بیت په لږ څه توپیر داسې راوړي:

دا هغـــه غـــزل دی چـــې صـــاحب وي
لـــه خـــاطره مـــې آرام او فراغـــت لاړ

۲۱: ۴۰۱

په دې اړه پروفیسر محمد نواز طایر داسې څرګندونه کړې ده:

((ددې مصرې تطبیق د میا عمر صاحب په کلام کې هله کېدای شي چې د هغوی په کلیاتو کې ددې غزل نشاندهي اوکړي، خو هر کله چې د هغوی د کلیاتو مجموعه نه ده موجوده، په دې سبب دا دعوا تصدیق طلبه ده.))

۲۱: ۴۰۱

او دا راز ویلی شو چې د صاحب نه میا عمر صاحب مراد نه دی. زه فکر کوم چې د صاحب نه مراد هماغه صاحبزاده محمدي دی نه کوم بل څوک، په هر حال دغه خبره هم تر بیا څېړنې یوه معما پاتې شوه.

دا چې علي خان د چا شاګرد یا پیرو و؟ دا خبره پرېږدو راځو دې ته چې دی څومره لوی عالم و، دده د علم کچه دده په اشعارو کې معلومولی شو.

راځئ چې په هره برخه کې دده له دیوان څخه بېلګې را واخلو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



# علوم

علي خان په بېلابېلو علومو کې لاس درلود لکه فقه، عقاید، حدیث، تفسیر، صرف، نحوه، منطق، فلسفه، هیئت، مناظره او داسې نور، ده تر هر څه زیات هغه علم خوښوه چې دیني هدایت پکې وي، اهل علمو ته سلام وایي په ځانګړې توګه هغه عالمان چې د خدای جل جلاله د هدایت پیروان وي :

اهـلِ علمـو تـه سـلام د علـي خـان دی
خصوصـــاً بیـــا مـــن یتبـــع الهـــدا
۲۳: ۳۳

دلته کوښښ کوو چې د هر علم په اړه د علي خان له دیوان څخه بېلګې را واخلو:

۱. قرآن او تفسیر:

قرآن چې د مسلمانانو مؤمن به کتاب دی او په قرآن باندې پوهېدنه د هر چا د وس کار نه دی په تېره بیا د هغه له تفسیر څخه په ځانګړو ځایونو کې کار اخیستل د بشپړ علم او پوهې پایله ده چې دا کار د علي خان په اشعارو کې په ډېره ښه توګه لیدل کېږي.

دا یو حقیقت دی چې د یو بشپړ آیت یا فقرې راوړل په خپل کلام کې له چا څخه د اورېدو یا اقتباس په صورت کې په دومره کچه نه شي کېدای، له دې نه په یقین سره ویلی شو چې علي خان د قرآن

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تفسیر او تشریح ډېر ښه پوهېده، د بېلګې په توګه د هغه لاندې څو بیتونه وړاندې کوو:

آخر لوټ کړو علي خان سورو د هجر
که یې څو په ځان پوکلو لإیلاف
۲۳: ۱۰۶

علي خان چې مع العسر یسرا لولم
زړه په دا به ښه کوم ولې تر کومه
۲۳: ۱۲۰

وابتغوا الیه الوسیله را په یاد کړه
راشه علي خانه ورته ګوره وسیلې
۲۳: ۱۵۲

د یاری مزی به لا انفصام لها و
که د ښکلیو له جانبه یې غبرګون وی
۲۳: ۱۵۶

حمد الله لولم درود ورسره لا هم
د سودا درود مې هم لکه اعدام لاړ
۲۳: ۸۴

غاړه خلاصه کړه ناصحه بیا مې پرېږده
په استازي نور څه نشته بې ابلاغه
۲۳: ۱۰۵

په لومړۍ بېلګې کې (لإیلاف) څخه قریش سورت مراد دی، په دې بیت کې اضافي مؤکده تشبیه کارول شوې، (هجر) مشبه او (سورو) مشبه به ده چې له آره ترکیب د هجر سورو دی، سربېره پردې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تلمیح صنعت هم پکې راوړل شوی چې هغه د قرانکریم آیت (لإیلاف قریشٍ) ته اشاره ده چې د نزول شان یې دا دی:

((په مکې کې غله او نور خواړه نه پیدا کېدل نو ځکه د قریشو داسې عادت و چې په هر کال کې به دوی دوه ځلي سفر کوه د ژمي په وخت کې د یمن په لوري چې تود دی او په اوړي کې د شام په لوري چې یخ او زرغون ملک دی. د هر ځای خلکو به دوی د اهل حرم او د بیت الله د خادمانو په نامه سره پېژندل او د دوی به یې ډېر عزت، احترام او خدمت کوه او د هغوی ځان او مال ته به یې لاس نه غځوه نو ځکه دوی به له دې تګ او راتګ څخه په زړه پورې ګټې اخیستلې او بیا په امن، اطمینان او ډاډینه (سکون) سره په خپلو کورونو کې کېناستل، خوړل او خورول به یې. د حرم په شاو خوا کې به د غلا، داړې، لوټ او تالا شورماشور و خو په خپله په حرم شریف کې به د هغه د احترام په سبب کراره کراري وه او د قریشو خلکو په ډېرو هوسایېو (آرام) سره خپل ژوندون تېروه نو د همدې انعام تذکره، یادونه دلته شوې ده.))

۱۷۶۴ :۱۳

په دویمه بېلګه کې(مع العسر یسرا) (د الانشراح) (الم نشرح لک صدرک) سورت لومړي آیت ته اشاره ده یعني له سختۍ سره آسانتیا شته؛ په درېیمه بېلګه کې (وابتغوا الیه الوسیله) د (المائده) سورې ۳۵ ایت ته اشاره ده:

(یا ایهاالذین امنوا اتقوالله وبتغوا الیه الوسیلة و جاهدوا فی سبیله لعلکم تفلحون)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: ای مومنانو! له الله تعالی څخه ووېرېږئ او د هغه په دربار کې د کامیابۍ ذریعه ولټوئ او د هغه په لار کې جهاد کوئ چې کامیاب شئ.

۱۲: ۰

علي خان ځان ته خطاب کوي چې د الله تعالی دغه وینا په یاده کړه او په خپلې مینې کې د ستونزو د حل لپاره وسیلې پیدا کړه. همداراز څلورمې بېلګې کې د (البقره) سورې (۲۵۶) ایت ته اشاره شوې ده؛ ایت په دې توګه دی:

(لا اکراه فی الدین قد تبین الرشد من الغی فمن یکفر بالطاغوت و یؤمن بالله فقد استمسک بالعروة الوثقی لا انفصام لها والله سمیع علیم)

ژباړه: ددین په چارو کې څه زور او مجبورل نشته، سمه خبره له غلطو مفکورو څخه جلا کړای شوې ده اوس چې څوک له کوم طاغوت نه منکر شي او پر الله ایمان راوړي هغه یوه داسې کلکه اسره ونیوله چې هېڅکله ماتېدونکې نه ده او الله جل جلا له (چې هغه خپله اسره نیولې) د هر څه اورېدونکی او پر هر څه پوهېدونکی دی.

همداسې په پینځمې بېلګې کې د فاتحې سورې لومړي ایت (الحمدلله الرب العلمین) ته اشاره شوې او په وروستي بیت کې د یس شریف سورې ۱۷ ایت (و ما علینا الا البلاغ) ته نغوته شوې ده. یعنې پر مونږ نور مسؤولیت نشته بې له دې چې تاسې ته خبر درکړم نو علي خان وایي چې ای ناصحه خپل نصیحت وکړه او نور مې پرېږده ستا مسوولیت همدومره و او بس.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د علي خان په دیوان کې دا ډول بیتونه ډېر دي چې ایتونو ته
پکې اشاره شوې ده خو مونږ په همدومره بېلګو بسنه کوو.

۲. حدیث:

لومړۍ بېلګه:

څـه د نېکـو همرهـان دي یـو قـران دویـم حـدیث
چـې و حـق تـه رهبـران دي یـو قـران دویـم حـدیث
سـپر د هـرې خرخښـې دي د هغـې جهـان توښـې دي
هـم ښـیوې ددې جهـان دي یـو قـران دویـم حـدیث
سـتا د جهـل رنـځ بـه روغ کـا تـاریکي بـه دې فـروغ کـا
دواړه شـمعې د عرفـان دي یـو قـران دویـم حـدیث
هـر سـړی چـې پـرې عمـل کـا لـه ولیـانو بـه ځـان مـل کـا
تېـغ پـه لاس د مسـلمان دي یـو قـران دویـم حـدیث
تیـاره زړونـه نـوراني کـا د دیـن خـوار سـړی غنـي کـا
لـوی رهبـر د هـر انسـان دي یـو قـران دویـم حـدیث
۲۳: ۵۳

پورته غزل مونږ همدومره را واخیست، په ټول غزل کې د قرآن
او حدیث ګټې بیان شوې دي چې د قرآن او حدیث موضوع او مفهوم
ترې څرګندېږي او علي خان د دین د لوړ پوړو علماوو په کتار کې
دروي ځکه چې په قرآن کریم او احادیثو ډېر ښه پوهېده.

دویمه بېلګه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــه نعــم الخــتن الحــد کــې غــوږ کــړه
چــې حــديث پــه دې حــديث کــه تــم د لوښــو

پورته حديث د (نعم الختن الحد) داسې معنا لري يعنې ښه زوم قبردی چې لور مړه شي غم يې غوځ شي.

سربېره پردې علي خان په خپلو شعرونو کې ډېر احاديث لفظاً يا يوازې مفهوم يې په تشريحي ډول راوړی دی.

## ۳. صرف او نحوه:

صرف په لغت کې ګټې، فايدې، مصرف، لګښت، خرڅ او لګونې ته وايي خو د ژبپوهنې په اصطلاح کې صرف (مورفولوژي، ګړپوهه) د يوې ژبې د مورفيمونو د جوړښت د طريقو او د کلمو د ډولونو او حالاتو څېړنې او تشريح ته وايي.

پوهاند صديق الله رشتين يې داسې تعريفوي: ((هغه علم چې پکې د کلمو د ډولونو، حالتونو (تغيير او بدلون) ګردان او اشتقاق او د کلمې د نورو تشريحاتو په هکله بحث کېږي، د صرف علم دی.))
۱۹: ۴۴

نحوه په لغت کې لارې، طريقې، بڼې او طرز ته وايي او د ژبپوهنې په اصطلاح کې نحوه (syntax) د يوې ژبې د جملو، عبارتونو، فقرو او اصطلاحاتو جوړښت، اوډون او ډولونه تر څېړنې لاندې نيسي.

ډاکټر مجاور احمد زيار چې نحوه (غونډله پوهه) بولي؛ داسې وايي: ((غونډله پوهه د غونډلو، دغه راز د غونډونو (فقرو) او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګړنو (ایډیمونو) جوړېنت، اوډون او ډولونه تر کتنې او ویینې لاندې نیسي.))
۲۰: ۱۲۹

علي خان د صرف او نحوې په برخه کې هم خپل مهارت څرګند کړی دی چې څو بېلګې یې په لاندې بیتونو کې را اخلو:

هېڅ تمیز یې چا ونه کړ له ابهامه
هسې زړه زما له غمه مبهم وچاود
۲۳: ۶۴

دویمه بېلګه:

خلقو خو به وې چې پټ په فعل کې ضمیر وي
ما فعل جفا ولید څرګند ستا په ضمیر کې
۲۳: ۸۶

درېیمه بېلګه:

پېښ زیاتي خلات یم په مجلس کې د خوبانو
زه لکه حرفونه د الیوم تنسا هایم
۲۳: ۱۲۲

څلورمه بېلګه:

ښه مې منظور نه شو په منظر د خوش منظرو
لغوه مې عمل شو په مدخول د کافه مایم
۲۳: ۱۲۲

پینځمه بېلګه:

اضافت چې دې د مینې را ته وشو
ځای په ځای د غم صیغې شوې رامضافي
۲۳: ۱۰۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پورته بېلګو کې د ابهام ـ مبهم، فعل، ضمير، د اليوم تنساها حرفونه، ما (د نفې توری)، اضافت صيغې او مضاف صرفي او نحوي اصطلاحات او نښې نښانې دي.

په درېيمه بېلګه کې علي خان وايي چې زه د خوبانو په مجلس کې داسې يم لکه د عربي ژبې په تورو کې (اليوم تنساها) د عربي ژبې د قاعدې له مخې د اليوم تنساها توري هغه توري دي چې له نورو نه ګوښه پاتې شوي دي او علي خان خپل ځان له دې تورو سره تشبيه کوي څو توري چې يو ډول حکم ولري سره يو ځای کېږي يو لفظ يا يوه جمله ترې جوړېږي ترڅو اسان او په حافظه کې پاتې شي، په عربي ژبې او تجويد کې دا ډول کلمې ډېرې دي چې لغوي معنا نه لري يوازې سمبوليکه بڼه يې په پام کې نيول کېږي. د بېلګې په توګه د عربي ژبې د مضارع فعل نومځري چې: (أ- د متکلم مفرد مؤنث او مذکر لپاره، ن- د متکلم جمع مؤنث او مذکر لپاره، ي- د غايب مفرد، تثنيه او جمع مذکر لپاره، ت، د مخاطب مفرد او جمع او مذکر او مؤنث او غايب مؤنث لپاره) دي په يوه کلمه (انيت) کې يې راټول کړي دي.

همداراز په تجويد کې د ادغام (ن) ساکن د تورو لپاره د (يرملون) کلمه ټاکل شوې يعنې که د ((ی، ر، ل، م، و، ن) توري تر ساکن نون (نْ) يا تنوين ( ٍ ) وروسته راشي نو ادغام (نْ) و تنوين ورته وايي. همداراز د شمسي او قمري (ال) لپاره توري په کلماتو کې ځای شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴. منطق:

منطق په لغت کې خبرو کولو یا په ژبه د هغو خبرو راوړلو ته وايي چې مفهوم ولري او په اصطلاح کې هغه قانوني علم چې مراعاتول یې ذهن له فکري خطا څخه ساتي یا هغه قانوني اله چې مراعاتول یې د انسان ذهن له فکري غلطۍ څخه وساتي. دې علم ته ځیني پوهان فلسفي اله، ځینې ورته د فلسفي یا د نظري علومو یوه برخه وايي او ځیني نور یې له عملي او فلسفي علم څخه بهر یو علم بولي.

((علمی است قانونی که مراعات آن نګاه میدارد ذهن را از خطای در فکر.))

۱۶: ۲۱۶۶۱

لومړی بېلګه:

عنوانـــات دي دا ابیـــات معنـــون حکـــم
ښــه بــد ګــوره د محمــول او د موضـــوع

۲۳: ۱۰۴

د پورته بیت په اړه پروفیسر میا تقویم الحق کاکاخېل وايي چې دا موضوع او محمول منطقي اصطلاح ده چې په نحوه کې یې مبتدا او خبر بولي او حکم مبتدا ته خبر ثابتول وي. مطلب دا چې اشعار خو عنوانات دي او له معنا نه تعبیر د اصل حکم ثابتول دي نو که هغه ښه وي نو شعر هم ښه دی او که بد وي شعر هم بد دی پخپله په شعر کې څه خوبي یا بدي نشته.

۲۳: ۱۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



دويمه بېلګه:

هـر مـراد دې ورېم کـه نتيجـه زمـا وصـال شـي
پـور پـه دوارہ شـرطه د صـغرا او د کبـرا يـم
۲۳: ۱۲۳

په دې بيت کې بيا هم د منطق موضوع راغلې. (صغری) او (کبری) دوه مهم اصطلاحات دي. په منطق کې هر دليل درې برخې لري. لومړۍ ته صغری او دويمې ته کبری وايي، درېيمه برخه يې پايله (نتيجه) وي. که لومړۍ برخه (صغری) مثبته وي، نفي نه وي او دويمه برخه (کبری) عام حکم ولري. څه خاص حکم نه وي نو پايله به يې سمه راوځي.

لکه که مونږ ووايو چې علي خان شاعر دی او هر شاعر تخيل لري په دې توګه علي خان تخيل لري. نو لومړۍ جمله صغری مثبته ده، دويمه جمله کبری عامه ده نو نتيجه يې يقيناً سمه ده.

د بيت مطلب دا شو چې زه د محبوب د حکم مثبت ځواب ورکوم او د هغه هر حکم ورېم. د صغری او کبری دواړه شرطه اثبات او عموميت يعني ايجاب او کليت پوره کوم ليکن بيا يې هم پايله (وصال) نه راوځي يعني مثبته نه شوه.

په لنډه توګه ويلی شو چې محمول او موضوع، صغری او کبری د منطق کلمې دي، محمول او موضوع ته په نحوي کې مبتدا او خبر وايي.

عاريــت د معنــا مــتن ځکــه نــه کــړم
چــې غالــب نــه دی پــه مــا د فکــر جــوع
۲۳: ۱۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې بيت کې عاريت (له بل نه غوښتل يعني له بل چا الفاظ يا معاني نه پتهوم ځکه چې زما خپل فکر سېراب دی، وړی نه دی چې له نورو به سوال کوي) يو منطقي لفظ دی.

## ۵. فلسفه او هيئت:

فلسفه يوناني کلمه ده چې له فيلوس (دوست، ملګري) او سوفيا (حکمت) څخه رغېدلې ده او په اصطلاح کې د بشر د توان تر کچې د موجوداتو د حقايقو پوهې ته وايي.

پوهانو فلسفه په دوو ډولونو وېشلې ده:

۱- علمي فلسفه ۲- نظري فلسفه

د يادونې وړ ده چې هر علم ځانته فلسفې لري؛ لکه: رياضيه فلسفه، طبيعيه فلسفه، عاميه فلسفه، خاصيه متعاليه فلسفه،ذوقيه فلسفه، بحثيه فلسفه، فيضيه فلسفه او داسې نور.
۱۴: ۱۷۲۰۷

هيئت په لغت کې شکل، بڼې، صورت، د هر څيز حالت او څرنګوالي ته وايي او په اصطلاح کې هغه پوهه ده چې د افلاکو بڼې او د ځمکې پراخوالی پرې څرګندېږي يا هيئت علم د افلاکو د هيئت او د ځمکې د هيئت د ترکيب پېژندنه ده. همداراز هغه علم دی چې سماوي اجرام (اسماني ستوري) تر بحث لاندې نيسي.
۱۷: ۲۳۵۹۷

لومړی بېلګه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیند خوني ځلور خیګونه بیا هر یو سره جوړ نه دي
څه به جوړ علي خان ناست وي په دغه ورانه جاله کې
۲۳: ۸۹

دویمه بېلګه:

د وفا لپاره دېره جفا یوسم
باري نه شي له علت سره معلول پېښ
۲۳: ۹۰

درېیمه بېلګه:

نمر سپوږمۍ آسمان به تل در نه څاربږي
که زمین غوندې قبول د خلکو بار کړې
۲۳: ۷۷

لومړي بیت کې ځلور خیګونه فلسفي کلمې دي چې ځلورو عنصرو ته اشاره ده: اوبه، خاوره، هوا، او اور چې هر یو یې د بل دښمن دی.

په دویم بیت کې علت او معلول فلسفي ګړنې (اصطلاحات) دي چې علت سبب او معلول مسبب ته وایي، یعنې هغه څه چې تر لاسه کېږي، عامه طریقه ده چې علت پیدا شي نو معلول ورسره ضرور راځي او همداراز هر معلول حتماً علت لري یعنې یو د بل لازم او ملزوم دي.

همداراز په درېیم بیت کې نمر، سپوږمۍ، آسمان او زمین په هیئت علم پورې اړوند نومونه دي، هیئت ته علم النجوم هم وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲. مناظره:

د يوې موضوع د حقيقت معلومولو لپاره خپل نظرونه يو بل ته ورکولو او يو بل پر کولو ته مناظره يا مناقشه وايي.

په لغت نامه دهخدا کې يې داسې تعريفوي: ((علم است که بدان شناخته گردد اداب طرق اثبات مطلوب و نفی ان يا نفی دليل آن با خصم.))

۱۶ : ۲۱۵۶۳

عمــــده حکـــم د روا نـــاروا کـــوت شـــي
پـــرې راځـــي معاينـــه نقـــض ممنـــوع
عـــادلان حکـــم هالـــه کانـــدي د بـــدو
چـې سـند يـې هـم اصـول وي هـم فـروع

۲۳: ۱۰۴

په پورته بيتونو کې د مناظرې طريقه بيان شوې ده او دا راز تحليل لري: يعنې يو اصل حکم وي د هغه روا او ناروا ليدل کېږي او نقض او معارضه هم په کې راځي سربېره پردې چې مناظره په نظم کې راځي نثر کې هم راتلای شي خو هېڅکله هم نامشروعه وينا په کار نه ده. له پورته بيتونو نه علاوه دغه غزل ټول د مناظرې بحث کوي.

د علي خان له پورته شعرونو څخه دا په ډاګه کېږي چې دی واقعا لوی عالم و، په خپل عصر کې به يې سيال کم پيدا شي، دده ديوان د علمونو خزانه ده. د هر علم څرکونه پکې ليدل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# علي خان شعر روا ګڼي

علي خان ډېر پوخ او خوږ ژبی شاعر دی. دی د اسلام له نظره شعر ویل روا ګڼي او وایي چې که عقاید ، فقه، سلوک او نور علمونه په شعر وویل شي، څه پروا نه لري خو که دروغ، پوچې خبرې او نور قبایح په نثر هم وویل شي نو هغه ښه نه دي بلکې ناروا دي.

عالمـــان شـــعر پـــه څـــه ګڼـــي ممنـــوع
پـــه قـــرآن کـــې ډېـــر لفظونـــه دي مســـجوع
عـــين حســـن د ثقـــاتو هـــم پـــه دا کـــې
ډېـــر ابيـــات لـــه آن حضـــرته دي مســـموع
عقايـــد فقـــه ســـلوک راوړه پـــه نظـــم
بلاغـــت رښـــتيا قصـــص ښـــه دي مقطـــوع
عجيبـــه مجـــاز صـــفت نظـــر قـــدرت تـــه
لـــه عفـــت ســـره حســـن وي هـــم مشـــروع
عبـــث پـــوچ دروغ ويـــل وي کـــه کنځـــل وي
بـــې لـــه نظمـــه هـــم قبـــيح وي پـــه وقـــوع
۲۳: ۱۰۳- ۱۰۴

د نومورې غزل په يو بل بيت کې وايي:

عـذاب نـه دی نـه ثـواب شـعر خـو ثـوب دی
ګـاه يـې اغونـدي انسـان ګـاه يـې سـبوع
۲۳: ۱۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



له پورته بیت څخه دا هم څرګندېږي چې علي خان په دیني علومو ډېر زیات پوهېده، دی وایي شعر د اسلام له نظره نه ثواب لري نه عذاب د دین او ادب ډېر پوهان په دې نظر دي چې شعر ویل نه ګناه ده او نه ثواب بلکې د شعر مفهوم ته ارزښت ورکوي چې ښه وینا، د نصیحت خبره یا د انسان د ګټې مسئله په کې ذکر شي نو هرومرو ثواب لري او که بده وینا وي، یا څوک بدې لارې ته رهنمایي کوي یا هم هسې د وخت ضیاع وي نو حرام دی.

همداراز هره وینا یا عمل چې نه ثواب ولري او نه عذاب هغه مباح وي، نو دده له نظره شعر مباح دی ځکه چې نه ثواب لري او نه عذاب. پاتې شوه ښه وینا که په نظم وي یا نثر ثواب لري خو بده وینا که په نظم وي یا نثر عذاب ده.

www.melitharik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# علي خان او ادبي فنون

## الف: د بديع فن:

بديع په لغت کې خالق، نادره، عجيبه، نوي او تازه ته وايي او هم د څښتن تعالی جل جلا له يوه صفت ته ويل کېږي، په ادبي اصطلاح کې بديع هغه علم دی چې د کلام لفظي او معنوي ښايست وربانديې معلومېږي.

۳:۸

بديعي صنايع په دوه ډوله دي:

۱: لفظي صنايع ۲: معنوي صنايع

په اريانا دايرة المعارف کې د بديعي صنعتونو ډولونه داسې څرګندوي: ((بديعي صنايع په دوو برخو ويشل کېږي:
لومړی لفظي صنايع چې د کلام ښکلا په الفاظو پورې تړلې وي او دويم معنوي صنايع چې د کلام حسن او ښکلا په معنا پورې تړلې وي.))

۲: ۸۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لفظي صنایع

لفظي صنایع هغه صنایع دي چې د کلام او وینا زینت او ښکلا په الفاظو پورې اړه ولري، لکه څنګه چې خواږه په مالګه خوندور کېږي همدا راز کلام په صنایعو او بدایعو خوندور کېږي.
۸: ۶

د علي خان په دیوان کې لفظي او معنوي صنایع په خورا ډېره کچه کارول شوي دي چې دلته د لفظي صنایعو ډولونه را اخلو:

## سجع:

سجع په لغت کې د قمرۍ یا کوترې موزون آواز ته وايي او په اصطلاح کې هغه صنعت دی چې یو شاعر یا لیکوال د عباراتو په ترخ کې په یوه وزن او آهنګ برابرې کلمې استعمالې کړي.
سجع په نثر کې ډېره کارول کېږي خو کله کله شعر ته هم مسجع شعر وايي دا په هغه صورت کې چې د بیتونو نیم بیتۍ له مسجع قرینو څخه رغېدلي وي لکه د علي خان لاندې مسجع شعر:

زړه مې دې غم غوځ که په مخ ماه قبله ګاه
ورځ مې دې کړه کړه کج ابرویه کج کلاه
مخ دې بدر تام شه عاشق ځکه خون اشام شه
ژر خېژه نمانښام شه خلقه دې کړه ګمراه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښــکلې ښايســـته وې د ښايســـت د ملــک اربــاب وې
بـــې زرو نـــواب وې بـــې نـــوکره بـــې ســـپاهه
شــال خــور پــه اوږو وړې آب و تــاب لــه فرښــتو وړې
زړونــه پــه ولجــو وړې راځــې مســت لــه خانقاهــه
زه قالــب تــه ځــان يــې زمــا ځــه د درســت جهــان يــې
لا پــه هــر چــا ګــران يــې د خوبــانو شهنشــاهه
شــاه پــه لــب عســل يــې د زنګــې زړونــو صــيقل يــې
اوس چې را نه بېل يې تش کالبوت پروت يم بې ساهه
سخت زړه به دې موم کړم خپل احوال که در معلوم کړم
ولــې دې محــروم کــړم د چشــمانو لــه نګاهــه
ســيند د غــم لاهــو کــړم لــه جهانــه دې يکســو کــړم
لاس ســتا پــه ګيســو کــړم ګونــدې ووځمــه لــه مياهــه
مينــې دې خــراب کــړم د هجــران اور دې کبــاب کــړم
وصــل تــه شــتاب کــړم پــه ژونــدون شــوم ناويســاهه
زه يــو لــوغړن يــم خــوار خســته جــلا وطــن يــم
هســې آرزومنــد يــم ســر ګــڼم ســپک تــر ګياهــه
اوچ لکــه دورمــه شــوم اور د مينــې تــه وانښــه شــوم
نــرم تــر اوبــه شــوم وېــره کــړه زمــا لــه آهــه
هجــر دې تــاراج کــړم بېلتانــه دې نــاعلاج کــړم
ځــه بــه ابتهــاج کــړم پــه اور وخــتم ناګاهــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميني دې تالاکړم بېلتانه دې تيټ په ملا کړم
ما وې زه به غلا کړم باري اوښکو کړم رسواهه

ستا د در ملنګ يم ته ډېوه زه دې پتنګ يم
خوار بې نام و ننګ يم مه کړه ننګ له خاک راهه

بند دې په وېښته شوم په دربار کې دې مېشته شوم
موخه شان ويشته شوم چار مې ځکه شوه تباهه

ودې سوم له ميني حال مې ځکه خراب ويني
هسې دل سنګيني چې نه ترس لري نه آهه

ستا په مينه بند دى بند د زلفو په کمند دى
اور ته دې سپند دى دا عرض واوره له داد خواهه

څه شي که مدهوش يم ستا د در حلقه به ګوش يم
سوى د عشق جوش يم جګې جګې تکيه ګاهه

عذر پسې شا کړه شپه د هجر مې رڼا کړه
څه خو دمه راکړه ډېر مې مه وهه بې ساهه

تېغ د فولاد پخ دى د مژګانو کاته په ترخ دى
خوار شه چې پرې غوخ دى ورځ يې شوه تر شپې سياهه

يار خو خوب خصلت دى زما واړه خپل شامت دى
يا ستا مصلحت دى اى رقيبه جفا خواهه

تک د بنارس وې ما وې باز يې ته تېوس وې
زر کله وې مس وې غلط شوم له اشتباهه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس کـه ډېر ناچـار شوم علـي خـان لـه خـاورو خـوار شـوم
بېرتـــه پـــه وار وار شــــوم د خوبـــانو لــــه درګاهـــه
۲۳: ۱۴۴- ۱۴۶

په پورته غزل کې وينو چې د سجعي کلمې د بيتونو په ترتيب سره په لاندې ډول دي: ((ماهه، ګاهه؛ ابرويه، کلاهه؛ تام، اشام او نمابنام؛ ارباب، نواب؛ اوړو، فربنتو او ولجو؛ ځان، جهان، ګران؛ عسل، صيقل او ببل؛ موم، معلوم او محروم؛ لاهو، يکسو او ګيسو؛ خراب، کباب او شتاب؛ لوغړن، وطن او ارزومن؛ دورمه- وابنه او اوبه؛ تاراج، ناعلاج او ابتهاج؛ تالا، ملا او غلا؛ ملنګ، پتنګ او تنګ؛ وببنته، مبشته او ويشته؛ مينې، وينې او سنګينې؛ بند، کمند او سپند؛ مدهوش، بګوش او جوش؛ شا، رښا او را؛ پخ، ترخ او غوخ؛ خصلت، شامت او مصلحت؛ بنارس، تپوس او مس؛ ناچار، خوار او وار د سجعي کلمې چې په ترتيب سره دوه دوه په هرې لومړۍ مسرې کې او يوه يوه يې په دويمې مسرې کې راغلې دي.

يا دود مــې لــه قلمــه خپـــژي ســـتا د مينـــې اور دی پـــه کـــې
تـــن مـــې اتشـــدان شـــولو زړه مـــې ســوی ســکور دی پــه کــې
مينـــې کانـــدې خلـــک واړه ګرځـــې ســـره لاس تــر غـــاړه
نـــه وي پـــرې د هيچـــا اړه يـــو زمـــا پېغـــور دی پـــه کـــې
شـــپه هـــم نـــه ده ســـپين نهـــار دی واړه کلـــی پـــروت قـــرار دی
بخـــت يـــې لـــه ازلـــه خـــوار دی وران د عاشـــق کـــور دی پـــه کـــې
پرېـــوتم د بخـــت لـــه اســـه وېـــش دی د ســـاقي لـــه لاســـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور يې څښي کاسه په کاسه جام زما نسکور دی په کې
ګرم دی د ښکليو بازار زيات په کې ټګان د وپار
لاس يې دی تړلی د خوار ساز ولاړ سرتور دی په کې
يا خو د جنت ټوټه ده باغ جنان بزم جان
زار شوی له هغې وطنه چرته چې ستا کور دی په کې
واړه زېړ زېلي وينم نفس شرمولي وينم
نور عاشقان پلي وينم يو علي خان سور دی په کې

۲۳: ۱۱۳

پورته غزل کې د سجعې کلمې په ترتيب سره په هر بيت کې (واړه، غاړه، اړه؛ نهار، قرار، خوار؛ اسه، لاسه، کاسه؛ بازار، وپار خوار؛ باغ جنان، بزم جان او څپلي، شرمولي او پلي) دي خو په دې غزل کې ټول بيتونه مسجع نه دي.

## تام تجنيس:

د دوو يا زياتو کلمو داسې راوړل چې په ليک لوست کې توپير ونه لري خو معناوې يې بېلې وي تام تجنيس يې بولي.

تام تجنيس په دوه ډوله دی:

۱. مماثل تجنيس
۲. مستوفا تجنيس

## ۱. مماثل تجنيس:

که دواړه متجانسې کلمې نوم يا فعل وي مماثل تجنيس يې بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی بېلګه:

بیـا چـې دم د محبـت را بانـدې پـو شـه
هـم هغـه دم مـې لـه لاسـو پښـو دم وخـوت
۲۳: ۴۴

دویمه بېلګه:

خلقـو خـو بـه وې چـې پټ پـه فعـل کـې ضـمیر وي
مـا فعـل جفـا ولیـد ښکنـد ستا پـه ضـمیر کـې
۲۳: ۸۶

په لومړي بیت کې لومړی (دم) د افسون په معنا او دویم (دم) د ګړۍ او ساعت په معنا او دریېم (دم) د سا او روح په معنا کارول شوي دي.

په دویم بیت کې لومړی (ضمیر) د نومځري په معنا او دویم (ضمیر) د زړه په مانا دی. د بیت مطلب دا دی چې د عربي نحوې له قاعدې سره سم په فعل کې ضمیر پټ وي لکه (فَعَلَ) یعنې هغه کار وکړ چې (هو یعنې هغه) په کې پټ وي یا کتب یعنې ویې لیکه چې (هغه، هوغه) د کتب په فعل کې پټ دی. شاعر وايي چې ضمیر خو په فعل کې پټ وي خو ستا په ضمیر (زړه) کې جفا پټه نه بلکې ښکنده ده او ما په ښکاره ولیدله.

۲. مستوفاء تام تجنیس:

که له متجانسو کلمو څخه یوه نوم او بله فعل وي مستوفاء تجنیس یې بولي؛ لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــه بهانــه بهانــه مــې وینــې د زړه روې
دواړه ســره کســي دې روې دي کـه نـه دي
۲۳: ۱۶۰

لومړی (روې) فعل او دویم (روې) نوم دی.

وخـورم زه بېکـاره کسـي چـې بـې یـاره کسـي کسـي
کسـي هلـه مـې پـه کـار دي چـې د یـار کسـي پـرې کسـم
۲۳: ۱۲۶

په پورته بیت کې لومړی، دویم، ځلورم او پینځم کسي نوم او دریم کسي فعل دی د کسل له مصدر څخه. همداراز دا بیت غیر مصرع بیت دی، په (دیوان علي خان) چې د میا تقویم الحق کاکاخېل تدوین دی او همداسې د علي خان دیوان کې چې سید عبدالله پاچا یې د چاپ زیار ګاللی هره مسره یو بشپړ بیت ګڼل شوی دی چې داسې په کار نه و. په دې صورت کې د شعر فورم او نوعیت نه شي څرګندېدی او د شعر مانیز ړنګېږي خو زما په اند دا بیتونه چې دوی اخیستي هر بیت یوه مسره ده نه بیت، شاعر اصلاً مسجع شعر په پام کې نیولی دی.

یادونه: د کسل (لیدل) مصدر اوس له پامه غورځېدلی خو علي خان د او دده معاصرو شاعرانو دغه لفظ د نوم او فعل په دواړو بڼو کارولی دی؛ لکه د نجیب سربندي د یوه بشپړ غزل په ردیف کې د کسي فعل راغلی چې لومړی بیت یې دادي:

هغــه کســي چــې رخســار د جانــان کســي
ړانـده بـه دي کـه بـې ده پـرې جهـان کسـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳: ۵۴۵

په دې بیت کې لومړی (کسي) نوم، دویم او درېیم (کسي) فعل دی سربېره پردې نور د بر داسې الفاظ شته چې په لرغونې او کلاسیکې دورې آن د معاصرې دورې په لومړیو کې ترې کار اخیستل شوی خو اوس له پامه غورځېدلي دي زما په اند که دغه کلمې په خپلو شعرونو او لیکنو کې بیا راژوندي کړو نو زمونږ ژبه به لاپسې شتمنه شي.

بله دا چې په (دیوان علي خان - شرح او مقدمه، سید تقویم الحق کاکاخېل او محمد نواز طایر) او (د علي خان دیوان) کې چې ما ددې اثر په لیکلو کې ترې ګټه اخیستې؛ داسې شعرونه هم شته چې هر بیت یې له اره یوه مسره ده خو درانه لیکوالان ورته نه دي ځیر شوي او دا تېروتنه پکې راغلې ده. که دغه شعرونه لکه څنګه چې دواړو دیوانونو کې راغلي، ولوستل شي شعر ځانته یو بل ډول فورم غوره کوي چې تراوسه پورې په پښتو ادب کې نه دی تر سترګو شوی.

د بېلګې په توګه دلته یې یو څو شعرونه راوړو:

لاس مې نه ورځي حیران یم  اوس به څه رنګ زړه ترې نیسم
چې سپین مخ یې خزانه کړه  تورې زلفې یې طلسم
که مې نوم د یار له میني  په څو کاله وظیفه کړو
اوس مې لا له کبره خشمه  هډو ناخلي په خوله اسم
وخورم زه بېکاره کسي  چې بې یاره کسي کسي
کسي هله مې په کار دي  چې د یار کسي پرې کسم
خط راځي برخاست د حسن  هر ظالم ځي چې غریب شي
اوس وفا کوه دلبره  زر به پاتې شي دا جسم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلبر ښکلی هوښیار بویه　　قــدردان پتــي نېــک خویه
باري موند نه شي دا قسم
علـي خانه په هـــېڅ قسم
۲۳: ۱۲۶

ثــه د نېــکــو همــرهان دي　　یـــو قـــران دویـــم حـدیث
چـې و حـــق ته رهـــبران دي　　یـــو قـــران دویـــم حـدیث
ســـپر د هـــرې خـرخشـې دي　　د هـــغې جـــهان تـــوشې دي
هــم ښـــیوې ددې جـــهان دي　　یـــو قـــران دویـــم حـدیث
ســتا د جــهل رنـــځ به روغ کا　　تــاریکي به دې فـــــروغ کا
دواړه شمعـــې د عـــرفان دي　　یـــو قـــران دویـــم حـدیث
هـــر ســړی چـې پرې عمل کا　　لــه ولـــیانو به ځان مـــل کا
تـېغ په لاس د مســـلمان دي　　یـــو قـــران دویـــم حـدیث
تـــیاره زړونه نـــورانـــي کا　　د دیـــن خـــوار سړی غني کا
لـــوی رهـــبر د هـر انسان دي　　یـــو قـــران دویـــم حـدیث
هر چـــې دوی یې وظـــیفه شو　　پـــوه په هـــره لـــطیـــفه شو
د هـــمه اســـــرارو کان دي　　یـــو قـــران دویـــم حـدیث
اګــاه نه پــرېــږدي ګـــناه ته　　ســـمه لار ښیـــي ګـــمراه ته
ګوره هســـې مرشـــدان دي　　یـــو قـــران دویـــم حـدیث
د غـــــافلـــو تازیانـــې دي　　دواړه پـــــتې خـــزانـــې دي
دا دوه باغـــه بـــې خزان دي　　یـــو قـــران دویـــم حـدیث
له حضـــرت نه را په ایـــشته　　تـــر قـــیامته یـــې رد نیشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل لـه نسـخه په امـان دي      يـو قـران دويـم حديث
ځـو چـې ژبه خوزېده كه      يا سـپهر ګـرزېده كـه
تـر هغـې پـورې چـلان دي      يـو قـران دويـم حديث
كـه مـاتم ددې سـراى دى      يا كـه غـم د هغه ځاى دى
دغـه دواړو لـه درمـان دي      يـو قـران دويـم حديث
خداى رسول پرې راضي كېږي      ګـنا هـونه پرې كـمېږي
جبيـرې د هـر نقـصان دي      يـو قـران دويـم حديث
كه دې مـلـه شـو زما روره      تابـه وسـاتي له اوره
بـې خـلله رفـيقان دي      يـو قـران دويـم حديث
كه ته زړه وريـورې بند كـړې      دا غمجن زړه به خورسند كړې
ملا حان د هـر طـوفان دي      يـو قـران دويـم حديث
كه په سـترګو پسې درومې      سعـادت به ډېـر ډېر مـومې
بـې بـها دُور و مـرجان دي      يـو قـران دويـم حديث
پژمـرده زړونه ژونـدي كه      ژونـدي لا په خـورسندي كه
حـقيقـي ابر نـيسان دي      يـو قـران دويـم حديث
كـه د دوى په پـيروي ځـې      تـل به ته په سُـرخ رويـي ځې
په دعـوه د حـق برهان دي      يـو قـران دويـم حديث
چې يې ستايي هومره ښايي      دواړه حقـې چـارې وايي
ښه فـرمايي ناصـحان دي      يـو قـران دويـم حديث
دواړه حـق ويـي بـېشكه      مـلابسته كـړه پسې كلكه
نن ولجه دي صبا ګـران دي      يـو قـران دويـم حديث
د رب سـيال نشـته احد دى      پيغمـبر يـې محـمد دى

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دا باب مې ګواهان دي     يو قران دويم حديث
که ګناه لري بېشماره     ته به يې وبخښې غفاره
وسيلې د علي خان دي     يو قران دويم حديث
۲۳: ۵۳ ـ ۵۵

اننګي دي که سپوږمۍ ده     که سورګل دی د لالا دا
يا د زړونو آيينه ده     يا خو لمر دی په رښتيا دا
دا هوسۍ دی که ساحر دی     که صياد دی زړونه وړي
يا دي سترګې فتنه ګرې     يا خو دی نرګس شهلا دا
دا زنځير دی که ستازلفې     که نافې که غوړندي دي
سنبل تر دی که عنبر دی     که ښامار دی اژدها دا
دا محراب دی که ليندہ ده     يا خو دال يا سر د جيم دی
يا د وروکې اختر مياشت ده     يا ابرو يې دلربا دا
دا الف دی که شمشاد دی     يا خو نخل د مراد دی
يا دا قد يا ګلدسته ده     يا خو سروه ده بالا دا
دا دې خوله که سر چشمه ده     د حيات که ښکلې ميم دی
يا ډبلی دی د ياقوتو     يا طوطي دی شکرخا دا
دا دې ستوري په اسمان کې     يا دی ګل په ګلستان کې
يا دې غاښ دي په دهان کې     يا دی دُر قيمت بها دا
دا جوهر يک دانه دي     که تويې واورې په لاله دي
يا دې غاښ دي يا ژاله دي     يا دې عقد ثريا دا
دا دلبر دی که خورشيد دی     که دی ستوری د صبا دی
يا ده مياشت د څوارلسمې     يا نر حور دی د دنيا دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرښته ده که افتاب دی        ښاپېرۍ دی که ګلاب دی
که پوره تمام مهتاب دی        که دی شوخ بې پروا دا
ربه دا خلد برین دی        که کعبه یا ګلستان دی
که کوڅه د هغه یار ده        که کشور دی د کیمیا دا
دا د چین نقشخانه ده        یا د ترکو استانه ده
د همایو اشیانه ده        که دی کور د محبوبا دا
دا دې زنه ده که سېب دی        که کوهي ډک له فرېب دی
د ښایست د بازار زېب دی        که مېوه ده د شفا دا
دا دې خط دی که هاله ده        که سبزه تر ګل چاپېر شوه
شنه فولاد دي جوهر داره        که شهپر دی دعنقا دا
د جنت د باغ قمري دی        که شیرین زبان طوطي دی
یا بلبل سپلاني دی        که جامي دی ډېر شیدا دا
زه پیرو محمدي یم        هم تابع د صاف جامي یم
په دا دواړو پسې ما ده        ځکه کړې اقتدا دا
علي خان چې په پښتو کړه        د جامي صاحب بیتونه
ګویا ښکلیو جامي اوښکې        نوی اغوندي زېبا دا
علي خان په پښتو ستایي        ستا د حسن اسبابونه
دا هنر ډېر مزه دار دی        چې عسل دی که حلوا دا

۴۰-۳۸:۲۳

عشق به څو ساتم په زړه کې        هېڅ پرې نه پوهېږم زه
څنګه پټ کړم غر په خوره کې        هېڅ پرې نه پوهېږم زه
که هر څو مینه پېغور ده        عاشقي په مثال اور ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوبه يې نغاړم په چرړه کې  هېڅ پرې نه پوهېږم زه
دا يې کبر دی که ناز دی  څه بلا شعبده باز دی
بلا که د زړه په وړه کې  هېڅ پرې نه پوهېږم زه
لکه ستا د سترګو اب دی  دا په نورو کې نایاب دی
نه لاموند شي په چاړه کې  هېڅ پرې نه پوهېږم زه
که يې دا د هجر سوی وی  دریغه هومره يې زړه سوی وی
لکه مالګه په اوړه کې  هېڅ پرې نه پوهېږم زه
دا وصال د دلربا دی  که دا دم د مسیحا دی
ننه باسي روح په مړه کې  هېڅ پرې نه پوهېږم زه
د دعا غښتی که ولم  هم مردار وي چې يې پلم
يو رانه شي په کواړه کې  هېڅ پرې نه پوهېږم زه
نه يې غم صبر ته توان شي  نه به خلاص تري علي خان شي

حق حیران د رب په کړه کې
هېڅ پرې نه پوهېږم زه

٧٢ :٢٣

دود مې له قلمه خېژي  ستا د مینې اور دی په کې
تن مې اتشدان شولو  زړه مې سوی سکور دی په کې
مینې کاندي خلک واړه  ګرځي سره لاس تر غاړه
نه وي پرې د هیچا اره  يو زما پېغور دی په کې
شپه هم نه ده سپین نهار دی  واړه کلي پروت قرار دی
بخت يې له ازله خوار دی  وران د عاشق کور دی په کې
پریوتم د بخت له اسه  وېش دی د ساقي له لاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور يې ښښي کاسه په کاسه　　جام زما نسکور دی په کې
ګرم دی د ښکليو بازار　　زيات په کې تګان د وپار
لاس يې دی ترلی د خوار　　ساز ولاړ سرتور دی په کې
يا خو د جنت توته ده　　باغ جنان بزم جان
زار شوی له هغې وطنه　　چرته چې ستا کور دی په کې
واړه زېړ زيلي وينم　　نفس شرمولي وينم
نور عاشقان پلې وينم
يو علي خان سور دی په کې
۲۳: ۱۱۳

اوس د پورته ټولو بېلګو له هر بيت څخه مسره جوړوو؛ وينو چې د هرې بېلګې شعري فورم (غزل) څرګند برېږي:

لاس مې نه ورځي حيران يم اوس به څه رنګ زړه تري نيسم
چې سپين مخ يې خزانه کړه توري زلفې يې طلسم
که مې نوم د يار له ميني په څو کاله وظيفه کړو
اوس مې لا له کبره خشمه هډو ناخلي په خوله اسم
وخورم څه بېکاره کسي چې بې ياره کسي کسي
کسي هله مې په کار دي چې د يار کسي پرې کسم
خط راځي برخاست د حسن هر ظالم ځي چې غريب شي
اوس وفا کوه دلبره زر به پاتي شي دا جسم
دلبر ښکلی هوښيار بويه قدردان پتي نېک خويه
باري موند نه شي دا قسم علي خانه په هېڅ قسم
۲۳: ۱۲۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه د نېکو همرهان دي يو قران دويم حديث
چې و حق ته رهبران دي يو قران دويم حديث
سپر د هرې خرخشې دي د هغې جهان توشې دي
هم ښيوې ددې جهان دي يو قران دويم حديث
ستا د جهل رنځ به روغ کا تاريکي به دې فروغ کا
دواړه شمعې د عرفان دي يو قران دويم حديث
هر سړی چې پرې عمل کا له وليانو به ځان مل کا
تيغ په لاس د مسلمان دي يو قران دويم حديث
تياره زړونه نوراني کا د دين خوار سړی غني کا
لوی رهبر د هر انسان دي يو قران دويم حديث
هر چې دوی يې وظيفه شو پوه په هره لطيفه شو
د همه اسرارو کان دي يو قران دويم حديث
اګاه نه پرېږدي ګناه ته سمه لار ښيي ګمراه ته
ګوره هسې مرشدان دي يو قران دويم حديث
د غافلو تازيانې دي دواړه پټې خزانې دي
دا دوه باغه بې خزان دي يو قران دويم حديث
له حضرت نه را په ايشته تر قيامته يې رد نيشته
تل له نسخه په امان دي يو قران دويم حديث
څو چې ژبه خوزېده که يا سپهر ګرزېده که
تر هغې پورې چلان دي يو قران دويم حديث

(c) ketabton.com: The Digital Library



کــه مــاتم ددې ســرای دی یــا کــه غــم د هغــه ځــای دی
دغــه دواړو لــه درمــان دي یــو قــران دویــم حــدیث

خــدای رســول پــرې راضــي کېــږي ګناهونــه پــرې کمېــږي
جبیــرې د هــر نقصــان دي یــو قــران دویــم حــدیث

کـــه دې ملـــه شـــو زمـــا روره تابـــه وســـاتي لـــه اوره
بـــې خللـــه رفیقـــان دي یـــو قـــران دویـــم حـــدیث

که تـه زړه ورپـورې بند کـړې دا غمجن زړه بـه خورسند کـړې
مـلا حـان د هـر طوفـان دي یـو قـران دویـم حـدیث

کـه پـه سـترګو پسـې دromې سـعادت بـه دې بـر دې بـر مـومې
بــې بهــا دُور و مرجــان دي یــو قــران دویــم حــدیث

پژمــرده زړونــه ژونــدي کــه ژونــدي لا پــه خورســندي کــه
حقیقــي ابــر نیســان دي یــو قــران دویــم حــدیث

کـه د دوی پـه پیـروي ځـې تـل بـه تـه پـه سُرخ رویـي ځـې
پــه دعــوه د حــق برهــان دي یــو قــران دویــم حــدیث

چــې یــې ســتایي هــومره ښــایي دواړه حقــي چــارې وایــي
ښــه فرمــایي ناصــحان دي یــو قــران دویــم حــدیث

دواړه حــق ویــي بېشــکه ملابســته کــړه پســې کلکــه
نــن ولجــه دي صــبا ګــران دي یــو قــران دویــم حــدیث

د رب ســیال نشــته احــد دی پیغمبــر یــې محمــد دی
پــه دا بــاب مــې ګواهــان دي یــو قــران دویــم حــدیث

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ګناه لري بېشماره ته به يې وبخښې غفاره
وسيلې د علي خان دي يو قران دويم حديث
۲۳ : ۵۳ ـ ۵۵

اننګي دي که سپوږمۍ ده که سورګل دی د لالا دا
يا د زړونو آيينه ده يا خو لمر دی په رښتيا دا
دا هوسۍ دی که ساحر دی که صياد دی زړونه وړي
يا دي سترګې فتنه ګرې يا خو دی نرګس شهلا دا
دا زنځير دی که ستا زلفې که نافې که غوړندي دي
سنبل تر دی که عنبر دی که ښامار دی اژدها دا
دا محراب دی که لينده ده يا خو دال يا سر د جيم دی
يا د وړوکي اختر مياشت ده يا ابرو يې دلربا دا
دا الف دی که شمشاد دی يا خو نخل د مراد دی
يا دا قد يا ګلدسته ده يا خو سروه ده بالا دا
دا دې خوله که سر چشمه ده د حيات که ښکلی ميم دی
يا ډبلی دی د ياقوتو يا طوطي دی شکرخا دا
دا دې ستورې په اسمان کې يا دی ګل په ګلستان کې
يا دې غاښ دي په دهان کې يا دی دُر قيمت بها دا
دا جوهر يک دانه دي که تويې واورې په لاله دي
يا دې غاښ دي يا ژاله دي يا دې عقد ثريا دا
دا دلبر دی که خورشيد دی که دی ستوری د صبا دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا ده میاشت د څوارلسمې یا نر حور دی د دنیا دا
فرشته ده که افتاب دی ښاپیری دی که ګلاب دی
که پوره تمام مهتاب دی که دی شوخ بې پروا دا
ربه دا خلد برین دی که کعبه یا ګلستان دی
که کوڅه د هغه یار ده که کشور دی د کیمیا دا
دا د چین نقشخانه ده یا د ترکو استانه ده
د همایو اشیانه ده که دی کور د محبوبا دا
دا دې زنه ده که سېب دی که کوهی ډک له فریب دی
د ښایست د بازار زیب دی که میوه ده د شفا دا
دا دې خط دی که هاله ده که سبزه تر ګل چاپېر شوه
شنه فولاد دې جوهر داره که شهپر دی دعنقا دا
د جنت د باغ قمري دی که شیرین زبان طوطی دی
یا بلبل سېلاني دی که جامي دی ډېر شیدا دا
زه پیرو محمدي یم هم تابع د صاف جامي یم
په دا دواړو پسې ما ده ځکه کړې اقتدا دا
علي خان چې په پښتو کړه د جامي صاحب بیتونه
ګویا ښکلیو جامې اوښکې نوی اغوندي زیبا دا
علي خان په پښتو ستایي ستا د حسن اسبابونه
دا هنر ډېر مزه دار دی چې عسل دی که حلوا دا
۴۰-۳۸:۲۳

عشق به څو ساتم په زړه کې هیڅ پرې نه پوهېږم زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه پټ کړم غر په خوړه کې هېڅ پرې نه پوهېږم زه
که هر څو مینه پېغور ده عاشقي په مثال اور ده
څوبه یې نغاړم په چړه کې هېڅ پرې نه پوهېږم زه
دا یې کبر دی که ناز دی څه بلا شعبده باز دی
بلا که د زړه په وړه کې هېڅ پرې نه پوهېږم زه
لکه ستا د سترګو اب دی دا په نورو کې نایاب دی
نه لاموند شي په چاړه کې هېڅ پرې نه پوهېږم زه
که یې دا د هجر سوی وی دربغه هومره یې زړه سوی وی
لکه مالګه په اوړه کې هېڅ پرې نه پوهېږم زه
دا وصال د دلربا دی که دا دم د مسیحا دی
ننه باسي روح په مړه کې هېڅ پرې نه پوهېږم زه
د دعا غشی که ولم هم مردار وي چې یې پلم
یو رانه شي په کواړه کې هېڅ پرې نه پوهېږم زه
نه یې غم صبر ته توان شي نه به خلاص تري علي خان شي
حق حیران د رب په کړه کې هېڅ پرې نه پوهېږم زه
۷۲ :۲۳

دود مې له قلمه خېژي ستا د مینې اور دی په کې
تن مې اتشدان شولو زړه مې سوی سکور دی په کې
مینې کاندي خلک واړه ګرځي سره لاس تر غاړه
نه وي پرې د هیچا اړه یو زما پېغور دی په کې
شپه هم نه ده سپین نهار دی واړه کلی پروت قرار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بخت يې لـه ازلـه خوار دی وران د عاشـق کـور دی پـه کـې
پريــوتم د بخــت لــه اســه وېــش دی د ســاقي لــه لاســه
نور يې ښـې کاسـه پـه کاسـه جـام زمـا نسـکور دی پـه کـې
ګـرم دی د ښــکليو بــازار زيــات پــه کــې ټګــان د وېــار
لاس يــې دی ترلــی د خــوار ســاز ولاړ ســرتور دی پــه کــې
يــا خــو د جنــت تــوتــه ده بــاغ جنــان بــزم جــان
زار شـوی لـه هغـې وطنـه چرتـه چـې سـتا کـور دی پـه کـې
واړه زېــړ زېلــي ويــنم نفــس شــرمولي ويــنم
نور عاشقان پلي وينم يو علي خان سور دی پـه کـې
۲۳: ۱۱۳

## منځوال تجنيس:

چې له متجانسو کلمو څخه په يوې کې يو توری په منځ کې زيات وي منځوال تجنيس يې بولي؛ لکه:

عــذاب نــه دی نــه ثــواب شــعر خــو ثــوب دی
ګــاه يــې اغونــدي انســان ګــاه يــې ســبوع
۲۳: ۱۰۴

په پورته بيت کې علي خان ثواب او ثوب کلمې استعمال کړي دي چې (الف) د ثوب په منځ کې زيات دی.

کــه ملــوک غونــدې اشــراف نــازک بــدن وي
ګرځــوي بــه دې پــه بحــر او پــه بــر مينــه
۲۳: ۱۲۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پورته بيت کې د بحر او بر په کلمو کې منځوال تجنيس واقع شوی چې د (بر) په کلمه کې يوه (ح) ور زياته شوې ده.

## مفروق مرکب تجنيس:

هغه تجنيس دی چې متجانسې کلمې په ليکلو کې سره توپير ولري؛ لکه:

غــــم و نــــه چــــاوه يــــوازې د بلبــــل زړه
قســــم قســــم خــــواري ګــــوره د بــــل بــــل زړه
۲۳: ۷۸

په پورته بيت کې متجانسې کلمې بلبل او بل بل دي چې په ليکلو کې سره توپير لري.

## مکرر تجنيس:

چې متجانسې کلمې د بيت يا سجعې په پای کې پر له پسې راشي مکرر يا مزدوج تجنيس يې بولي؛ لکه:

چــــې پــــه تېــــغ تــــا د چشــــمانو کتــــل تــــل تــــل
خــــود بــــه مــــړه څــــه لــــه بــــې ځايــــه تبــــل بــــل بــــل
ســــتا د ســــترګو د مــــخ آب صــــافي يــــې نــــه وه
کــــه مــــې بشــــکلي د جهــــان وکســــل ســــل ســــل
لــــه بــــې خونــــده ژونــــده مــــرګ را تــــه پســــند شــــه
ځکــــه خــــون مــــې کــــه خوبــــانو تــــه خپــــل پــــل پــــل

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشـــه نـــه لـــري د يـــار د شـــونډو عشـــر
کـه جامونـه مــې د ميــو نوشــل شــل
چــې يــو اوښــکې ژاړي بــل لــه ښــايي وينــي
پتنګــان ځکــه د شــمعې پــه ســول ســول
بـاغ لـه ځي يـا بـه خپـل ځان پـه ازغـو غـوخ کـه
يــا بــه راوړي علــي خــان پــه منګــل ګــل ګــل
۲۳: ۱۱۹

په پورته غزل کې د مکرر تجنيس کلمې دا دي (کتل تل تل، تبل بل بل، کسل سل سل، خپل پل پل، نوشل شل شل، سول سول سول او منګل ګل ګل)

علي خان يو بل غزل لري چې هغه هم د مکرر تجنيس يو ډول دی، په لاندې توګه يې وړاندې کوو :

کـــه يـــم ډېـــر د حوادثـــو پـــه کشـــال شـــل
خـو ورځـم کـه مـې رهبـر شـه بـا کمـال مـل
تـــا چـــې خـــوان د دلبـــرۍ د کـــرم عـــام کـــړ
درتــه جــوړ شــه د عاشــق غريــب د ســوال ول
معشـــوقه چـــې د جبـــين غوټـــه خـــوره کـــه
د عاشـق د خـاطر غوټـه شـي فـی الحـال حـل
د وفـــا جفـــا ســـودا پـــه خپـــل اختيـــار کـــه
د خوبـــانو پـــه دربـــار کـــې دی دلال لـــل

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوښـــکي تېـــل صـــبر پنبـــه لـــرم اور مينـــه
بـــارې خـــداى مـــې چـــراغ نـــه کـــه د اقبـــال بـــل
د هنـــر د چابـــک ســـوار لافـــه کـــه مـــا تـــه
چې آســـمان نيلـــى را واخلـــي د خپـــل چـــال چـــل
خـــو چې ولېـــد شـــي د مينـــې پـــه ورشـــو کـــې
رقيبـــان کـــه علـــي خـــان لکـــه شـــغال غـــل
۲۳: ۱۱۸- ۱۱۹

په دې غزل کې د مکرر تجنيس کلمې چې قافيه هم پرې تړل شوې دادي (کشال شل، کمال مل، سوال ول، فى الحال حل، دلال لل، اقبال بل، چال چل او شغال غل).
همداراز يو بل ډول مکرر تجنيس هم د علي خان په ديوان کې تر سترګو کېږي چې په لاندې غزل کې يې ليدلى شو:

لا بـــه کلـــه شـــي د يـــار جـــور و ســـتم تـــام
چې بـــه مـــا تـــه شـــي پـــه لطـــف او پـــه کـــرم رام
زاهـــدان دې افتخـــار کـــه پـــه پـــټ هوهـــو
د عاشـــقو وظيفـــه ده د صـــنم نـــام
عاشـــقان وصـــل د يـــار غـــواړي لـــه ربـــه
روغ تـــرې غـــواړي د زړوکـــي د شـــکم کـــام
مـــا چې خپـــل قـــوت د يـــار پـــه غـــم کې وليـــد
رســـتم پرېـــږده لا بـــه نشـــي لـــه مـــا ســـم ســـام

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې بندي به تري ځان خلاص کړي په آسانه
هسې مه ګڼه د یار دزلفو خم خام
ملک نه لري سودا د تورو زلفو
خو هم پرېوتو په پښو کې د آدم دام
دا اکثر چې ځان اخص ګڼي له خاصو
که دې وپېژانده زیات به وي اعم عام
خاص به هله شي په میان د خاصه ګانو
که ته لرې کړې له میانه د عالم لام
محبت د حقیقت له جامه غواړي
علي خان له خدایه نه غواړي دجم جام
۲۳: ۱۲۵

په پورته غزل کې چې مکرر ناقص تجنیس یې ګڼلی شو. د تجنیس کلمې (ستم تام، کرم رام، صنم نام، شکم کام، سم سام، خم خام، آدم دام، اعم عام، عالم لام او جم جام) دي دلته ګورو چې له پورتنۍ بېلګې سره توپیر لري. په پورتنۍ بېلګې کې مکررې کلمې د قافیې له اصلي کلمې سره داسې توپیر لري چې د اصلي کلمې الف یې په زور اړولی خو په دې بېلګې کې په سرچپه ډول زور یې په الف اړولی دی.

## مضارع تجنیس:

(c) ketabton.com: The Digital Library



مضارع تجنیس د مطرف تجنیس یو ډول دی او بل ډول یې لاحق تجنیس نومېږي.

مضارع تجنیس هغه دی چې د متجانسو کلمو بېل غړونه په مخرجونو کې سره نژدې وي؛ لکه:

دريغه ګام خو يې زما په کام وی اېښی
لکـه عمـر پـه رفـتن کـوي يـون هسـې
۲۳: ۹۲

په پورته بیت کې د (ګام) او د (کام) د کلمو د سر توري (ګ او ک) په مخرجونو کې سره نژدې دي. ځکه ورته مضارع تجنیس وايي.

## خطي تجنیس:

چې متجانسې کلمې یوازې د لیکلو په لحاظ سره یو شان وي او د لوستلو او تکیو په لحاظ سره توپیر ولري؛ لکه:

تـن باريـک عقـل تاريـک زړګـی پـه خړيکـو
هـر انـدوه را بانـدې سـخت يـو پـه ځلـور دی
۲۳: ۱۵۹

په دې بیت کې د باریک او تاریک په کلمو کې خطي تجنیس راغلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لفظي تجنيس:

چې متجانسين د لوستلو په لحاظ يو او په ليکلو کې سره بېل وي دغه تجنيس د خطي تجنيس په وړاندې واقع دی، د علي خان په ديوان کې دغه راز تجنيس په لاندې بېلګه کې په نښه کوو:

زه کـه پوهېـدای چـې دې پـه مـا نـه شـته وتنـه
نـــه بـــه وم پـــه تـــا پســـې وتلـــی لـــه وطنـــه
۲۳: ۱۳۲

په پورته بيت کې وتنه (پروا) او وطنه (هېواده) دوې متجانسې کلمې دي چې په ليکلو کې سره توپير لري خو په پښتو لوستلو او تلفظ کې يو راز دي البته په عربي ژبه کې يې لوستل هم توپير لري خو مونږ دلته د پښتو ژبې د تلفظ له مخې دا لفظي تجنيس بولو.

## اشتقاق يا اقضاب:

په کلام کې د دوو يا زياتو داسې کلمو راوړل چې توري يې يو بل ته ورته وي، کېدای شي دغه کلمې له يوې ريشې څخه مشتق شوې وي او يا ريشې يې سره جلا وي.

که ريشې يې سره جلا وي دې ته شبه اشتقاق هم وايي، لاندې بېلګه د اشتقاق:

غلبـه هسـې ډېـر غـم پـه علـي خـان شـه
چـې فـارغ يـې کـړو لـه عـيش او لـه فراغـه
۲۳: ۱۰۵

د فارغ او فراغ کلمو تر منځ اشتقاق موجود دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید ووایم چې د علي خان په دیوان کې د شبه اشتقاق بېلګې هم شته چې یوه بېلګه یې دلته راوړم:

د خسته خاطر شګاف بـه مـې پیوند شـي
کـه یـو خـو خبـرې وکـړې واشـګافې
۲۳: ۱۰۵

په پورته بیت کې شګاف د چاود په معنا او واشګافې د آزادې په معنا ده چې ریشه یې سره یوه نه ده.

تصدیر:

تصدیر هغه صنعت دی چې د دویمې مسرې د پای کلمې یا ویېونه او توري د لومړۍ مسرې په سر کې راوړل شوي وي او یا د یوه بیت کلمه یا کلمې د ورپسې بیت په سر کې راشي دې صنعت ته ردالعجز علی الصدر هم وایي.

لومړۍ بېلګه:

چې د بیت په پیل او پای کې د الف توری راغلی دی:

ابتـدا کـوم پـه اسـم د مـولا
چـې پـه حکـم کـې یـې دي ارض و سـما
ای هغـه جـنس هنـر و د ثنـا
خـاص دي تـا لـه څـه قـدرت دی د بـل چـا
انـس و جـن دي کـه دا نـور عـرب عجـم دي
کـاف و نـون څخـه یـې دواړه کـړل پیـدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشـرف تـور کالبـد د جسـم انسـاني شـه
تـــا وربا خښـــه خلعـــت د کرمنـــا
انبیـا پـه کـي نورونـه د حـق راغلـل
بیـا پـه دوی کـې دې رسـل کـړه سـر بـالا
اولـوالعزم پـه کـې دیـارلس پـه نومونـو
بیـا دې ښـه خـاص کـړو حضـرت پـه تحیـا
امتیـــان د محمـــد طـــه لقـــب یـــو
پـــه قیامـــت بـــه یـــو پـــه نـــورو شـــهدا
امامـــان دې څلـــور واړه مـــا منلـــې
خـــو اعظـــم پکـــې اعظـــم دی هویـــدا
اشـــنایان کـــه نـــا اشـــنا مســـلمانان دي
رب عطـــا کـــا ورلـــه جنـــت المـــاوا
امانـت مـې ایمـان دی خدایـه رحیمـه
مســـتقیم لـــري چـــي لیـــږدم لـــه دنیـــا
آمـــین ولولـــه زمـــا لوســـتونکیه وروره
شـــفقت دې وي پـــه مـــا او پـــه شـــما
اهـل علمـو تـه سـلام د علـې خـان دی
خصوصـــاً بیـــا مـــن یبیـــع الهـــدا
ه: ۸۸- ۸۹

په پورته غزل کې وینو چې د بیتونو پیل او پای په (الف) شوی دی چې دې ته د تصدیر صنعت وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عنوانـــات دي دا ابیـــات معنـــون حکـــم
ښـــه بـــد ګـــوره د محمـــول او د موضـــوع

عمـــده حکـــم د روا نـــاروا کـــوت شـــي
پـــرې راځـــي معاینـــه نقـــض منـــوع

عـام لـه نظمـه کـه یـې څـوک کانـدي پـه نثـر
ویـــل مـــه بویـــه هرګـــز غیـــر مشـــروع

عقـــل نقـــل طبعـــه درې واړه مـــې ملـــه دي
اعتـــراض شـــه پـــرې مـــدفوع بلکـــې مرفـــوع

عـذاب نـه دی نـه ثـواب شـعر خـو ثـوب دی
ګـاه یـې اغونـدي انسـان ګـاه یـې سـبوع

عـــادلان حکـــم هالـــه کانـــدي د بـــدو
چـــې سـند یـــې هـــم اصـــول وي هـــم فـــروع

عاریـــت د معنـــا مـــتن ځکـــه نـــه کـــړم
چـــې غالـــب نـــه دی پـــه مـــا د فکـــر جـــوع

عـــار خـــو نـــه دی اتفـــاق کـــه چرتـــه پـــېښ شـــي
مـــه کـــړه خـــدای چـــې پـــه جســـته وي د رجـــوع

عشـق پـخـوا و اوس چتـې شـو چـې هجـران شـو
ګـران اسـان لیـد شـي پـه وخـت کـې د شـروع

علـي خـان کـه خـم ابرویـو پـه مـلا خـم کـړو
مناســـب دي لـــه محـــراب ســـره رکـــوع

۲۲: ۱۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې بيت کې د بيتونو پيل او پای د (ع) په توري شوی او په دې توګه يې د تصدير صنعت رامنځته کړی دی.

دريمه بېلګه: چې د بيت په پيل او پای کې د (غ) توری راوړل شوی دی:

غنچـــه لبـــه چـــې را ووتـــو لـــه بـــاغ
بېلتانـــه دې د لالـــه ســـينه کـــړه داغ
غـوره کـړی مـې پتنـګ غونـدې پـرې سـوی دی
روغ بـه څـه ځـم سـتا د مينـې لـه چـراغ
غوځـوي مـې يـار چـې ننګـه د رقيـب کـا
بـد نصـيب مـې بـاز پـره کانـدي لـه زاغ
غريبـــي مـــې و دلبـــرو تـــه پېغـــور شـــوه
را تـــه نـــه ګـــوري لـــه کبـــره لـــه دمـــاغ
زه غمـزې د يـار مـين د يـار پـه مـخ کـړم
کلـه سـود د عشـق حملـه وړي بـې سـوراغ
غليمـــې د زمـــاني رقيـــب پـــه ځـــان کـــړم
لـه اوزبکـه ظلـم زيـات کـړي کلـه مـاغ
غـم د ځـان کـوه زاهـده مـا بـه څـه کـړي
اول خپلـــه ږيـــره تـــوره کـــړه صـــباغ
غـاړه خلاصـه کـړه ناصـحه بيـا مـې پرېـږده
پـه اسـتازي نـور څـه نشـته بـې ابـلاغ

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلبــه هســـې ډېـــر غــم پـــه علـــي خـــان شـــه
چـــې فـــارغ يـــې کـــړو لـــه عـــيش او لـــه فـــراغ
۲۳: ۱۰۵

د يادوني وړ ده چې د درېيمې بېلګې د بيتونو پای چې اصلاً په ديوان کې د (غ) پر توري يوه فتحه (زور) کښل شوی دی خو اوس د (ه) په زياتولو سره ليکل کېږي او بايد همداسې وليکل شي په دې توګه:

غنچـــه لبـــه چـــې را ووتـــو لـــه باغـــه
بېلتانـــه مـــې د لالـــه ســـينه کـــړه داغـــه
غـوره کـړی مـې پتنـګ غونـدې پـرې سـوی دی
روغ بــه څــه څــم ســتا د مينــې لــه چراغــه
... ترپايه

دا غزل تر پايه په پورته ډول کښل کېږي په دې ډول مونږ ويلی شو چې نوموړی غزل د تصدير يو بل ډول دی هغه داسې چې د لومړۍ مسرې د پيل توری د دويمې مسرې د پای تر توري يو دمخه راځي.

ځلورمه بېلګه:

چې په سر او پای کې يې د (ق) توری راغلی دی:

قضـــا بنـــد کړمـــه پـــه لومـــه د فـــراق
راغلـــه دا بـــلا لـــه کومـــه د فـــراق
قنـــد د وصـــل بـــه يـــې زر کلـــه شـــرين کـــه
حلـــق مـــې تـــريخ شـــه لـــه زقومـــه د فـــراق

(c) ketabton.com: The Digital Library



قضـــيېرا بانـــدې ډېـــرې دي راغلـــې
ولـــې ســـياله ده معدومـــه د فـــراق

قيامـــت حشـــر ځنكنـــدن عـــذاب د قبـــر
كنايـــات دي لـــه مفهومـــه د فـــراق

قصـد د مينـې څـه چې نـوم بـه يې وانـه خيست
كـــه خبـــر وی څـــوک لـــه نومـــه د فـــراق

قاصـــدان هـــم د يـــار هېچـــرې رانغلـــه
چـــې ســـر پورتـــه كـــړي ســـرګومه د فـــراق

قـــام قبيـــل پوښـــتم كـــه طـــب يـــا نجـــوم ګـــورم
نـــه شـــته هـــيڅ چـــاره معلومـــه د فـــراق

قلـــم و چـــاود كاغـــذ مـــخ پـــه ســـياهي تـــوركړ
چـــې نامـــه شـــوه پـــرې مرقومـــه د فـــراق

قيـنج و نـاز دې علـي خـان لـه برمـه پـرې ږدي پست
عـــرض خـــو واوره لـــه مظلومـــه د فـــراق

۲۳: ۱۰۶

يادونه: د علي خان په ديوان كې د كلمو تصدير نشته.

## بې ټكيو (نامنقوط) صنعت:

دا هغه صنعت دی چې شاعر په خپل كلام كې داسې توري راوړي چې هيڅ ټكي ونه لري؛ لكه:

دا مـــې دم كـــه مـــې همـــدم كـــه د لارام لاړ
هـــم مـــې روح و لاړ لـــه مـــاهم مـــې آرام لاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا امــــرد مــــرور لاړ لــــه ماکـــــه درو
کــه دا حـــورو د محمـــود دارالســــلام لاړ
حمـــــدالله لـــــولم درود ورســــــره لاهـــــم
د ســـودا درود مــــے هـــم لکـــه اعـــدام لاړ
لا د لاســـــه لــــه مـــا دو لکــــه آهـــو کــــه
دلاســـــه کـــــه دلال کـــــه کـــاواک دا دام لاړ
عـــــالم ورک کـــــړ د دلــــدار ول ول کــــاکلو
دا ګـــوار ګـــوار مهـــم لـــه د اســـلام لاړ
لــــه هـــــواده کلـــه رد د ســــلام مـــــومم
کـــه مـــے ســل واره دلــدار لـــره ســلام لاړ
ســــره اوره کـــــه د ســـــحر مطـــــر د درو
کـــه لـــه لعلـــو د ے لـــه مهـــره ډک کـــلام لاړ
هســـے طمـــع د مـــراد ورکـــه ده لـــه دهـــر
لکـــه داد مهـــر لـــه هـــر اولـــو الارحـــام لاړ
معمـــــا مـــــــے ده اووه ســــوه داســـــم
لاهــــم کـــم دی کـــه دوه واره ورلـــه لام لاړ
۲۳: ۸۳

پورته غزل په خپل وخت کې یو غیر منقوط غزل و، اوس هم اکثراً غیر منقوط دی خو ځینې کلمې یې چې د (ی) توری په کې راغلی، د پښتو ژبې د اوسني معیار مطابق ټکي لري لکه د (مې) ضمیر چې په دې غزل کې شپږ ځایه راغلی دی او ټکي نه لري او

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداراز د (دې) ضمير چې د متکلم مخاطب ضمير لپاره دی (ی) يې ټکي نه لري يا د (هسې) کلمه چې (ی) يې بې ټکيو ليکلې ده او همداراز د (هېواد) له کلمې څخه يې د (ې) توری حذف کړی او (هواد) يې کښلی دی.

## اقتباس:

اقتباس په لغت کې له آره د رڼا د وړانګو اخيستل دي او د بديع فن په اصطلاح کې هغه صنعت دی چې شاعر يا ليکوال په خپل نظم يا نثر کې د قران کريم کوم ايت يا د پيغمبر صلی الله عليه و سلم کوم حديث او يا کومه مقوله په بشپړه توګه يا يوه برخه يې را واخلي؛ لکه د علي خان لاندې بيتونه:

اشـــرف تـــور کالبـــد د جســـم انســـاني شـــو
تـــــا ور وباخښـــــه خلعـــــت د کرمنـــــا
اهـــل علمـــو تـــه ســـلام د علـــي خـــان دی
خصوصـــاً بيـــا مـــن يتبـــع الهـــدا
۲۲: ۳۵

***

وابتغـــوا اليـــه الوســـيله تـــه دريـــاد کـــړه
پاڅـــه علـــي خانـــه ورتـــه ګـــوره وســـيلې
۲۳: ۱۵۲

په لومړۍ بېلګې کې د لومړي بيت دويمې مسرې کې (کرمنا) راغلی چې د اقتباس صنعت دی اشاره يې د (بني اسراءيل) سورې (۷۰) ايت (و لقد کرمنا بنی ادم و حملناهم فی البر و البحر و رزقناهم

(c) ketabton.com: The Digital Library



من الطيبات و فضلناهم على كثير ممن خلقنا تفضيلا) ته ده او د دويم بيت دويمي مسرې کې د (من يتبع الهدا) په برخه کې اقتباس دی چې د (طه) سورې ۴۷ ايت کې دغه مسئله ذکر شوې.

(فارسل معنا بنی اسراءيل و لا تعذبهم قد جئنک بايه من ربک و السلام على من اتبع الهدی)

د دويمې بيلګې لومړۍ مسره کې د (المائده) سورې ۳۵ آيت شريف ته اشاره ده:

(ياايهاالذين امنوا اتقوا الله وابتغوا اليه الوسيلة و جاهدوا فی سبيله لعلکم تفلحون)

پورته دریوارو بيتونو کې ايتونه اقتباس شوي دي.

## ذوالقافيتين:

چې په يوه شعر کې دوې قافيې څنګ تر څنګ راشي ذوالقافيتين يې بولي؛ لکه:

دا ټګي بـه يـار تـر کومـه پـه مـا کـه زه بـه يـې ورم ربـو
خـوږين ځګـر بـه څو پـه صبر بـاران اوښـکو تـه پاسلم لېـو
اننګـي کـه يـې ښـکاره کـه زمـا اوښـکې بـه کـه وچـې
دا پــه دا چــې مــدام تبنـتـي د ګوپـان پـه موسـم سـم سـپو
څـه يـم زه څـه مـې قـابو دی چـې ډاډه شـم و هجـران تـه
پـه جنګ ځـای د بيلتانـه کې پـه ځـای نـه وي درستم غرېـو
خـو چـې مـل ورسـره نـه وکيخسـرو ښايسـته مخـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــه مړانــه ګاټــه نــه شــه د پښــن د جنــګ مهــم کېــو
ســلیمان د تخــت د حســن کــه مــدد شــي علــي خــان تــه
بیا به نه مومي که خدای کا پـه دې ځای کې نیم قدم د بېو
۲۳: ۱۳۸

په پورته غزل کې یوه قافیه د (ورېم، پاسلم، سم، رستم، مهم او قدم) په کلمو تړل شوې او وریسې بله قافیه د (رېو، لېو، سېو، غرېو، کېو او د بېو) په کلمو تړل شوې ده.

مصرح تضمین:

د تضمین هغه ډول دی چې تضمین شوې توټې ته ښکاره نغوته په کې شوې وي؛ لکه:

چـــې مـــې زړه د عاشـــقۍ پـــه طریقـــت لاړ
هغــــــه دم ځینـــــې آرام او فراغـــــــت لاړ
دا هغــه قســـم غـــزل دی چـــې صـــاحب وي
لــــه خــــاطره مــــې آرام او جمیعـــــت لاړ
۲۳: ۷۵

پورته درې لومړۍ مسرې د علي خان دي او څلورمه یې د صاحبزاده محمدي ده چې علي خان پرې تضمین کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**معما:**

يو نوم يا نېته او يا مطلب د نثر يا نظم په توته کې په رمز او ايما سره د قلب، تشبيه، تصحيف، تحليل، د جمل حساب، تبديل، ترکيب، اشتقاق، اسقاط او تاليف په صورت راوړلو ته معما يا تعميه وايي؛ لکه:

۱- معمـــا مـــې ده اووه ســـوه د اســـم
لاهـــم کـــم دی کـــه دوه واره ورلـــه لام لاړ
۲۳: ۸۵

په پورته بيت کې اووه سوه ذکر شوي، دوه لامه ۳۰+۳۰ او کم عدد يو دی نو:

۷۰۰+ ۳۰+ ۳۰+ ۱ = ۷۶۱

چې ۷۶۱ د علي خان نوم جوړوي هغه په لاندې ډول:

ع= ۷۰
ل= ۳۰
ي= ۱۰ +
خ= ۶۰۰
ا= ۱
ن= ۵۰

۷۶۱ علي خان

www.melitharik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ـ سن د هجر غر و سر د کاڼي تري کمتر و
ورځ وه د يارلسمه د ذوالحجې په تحرير کې
۲۳: ۸۷

پورته معما دوه ډوله تحليل لري:

الف:

پورته بيت کې (غر) د ابجد په حساب (۱۲۰۰) کېږي.
(غ= ۱۰۰۰، (ر= ۲۰۰) او د کاڼي له سر نه مطلب د (کاڼي) کلمې لومړی توری (ک) دی نو که دغه (ک) چې د ابجد په حساب (۲۰) دی ترې کم شي (۱۱۸۰) جوړوي چې د نومړي غزل نېټه څرګندوي.

ب:

که دغه د (ک) توری پرې ورزيات شي نو (۱۲۲۰) جوړوي، ځکه چې (غر = ۱۲۰۰+ (ک) ۲۰ = ۱۲۲۰) کېږي.

www.melitharik.com 0777 400 110

(c) ketabton.com: The Digital Library



## افراد:

افراد په لغت کې بېلولو او يوازې کولو ته وايي او د بديع په اصطلاح کې چې ناظم د قافيې په کلمې (وېې) يا کلمو (وييونو) کې د الفبې د څو داسې مفردو تورو نومونه راوړي چې د هغو له يو ځای کولو څخه هغه کلمه يا کلمې جوړې شي چې د ناظم مراد وي، په کوم نظم کې چې د افراد صنعت راغلی وي مفرد القوافي يې بولي؛ لکه:

بنـکلي تـل پـرې غـين لـه ميمـه مرکـب بنـکوي
چـــې صـــحفه د چـــا د زړه کـــه مســـطر مينـــه
۲۳: ۱۳۰

په پورته بيت کې (غين له ميمه) مرکب څخه (غم) مراد دی.

يا:

انـس و جـن دي کـه دا نـور عـرب عجـم دي
کـــاف و نـــون څخـــه يـــې دواړه کـــړل پيـــدا
۲۳: ۳۳

په دې بيت کې (کاف و نون) افراد او د (کن) له عربي لفظ څخه مراد دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# معنوي صنايع

هغه صنايع دي چې د کلام او وينا حسن او ښکلا په الفاظو پورې نه بلکې په معنا پورې اړه ولري، دا صنايع هم د لفظي صنايعو په شان د نظم لپاره مهم دي چې د علي خان په ديوان کې يې مختلفې بېلګې شته دي.

د معنوي صنايعو لاندې ډولونه د علي خان له ديوان څخه را اخلو:

## طباق يا تضاد:

په يوه بيت يا شعر کې دوه سره ضد لفظونه راوړل طباق يا تضاد بلل کېږي:

چې خورې زلفې را يادې کړم د ترکو
جمع زړه هغه ساعت شي خور له ما
۲۳: ۳۶

هسې چارې د نادان له لاسه وشي
چې هوښيار به په فکرت په تصوير ګډ که
۲۳: ۱۱۴

ښه يم که بد يم خدا ی ته معلوم يم
غليم ته کانړی و دوست ته موم يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خــواږه تــه خــوږ يــم كــاږه تــه كــوږ يــم
ســمو تــه ســم يــم تــريخ تــه زقــوم يــم
۲۳: ۱۲۵

حبيــب پنــد د رقيــب واخيســت عجــب كــار دى
ملايكــې څــه رنــګ خــوى د خنــاس واخيســت
۲۳: ۴۷

په پورته لومړي بيت كې (خور، جمع)؛ په دويم بيت كې (نادان، هوښيار)؛ په درېيم بيت كې (ښه، بد؛ غليم، دوست؛ كاڼى، موم) په څلورم بيت كې (خوږ، تريخ؛ كوږ، سم؛ كاږه، سمو) او په پينځم بيت كې (حبيب، رقيب؛ ملايكه، خناس) متضادې كلمې دي.

طباق (تضاد) په درې ډوله دى:

۱. اسمي طباق
۲. فعلي طباق
۳. ايجابي او سلبي طباق

۱. اسمي طباق: چې د دوو نومونو يا ستاينومونو تر منځ تقابل يا بېوالى موجود وي؛ لكه د علي خان له ديوان څخه دا لاندې بېلګې:

د وصــال عــيش و عشــرت بــه درنــه هېــر شــي
كــه خبــر شــوې د هجــران لــه ســخت عذابــه
۲۳: ۴۱

وصــال خــوږ دى پــه لــذت يــې نــه مړېــږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو هجران دی په کې تریخ تر زهر نابه
۲۳: ۴۱

ځکه اوس په ما پوره نیمګړې د چا نه ده
پاتې مې کارونه کړه نیمګړي بېلتانه
۲۳: ۱۴۹

نور کافر هم په مؤمن دا هسې نه کا
لکه ما دي نا کړدې وړې د خط
۲۳: ۱۰۱
پس زما د ډېرو اوښکو له بارانه
راغلې ستا د مخ په نمر لړې د خط
۲۳: ۱۰۱

په پورته بیتونو کې په ترتیب سره (وصال او هجران، خوږ او تریخ، پوره او نیمګړې، کافر او مؤمن او باران او نمر) اسمي طباق او یو د بل ضد کلمې دي.

همدا راز په دې بیت کې هم اسمي طباق شته:

دا هم درته نه وایم چې دا که یا هغه که
هومره کړه چې لږ و ډېر مې غوږ په سوال لره
۲۳: ۶۷

په دې بیت کې د (لږ او ډېر) کلمو تر منځ اسمي طباق دی.

۲. **فعلي طباق**: هغه طباق دی چې د فعلونو ترمنځ تضاد موجود وي؛ لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناست ولاړ سـمېدی نـه شـم پـاڅم کښېـنم
بـې آرامــه صـبح و شـام يـم لـه اندوهــه
۲۳: ۱۴۷

په پورته بيت کې پاڅم، کښېنم) دوه متضاد فعلونه دي چې يو د بل په مقابل کې راغلي دي.

۳. **ايجابي او سلبي طباق**: که دوه فعلونه له يوې مادې څخه د مثبت او منفي يا امر و نهې په صورت راوړل شي، ايجابي او سلبي طباق يې بولي؛ لکه:

مـه درومـه چـې درومـې روح مـې درومـي لـه بشـره
راشــه چـې مـې راشـي تللـی عقـل بيـا تـر سـره
ودرېـــږه چـــې ودرېـــږي بـــاران زمـــا د اوښـــکو
مـه ځـه چـې مـې نـه ځـي رود د اوښـکو لـه بصـره
کښـېنوي چـې کښـېني مـوج د غـم زمـا پـه څنګ کـې
پــاڅوي چــې پــاڅي رانــه ماتــه ســل محشــره
نـه وينـم چـې نـه وينـم پـه سـترګو د يـار سـترګې
ويـــنم چـــې يـــې ويـــنم دا وينـــا ده مقـــرره
مـا وهـي چـې نـور وهـي بـلا سـترګې و يـار تـه
کېـږي مـې چـې وبـه کانـدې ماتـه قهـر وېـره
مـه کـوه چـې نـه کـوي ناپسـندې پـه مـا هجـر
وکـړه چـې مـې وکـړي مهـر غـور نـاز پـروره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مه یې پرېږده چې نه پرېږدي هغه ما ستا و درته
ويې شره چې ما شړي رقيب له دغه دره
مه وی چې دی نه وی له هجرانه خبر شوی
بیا که وی خو وی دې چې ته وی زما دلبره
واخله چې مې واخلي غم له زړه حجاب له مخه
روی دې پري روی دی د خوبانو سر دفتره
نه ګوري که وګوري رتلي علي خان ته
زړه به یې پرې نرم شي که سخت وي تر حجره
۲۳: ۶۸- ۶۹

## مقابله:

دا هم د طباق يو ډول دی چې په کې تقابل ياتضاد د دوو جملو يا دوو نيم بيتيو د الفاظو د معناوو ترمنځ راځي؛ لکه:

چې پرون يې لکه دوست هسې نمانځلم
نن مې مرګ ته د دښمن په تنها راغله
۲۳: ۱۴۳

په پورته بيت کې دويمه نيم بيتي د لومړۍ په مقابل کې راغلې ده.

## حسن تعليل:

د يو شي يا يوې طبيعي پېښې لپاره د يوه لطافت له مخې داسې يو دليل يا علت بيانول چې اصلاً يې علت نه وي؛ لکه لاندې بيتونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱.

ځکـه سـترګې زمـا سـرې شـوې هـم نمجنـې
ستـا لـه شـونډو يـې دغـه انعکـاس واخيسـت
۲۳: ۴۶

۲.

ســتا د مــخ ســرخي زمــا زردي چـــې روز افـــزون ده
سـرې شـونډې دې تـل خـوري زمـا خـوار د ځګـر وينـه
۲۳: ۱۳۲

۳.

مـخ يـې اور زلفـې يـې ځکـه پـرې تـاو تـاو شـوې
چـــې وېښـــته و اور تـــه نيســـې خـــو تـــاوېږي
۲۳: ۱۶۶

۴.

چـــا مـــې ځکـــه لاس د ډاډ پـــه ســـر رانـــه ښـــکه
چـــې د روغـــو خلقـــو ســـوزي پـــه تـــبجن لاس
۲۳: ۹۴

۵.

لـــه قامـــت ســـره يـــې دم واهـــه کجـــورې
ځکـه يـې ډکـه شـوه سـږو پـه خنـډ و خـار مـلا
ددې مـــــلا د ګســـــتاخيو لـــــه تعـــــذيره
پـه اره شـوې د شمشــادو صــد هــزار مــلا
تـــوره ورتـــه شـــوه د يـــار د تـــورو زلفـــو
ځکـــه ماتـــه ماتـــه کېـــږي ځـــي د مـــار مـــلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـومره حسـن يـې پـه تـن بانـدې انبـار دی
چـې باريکـه شـوه د يـار پـه دغـه بـار مـلا
۲۳: ۳۷- ۳۸

سياقة الاعداد:

که په يوه نظم کې د اعدادو مرتب يا نامرتب ذکر راشي سياقة الاعداد يې بولي؛ لکه:

ستا د جهـل زنـځ بـه روغ کـا تـاريکي بـه دې فـروغ کـا
دوارېه شمعې د عرفان دي يـو قـرآن دويم حديث
***

يـو قاصـد دويـم ناصـح استـوم يـار تـه
بـد نصيـب پـرې يـو غمـاز کـړو يـو چغـل پـېښ
۲۳: ۹۰

تنسيق الصفات:

هغه صنعت دی چې د يوه شي څو صفتونه پر له پسې راوړل شي؛ لکه:

۱ـ دلربـــا دلـــه دلبـــره دلنـــوازه
دلپـــذيره دلارامـــه دلپســـنده
نېـک نسـبه خـوش لقبـه سـيم غبغبـه
بوالعجبـــه شـــکرلبه شـــکر خنـــده

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـري رويـه سـنبل مويـه عنبـر بويـه
ملـک خويـه ډېـره لويـه هنـر منـده

مـه پيکـره منـوره پـای تـر سـره
نـاز پـروره تـر ګـل غـوره هوشـمنده

سـرفرازه پـه نـادر حسـن ممتـازه
لکـه بـاز پـه ناغـه دارو سـترګو برنـده

مـوی ميانـه پـه تحقيـق سـرو روانـه
خـوش زبانـه تنـګ دهانـه سـربلنده

ګلرخسـاره خـوش رفتـاره وفـاداره
د کمـال لـه هـره کـاره بهرمنـده

د پرهېـز د مېږنـو د سـترګو برېښـه
پـه حلقـو کـې د کـاکلو شـېر افګنـده

ای صـنمه پـه قـد سـمه غنچـه فمـه
عيسـی دمـه زه لـه غمـه شـوم بـې خونـده

... ترپايه
۲۳: ۶۰

۲- ای فتاحـه هـم غنـي برالتوابـه
هـم قدوسـه هـم بـاري رب الاربابـه

هـم سـلام يـې هـم بخښـونکی يـې وهابـه
کـه مـې وسـاتې لـه شـره د هـر بابـه

د سـرور پـه روی مـې خـلاص کـړې لـه عذابـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یـــــا الــــــه العلمـــــــین مهربانــــــه
هــم هــادي بــاقي ســتاره هــم رحمانــه
هــــم حنــــان منــــان دیــــان ربــــه برهانــــه
کــه مــې وســاتې لــه نفســه لــه شــیطانه
د ســرور پــه روی مــې خــلاص کــړې لــه غذابــه
جګـــې جګـــې یـــا قـــادره ذوالجلالـــه
هـــم مؤمنـــه مهـــیمنَ بـــر کمالـــه
ای ملـــکَ لـــم یـــزل و لایزالـــه
کــه مــې وســاتې بــاري د غــم لــه جالــه
د ســرور پــه روی مــې خــلاص کــړې لــه غذابــه

... ترپایه
۲۳: ۱۷۱

پورته شعر تر پایه د الله تعالی جل جلا له صفات بیانوي یعني د تنسیق الصفات صنعت په کې کارول شوی دی. مونږ یې یوازې په لومړي بند اکتفا کوو.

دغه شعر د مخمس یو ډول دی چې لومړي بند کې پینځه واړه مسرې په خپلو کې همقافیه دي او په نورو بندونو کې څلور یې په خپلو کې همقافیه او پینځمه مسره یې کټ مټ له لومړي بند څخه اخیستل شوې او بند پرې تکمیل شوی دی خو له نورو بندونو سره همقافیه نه ده چې دا د مخمس یو ډول ګڼلی شو.

همداراز له ترجیع بند سره هم یو څه ورته والی لري توپیر یې په دې کې دی چې په ترجیع بند کې د بیت په ذریعې بند تړل کیږي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هماغه بيت د هر بند په پای کې تکراري راځي خو په دې ډول مخمس کې بند په يوې مسرې تړل شوی او هماغه مسره د هر بند په پای کې تکرار راغلې ده.

## مراعات النظير:

که په يوې وينا کې څو متناسبې کلمې راوړل شي مراعات النظير يې بولي دغه صنعت ته تناسب او تلفيق هم وايي.

لغت نامه دهخدا کې مراعات النظير داسې تعريف شوی دی: ((در بديع، مراعات النظير يا مراعات نظير يا صنعت تناسب آن است که شاعر يا نويسنده در شعر يا نثر خود کلماتی را به کار گيرد که باهم نسبتی و مناسبتی داشته باشند.))

۱۵: ۲۰۵۹۳

د علي خان په ديوان کې د مراعات النظير صنعت ډېر راوړل شوی دی چې مونږ يې دلته يو څو بېلګې را اخلو:

بــــده جــــدايي ده ســــره لنبــــه د تنــــاره ده
زه يــې اورلړونــی کــړم ګونــه مــې د سکاره ده

۲۳: ۶۰

مــا وې زه بــه پــرې ښــکم د غــم لــه بابــه
زړه ســـکاره د مشـــوانۍ شـــه قلـــم وچـــاود

۲۳: ۶۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېـر دي ميخـانې لـره ورځـي د شـونډو جـام لـه
وايــه تــه خاصــه ســاقي د چــا مغــان د چــايي
۲۳: ۱۵۳

د ښايسـت مارغــه يــې د خـط پـه پـرو والــوت
د عاشـــق پـــه زړه يـــو نرمـــه هـــوا راغلـــه
۲۳: ۱۴۳

بيـــا بـــه لـــو د زړونـــو وكـــړې درپـــوهېږم
چـــې دې ايښـــى پـــه اوږو د زلفـــو لـــور دى
۲۳: ۱۶۰

شــمعه هســې ســتا د مــخ لــه تــاوه ســوزي
چـــې بـــل كـــړى يـــې د ســـر دپاســـه اور دى
۲۳: ۱۶۰

اور د اننګـو دې څـوک پاخـه كـړه څـوک يـې وسـوه
اى پـه مـخ آتشـه سـود د چـا نقصـان د چـا يـې
۲۳: ۱۵۳

په لومړي بيت كې (سره لنبه، تناره، اورلړوني او سكاره) په دويم بيت كې (ښكم، مشوانۍ، قلم) دريم بيت كې (ميخانې، جام، ساقي) څلورم بيت كې (مارغه، پرو، والوت، هوا) پينځم بيت كې (لو، لور)، شپږم بيت كې (شمعه، تاوه، سوزي، بل، اور) او په اووم بيت كې (اور، پاخه، وسوه او آتشه) سره متناسبې كلمې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تدبيج:

په یوه بیت یا نیم بیتي کې د مختلفو رنګونو داسې بیان ته وایي چې د کلام حسن او ښکلا پرې زیاته شي؛ لکه:

چــې ســرې شــونډې سبز خـط یــې را پــه زړه شــي
ســــر تـــر پا یـــه ســـره لنبـــه شـــم شـــنه ډډوزه
۲۳: ۷۳

په دې بیت کې (سرې، سبز، سره، شنه) رنګونه دي چې د تدبیج صنعت یې رامنځته کړی دی.

د نرګســـو ســـترګې زیـــړې لـــه خـــوارۍ شـــوې
غمـــزده سوســـن تـــک شـــین کـــه پـــه وهـــل زړه
۲۳: ۷۸

په پورته بیت کې (زیړې، تک شین) رنګونه دي.

## حسن طلب:

د ادبي تعبیر په ښکلا او ظرافت سره د یو شي غوښتنه ده چې د سوال او ګدایۍ هیله او سپکاوي په کې نه وي او له چا څخه چې غوښتنه شوې وي د هغه د خوښۍ سبب وګرځي، دغه صنعت ته براعة الطلب هم وایي؛ لکه دا لاندې بیلګه:

کـه دې خـال پـه بوسـه وران کـړم څـه نقصـان دی
ســـتا د حســـن لـــه لنبـــکره یـــو ســـور پریـــوت
۸: ۷۵

## حسن مطلع:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غزل یا نظم لومړی بیت په داسې زړه راښکونکي ډول افاده کول چې پر مخاطب دومره اغېزمن واقع شي چې د ټول غزل یا نظم اورېدو ته لېوال او چمتو شي حسن مطلع بلل کېږي؛ علي خان له دغه هنر څخه په ډېر ښکلي ډول کار اخیستی دی:

چې د خیال په لاسو تن د دلبر نسیم
د هلک په دود په لاس کې قمر نیسم
۲۳: ۱۲۸

کله زه یم کله یار کله ربیار سست
څکه شو زما د مینې کاروبار سست
۲۳: ۴۷

آه سپرلی مې د خزان په ناتار تېر شه
ما لاګل بوی کړی نه و بهار تېر شه
۲۳: ۹۵

ای د زړه سلطانه وایه ته سلطان د چا یې
ستا رنځوران ډېر دي وایه ته درمان د چا یې
۲۳: ۱۰۳

www.melitharik.com 0777400116

## حسن مقطع:

د غزل، قصیدې یا نظم وروستی بیت په داسې توګه جوړول چې د موضوع د نیمګړتیا احساس ترې ونه شي او په لوستونکي او اورېدونکي ښه اغېزه وکړي؛ لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



يــوه ورځ بــه دې غــرېږ وشــي علــي خانــه
چــې فلانــی هــم لکــه ګــردو غبــار تېــر شــو
۲۳: ۹۶

محبــــت د حقيقـــت لــــه جامــــه غــــواړي
علــي خــان لــه خدايــه نــه غــواړي د جــم جــام
۲۳: ۱۲۶

زړه يــــې درســـت لکـــه شــانه پــاره پــاره دی
مــوی پــه مــوی يــې صــفت ځکــه علــي خــان کــه
۲۳: ۱۱۰

څــو کــړې پګــړې دې پــرې ايســتې آســمانه
ځکــه نــه ږدي علــي خــان پــه ســر دســتار کــج
۲۳: ۵۶

سيند خوني ځلور خيګونه بيا هر يو سره جوړ نه دي
څه به جوړ علي خان ناست وي په دغه ورانه جاله کې
۲۳: ۸۹

## لف و نشر:

که شاعر په يوه مسره يا يوه بيت کې ځيني مطالب د اجمال په صورت راوړي او په بله مسره يا بيت کې يې تفصيل وکړي، لف و نشر يې بولي.

لف و نشر په دوه ډوله دی:

۱. مرتب لف و نشر
۲. نا مرتب لف و نشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. مرتب لف و نشر: که په لف و نشر کې ترتیب مراعات شوي وي مرتب لف ونشر یې بولي؛ لکه:

حبیب پند د رقیب واخیست عجب کار دی
ملایکې ځنګه خوی د خناس واخیست
۲۳: ۴۷

۲. نامرتب لف و نشر: که په لف و نشر کې ترتیب نه وي مراعات شوی نامرتب لف و نشر یې بولي؛ لکه:

سیاه چشمه چې په کج نظر نګاه که
عقل کج که د عاشق بخت یې سیاه که
۲۳: ۱۰۸

په لومړۍ بیلګې کې د (حبیب) په مناسبت (ملایکه) او د رقیب په مناسبت (خناس) راوړل شوي، څرنګه چې ترتیب پکې مراعات شوی نو مرتب لف و نشر دی او په دویمه بېلګه کې د (سیاه چشمه) په مناسبت (سیاه بخت) او د (کج نظر) په مناسبت (عقل کج) راوړل شوي دي، دا چې ترتیب یې نه دی مراعات کړی نو نامرتب لف و نشر یې بولي.

**جمع:**

هغه صنعت دی چې څو شیان تر یوه حکم لاندې راشي؛ لکه:

اوښکې تېل صبر پنبه لرم اور مینه
بارې خدای مې چراغ نه کړ د اقبال بل
۲۳: ۱۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



قیامــت حشــر زنکــدن عــذاب د قبــر
کنایـــات دي لـــه مفهومـــه د فـــراق
۲۳: ۱۰۶

اوبــه خــاورې هــم هــوا بــه کـړې را لانـدې
کـه د پـول پـه شـانې جوړه پـه ځان لار کـړې
۲۳: ۷۷

په لومړۍ بېلګې کې (اوبنکې تېل، صبر پنبه، اورمینه) د بل اقبال لپاره تر یوه حکم لاندې راغلي دي، په دویمه بېلګه کې (قیامت، حشر، زنکدن، عذاب د قبر) د فراق تر حکم لاندې او په درېیمه بېلګه کې (اوبه، خاورې، هوا) د تسخیرولو تر حکم لاندې راغلي دي نو ځکه یې جمع بولو.

## مبالغه:

دا هغه معنوي صنعت دی چې شاعر د یو چا یا یو شي صفت یا غیبت تر خپل ټاکلي حد او اندازې زیات وښیي، مبالغه په درې ډوله ده:

۱. تبلیغ
۲. اغراق
۳. غلو

۱. تبلیغ: دا هغه صنعت دی چې د مدعا واقع کېدل د عقل او عادت له مخې ممکن وي؛ لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



مه درومه چې درومې روح مې درومي له بشره
راشه چې مې راشي تللی عقل بيا تر سره
۲۳: ۶۸

۲. اغراق: دا هغه معنوي صنعت دی چې مدعا د عقل له مخې امکان ولري خو عادتاً ناممکنه وي؛ لکه:

غم يې هسې ناتوان کړم په وښته له ځايه لوېږم
زړه مې يو وړه دانه د غوښت يا د ګدن شوه
۲۳: ۱۴۷

۳. غلو: هغه معنوي صنعت دی چې مدعا عقلاً او عادتاً امکان ونه لري؛ لکه:

نمر يې دف آسمان يې ډم زمانه وينځه
د هر چا چې معشوقه په رضا راغله
۲۳: ۱۴۳

## التفات:

التفات په لغت کې د سترګو په ګوټ کتلو ته وايي او د ادب په اصطلاح کې هغه صنعت دی چې عبارت په يو رنګ روان وي او بيا له خپل سياق نه واړول شي. په پښتو ادب کې يې د لاندې ډولونو مثالونه موندل شوي دي:

۱. له غايب نه متکلم ته: دا معنا چې کلام د غايب په صيغه روان وي او ورپسې متصل د متکلم په صيغه واوړي؛ لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



علـي خـان غونـدې بـه تـل تروټـه تـاوان وي

سـوداګر چـې د ديـدن وي لکـه زه

۲۳: ۷۱

لومړنۍ مسره د غايب په اسلوب روانه ده او ورپسې هم هماغه بيان دی خو د متکلم په صيغه اړول شوې ده.

۲. له متکلم نه غايب ته: يعنې چې کلام د متکلم په صيغه روان وي او بيا د غايب صيغې ته يې واړوي؛ لکه:

کـه هـر څـو لـه صـبره آه و فريـاد نـه کـړم

نـه دی حـال د علـي خـان غونـدې غمجـن پـټ

۲۳: ۵۲

چې (زما غوندې غمجن) متکلم صيغې پر ځای د تفنن لپاره (علي خان غوندې غمجن) د غايب صيغه راوړې ده.

۳. له مخاطب نه غايب ته: دا معنا چې کلام د مخاطب په صيغه روان وي او بيا يې د غايب په صيغه راوړي؛ لکه:

يـوه ورځ بـه دې غـږ وشـي علـي خانـه

چـې فلانـی هـم لکـه ګـرد و غبـار تيـر شـه

۲۳: ۹۶

په پورته بيت کې شاعر د (علي خانه ته به هم لکه ګردو غبار تير شې) مخاطب صيغې پر ځای د غايب صيغه راوړې ده.

د يادونې وړ ده چې التفات درې نور ډولونه هم لري چې بېلګې يې د علي خان په ديوان کې زما تر سترګو نه شوې، هغه ډولونه په لاندې توګه دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴. له مخاطب نه مخاطب ته
۵. له مخاطب نه متکلم ته
۶. له متکلم نه مخاطب ته

## عارفانه تجاهل:

هغه صنعت دی چې په کلام کې د لطافت او نزاکت پیدا کولو لپاره شاعر په یوې ښکاره خبرې ځان ناګاره او بې خبره واچوي.

عارفانه تجاهل په څلور ډوله دی:

۱. مدحه یا ستاینه
۲. حیرت یا تحیر
۳. تحقیر (سپکاوی)
۴. غندنه (هجوه)

دلته یوازې د دوو لومړنیو ډولونو بېلګې را اخلو:

## مدحه یا ستاینه:

مستـــه سـر لــه خیالــه کــوږ وږي لکــه سـرو
کـه باریـک ورمېږ یـې شـو پـه درانـه بـار کـج
۲۳: ۵۶

اننګـي دي کـه سـپوږمۍ ده کـه سـور ګـل دی د لالا دا
یـا د زړونـو آیینـه ده یـا خـو نمـر دی پـه رښـتیا دا
۲۳: ۳۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حیرت یا تحیر:

دا یـــې زلفـــې پـــه مـــخ لګـــي زه حیـــران یـــم
کـه زنګـي دی چـې پـه لاس یـې نبـراس واخیسـت
۲۳: ۴۷

دا پـــه تـــوره شـــپه کـــې لمـــر دی حیرانېـــږم
کـه جبـین د یـار جلـوه کـه پـه مشـکینه کلالـه کـې
۲۳: ۸۹

## محتمل الضدین:

که یوه معنا په داسې الفاظو کې راوړل شي چې د هغې معنا ضد او مخالفه معنا هم ترې اخیستل کېږي محتمل الضدین یې بولي؛ لکه:

خــو چــې ولیــد شــي د مینــې پــه ورشــو کــې
رقیبـــان کـــه علـــي خـــان لکـــه شـــغال غـــل
۲۳: ۱۱۹

## سوال او ځواب:

په دې صنعت کې په یوه نیم بیتي یا بیت کې سوال او په بل کې ځواب راوړي، چې دغه صنعت ته سوال او ځواب یا مراجعه وايي؛ لکه:

مـا وې ورکـه شـه سسـتي راسـتي پـه کـار ده
کـــم رســـېږي و مطلـــب تـــه طلبګـــار سســـت
دوی وې نـــه سســـتي کمـــال دی کـــه پـــوهېږې
همېشـــه بـــه وي کارونـــه د هوښـــیار سســـت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماوې سر په نقصانونو کې سستي ده
ځکه غل وهي دوکان د پیره دار سست
دوی وې رزق هم په تېره لمبه خمسوز شي
مزه ډېره که چې پوخ شي په انګار سست
ماوې ډېر ارمان به که په وخت د درمن
چې د کار په موسم خوزي زمیندار سست
دوی وې چست رسي مطلب ته هغه خلق
چې کارونه په هنر که په مدار سست
ما وې ښه د مصلحت په وخت سستي ده
ولې مه بویه سړی په وخت د کار سست
که سستي په ډېرو چارو کې هنر دی
خو یار مه شه په غورونو کې د یار سست
لاڤې شافي صادقان عاشقان نه کا
علي خان د کردار ټینګ کوي ګفتار سست
۲۳: ۴۸

## مدعا مثل:

چې شاعر په یو نیم بیتي کې یو مطلب راوړي او په بل نیم بیتي کې د هغه د اثبات لپاره یو مثال وړاندې کړي؛ لکه:

رذاله که دولتمند شي څه لوی نه شو
ګڼه خس و بر بوکي یوړو په پورته
۲۳: ۴۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـا وې سـر پـه نقصـانونو کـې سسـتي ده
ځکـه غـل وهـي دکـان د پيـره دار سسـت
۲۳: ۴۸

ښـــه خـــوي بـــد کـــړ ديـــار بـــدو همنشـــينو
سپين تـار تـور شـي چـې يـې غـړي پـه خيـرن لاس
۲۳: ۹۴

سـتا لـه زلفـو شـونډې زيـاتې خونخـورې دي
لـه هنـدکي نـه ظلـم زيـات کـړي قزلبـاش
۲۳: ۹۹

چـــې څـــوک طمعـــه د وفـــا کـــه لـــه مجـــازه
ګويـــا غـــواړي د منـــې لـــذت لـــه پيـــازه
۲۳: ۷۲

تلميح:

په لغت کې يوه شي ته کتل او اشاره کول دي او د بديع په اصطلاح کې هغه صنعت ته وايي چې شاعر په خپل نظم يا شعر کې يوې تاريخي پېښې يا قصې ته اشاره وکړي؛ لکه:
لومړی بېلګه:

سيند د غـم کـه مـې سـم قـده کـم کـه ښـايي
پـه همسـا د موسـی سـيند د قلـزم وچـاود
۲۳: ۶۵

په دې بيت کې د موسی عليه السلام مشهورې قصې ته اشاره ده، کله چې موسی عليه السلام له بني اسراييلو سره له رود نيل نه تېرېده نو سيند ته يې په امسا اشاره وکړه، سيند دوه ټوټې شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او لاره په کې جوړه شوه دوی تېر شول، کله چې فرعونیان ورننوتل نو ډوب شول، دا د موسی علیه السلام معجزه ده.

دویمه بېلګه:

کـه واړه معشـوقې لـه عاشـقانو بـې پـروا وای
نـه بـه مـړه لـه هجـره پـه فرهـاد پسـې شـېرینه
۲۳: ۱۳۱

په دې بیت کې د فرهاد او شېرینې د مینې داستان بیانوي او اشاره ورته کوي.

درېیمه بېلګه:

مجنـــون شـــاه د عاشـــقانو د مجـــاز و
چـې یـو دم نـه و بـې سـوزه او بـې ګـدازه
۲۳: ۷۰

په پورته بیت کې د لیلا او مجنون د مینې مشهورې قصې ته اشاره ده. سربېره پردې د علي خان په دیوان کې ډېر تلمېحات راغلي دي چې لاندې یې یو څو نورې بېلګې هم را اخلو:

بـــې دنیـــا حـــاتم طـــايي د زمـــانې و
ځـان یـې پـاک سـاته د زرو لـه دنسـه
۲۳: ۹۳

په پورته بیت کې د حاتم طايي کیسې ته اشاره ده.

کـه پـرې ولوسـته افسـون خـو دم پـه دم شـو
لـــه درخـــو چـــا اراوه ادم پـــه دم شـــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کــه ګلنــازې ورتــه ځــان ســتايه پــه وصــف
ادم خــان تــه بــه د لاســه ذم بــه ذم شــو
۲۳ : ۹۶

په پورته بيتونو کې د ادم خان او درخانۍ فولکوريکې کيسې ته نغوته شوې ده.

مجنـــــون شــــــاه د عاشــــــقانو د مجــــــاز و
چــې يــو دم نــه و بــې ســوزه او بــې ګــدازه
کــه معشــوق د چــا مملــوک وي هــم پــه دوک وي
زلېخــــا يوســــف محمــــود کــــړه لــــه ايــــازه
ادم خــــان چــــې د درخــــو زلفــــو پــــای بنــــد کــــړ
پــــه غــــرض يــــې نــــه طوطــــا و نــــه ګلنــــازه
ميرمــــــايي د درخــــــانۍ ازار زړګــــــی کــــــړ
لا بــلا يــې شــوه پــه درســت هــازي خېــل ســازه
هيــــر رانجــــا کلــــه پــــه مينــــه خــــوا ســــړه کــــړه
د فرهــــاد شــــيرينۍ شــــوه بــــودۍ غمــــازه
د سيســــو هجــــر پينــــو لــــه خــــاورو خــــوار کــــړو
د بهــــــــرام د بېلتانــــــــه قصــــــــه درازه
د صــــاحب د زړګــــي خونــــه دې تــــالا کــــړه
پــــوره نــــه شــــوې د مکــــۍ د واده ســــازه
قلنــــدر ســــوات تــــه شــــړي لــــه ارتــــه هنــــده
خــــومره ډېــــر شــــوي د ميــــرا د حســــن نــــازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـــه مــرزا کــه صــاحبان کــه موســی خــان وو
مینـــې نـــه کـــړه د یـــوه بشـــره بښـــېرازه
قطبـــي نـــازو پـــه مینـــه کـــې چانـــدي وو
بلـــو یـــې پـــرې یســـته د مینـــې لـــه شـــنازه
مشـــتري مهـــرۍ ربښـــتیني عاشـــقان وو
تـــا تـــرې څـــه غوښـــته بهـــرام خـــره بینمـــازه
چـــې عزیـــز و د رشـــتیه مینـــې تتلـــی
پـــټ تـــرې ولـــې شـــوي شـــاهده دغابـــازه
کـــه شـــاهۍ لکـــه غنچـــه دهـــان بســـته وه
عشـــق یـــې خولـــه کـــړه پـــه فریـــاد لکـــه ګـــل وازه
وامـــق څـــه لا کـــه عاشـــق جـــلال کـــه نـــل وو
بهـــره یـــاب نـــه شـــو د وصـــل لـــه رکـــازه
د ملـــوک پـــه زړه بـــدرۍ مســـخرې وکـــړې
د مرغـــۍ پـــه دود تـــرې لاړه خـــوش پـــروازه
۲۳: ۷۰

پورته بیتونه د علي خان د یو غزل دي چې د تلمیح صنعت پکې په ډېره پیمانه کارول شوی دی. په دې بیتونو کې په ترتیب سره د لیلا مجنون، یوسف زلیخا، محمود او ایاز، ادم خان او درخانۍ، طوطا او ګلنازه، هیر او رانجا، فرهاد او شیرینۍ، سیسو او پینو، شهزاده بهرام او ګل اندامه، صاحب او مکۍ، قلندر او میرا، مرزا، صاحبان، موسی خان، قطبي، نازو، بلو او مینه، مشتري او مهري،

(c) ketabton.com: The Digital Library



عزیز او شاهد، شاهي (کېدی شي د دلی او شهیٖ کیسې ته اشاره وي)، وامق او عذرا، جلال، نل او دمن، بدرۍ او ملوک فولکلوریکو کیسو ته اشاره شوې ده.

## ارسال المثل:

چې شاعر په خپل شعر کې متل راوړي، دغه صنعت ته ارسال المثل وايي. همداراز په اریانا دايرة المعارف کې ارسال المثل داسې راپېژني:

((د بدیع په علم کې هغه صنعت ته ویل کېږي چې شاعر په خپل شعر کې یو مشهور متل په ځانګړې طریقه ځای کړې وي.)) ۱: ۳۰۷

د علي خان په دیوان کې د ارسال المثل ډېرې بېلګې شته دي، دلته يې یو څو را اخلو؛ لکه:

دا متل دی له برده نه    څه پرده څه يې پروا

۲۳: ۳۵

سوي زړونه په احتیاط ساته دلبره

متل یاد لره د سوي لوغړن لاس

۲۳: ۹۴

کچه تریخ وي خو چې پوخ شي هله خوږ شي

دا متل مثال که غواړې ختکی دی

۲۳: ۱۶۳

ور د بل په کوته وهل خپل ور نړول دي

وېره له چا مه کړه خو خپل ځان سنبال لره

۲۳: ۶۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلوريځې

څلوريځه (رباعي) هغه دوه بيتونه دي چې لومړی، دويمه او څلورمه مسره يې مقفی او څلور واړه مسرې يې په وزن سره برابرې وي يا دا چې څلور واړه مسرې يې مقفی او يو وزن ولري، په بله وينا رباعي دوه بيتونه دي چې لومړی بيت يې مصرع او دويم بيت يې غير مصرع وي او يا دا چې دواړه بيتونه يې مصرع وي.

۰ :۱۰

د پښتو ادب په تاريخ کې تقريباً د هر پاخه شاعر د ديوان په پای کې څلوريځې راوړل شوې دي او دا حقيقت ترې څرګندېږي چې له مجازه يې د حقيقت لوري ته مخه کړې ده.

((...تقريباً هر شاعر د خپل ديوان وروستۍ برخه ورته وقف کړې ده چې دا پخپله د يوه شاعر د پاخه عمر د تجاربو پايله ګڼلای شو.))

۰ :۱۰

لکه څنګه چې څلوريځې د پخې تجربې او پوخ عمر زېږنده دي او د علي خان په ديوان کې د ګوتو په شمېر څلوريځې موندلی شو هغه هم د موضوع په لحاظ له نورو سره توپير لري ځکه خو ويلی شو چې علي خان ډېر پوخ عمر نه درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د علي خان په رباعياتو کې که څه هم ډېرې لرېې او د ګوتو په شمېر څلوريځې دي اکثراً مجازي مينه راغلې ده؛ لکه :

مينــــې د ترکـــو هســـې تتلـــى يمـــه
څــه شـــي کــه ګــرځم زه يـــې وژلـــى يمـــه
چـې نـه يـې يـار کـړم نـه يـې اغيـار کـړم
پــه شـــان د مـــار يـــې پـــه مــنځ وهلـــى يمــه

۲۳: ۱۷۷

وروسته بيا له مجازه وځي او د ژوند بل اړخ چې حقيقت او رښتيا دي ورته مخه کوي:

نـــا اشـــنا ښـــه دى اشـــنا تڼګـــل کـــوي
يـــاران مـــاران شـــو اکثـــر چيچـــل کـــوي
ازمـــوده يـــار کـــړه لـــه غيـــرو ډار کـــړه
واړه غولـــول کـــوي کـــار چلـــول کـــوي

۲۳:۱۷۸

دا چې د علي خان څلوريځې محدودې دي نو دلته يې پاتې برخه را اخلو:

کـــه شـــب و روز يـــې پـــه درکـــې رغـــړم
يـــا د زړه نـــواړي و يـــار تـــه ســـپړم
نـــه راتـــه ګـــوري نـــه څـــه پـــروا لـــري
بيهـــــوده پـــــړي د شـــــکو غـــــړم

۲۳: ۱۷۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



کــــه مــــې زهــــره لــــه غمــــه چــــاوده
خــــو ککــــرۍ مــــې تــــرې لا بچــــاوده
پــرې بــه يــې نــه ږدم کــه د يــارۍ پــت دی
دنيــــا مــــې واړه پــــه يــــارۍ داو ده
۲۳: ۱۷۷

ای چــې تــر لمــره روښــان جبــين لــرې
اننګــې دواړه تــر ســپوږمۍ ســپين لــرې
غــم دې د نــورو دوســتانو لــرې کــړ
مــا بــه تــر کومــه پــورې غمګــين لــرې
۲۳: ۱۷۷

د غــــم کرکنــــډې راپســــې رغــــړې
بــــل تماشــــا شــــوم د روغ وګــــړې
ســــېلاب د هجــــر هســــې لاهــــو کــــړم
کــــه بــــوټی نيســــم لــــه وېخــــه لــــوړې
۲۳: ۱۷۸

بــار دارې ونــې مهجــور تــه شــنډې شــوې
دروغ دروغ وو پســــې کرکنــــډې شــــوې
علــې خــان ځنګــه لــه غــم پــه ځنــګ شــې
چــې د خــوار ســپينې هجــران تــه لنډې شــوې
۲۳: ۱۷۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قافیه

قافیه د عربو په لغت کې وروسته، شا، شټ او وروستۍ تلونکي ته وايي، او په اصطلاح کې هغه پوهنه ده چې د بیتونو د دورونو د پای د کلمو له همغږيو څخه بحث کوي.

یا په بله وینا د مصرع بیت د هرې مسرې او د غیر مصرع هر بیت د پای کلمه چې شعر ورباندې ختمیږي او اعاده یې په ورپسې بیتونو کې لازمه وي قافیه بلل کیږي.

۹: ۰

علي خان د کلاسیکې دورې په شاعرانو کې تر خوشحال خان وروسته اکثراً درنه قافیه استعمال کړې ده.

مخکې له دې چې د علي خان په شعرونو کې د قافیې کلمې وڅیړو، لومړی د قافیې کلمې پېژنو:

## د قافیې کلمې:

هغه کلمې چې د دورونو په پای کې لازمه هم آهنګي ولري د قافیې کلمې یې بولي. همداراز د قافیې فن نومي اثر کې د قافیې کلمې داسې تعریفوي: «د دورونو په پای کې هغه کلمې چې لازمه هماهنګي پکې مراعات شوي وي د قافیې کلمې بلل کیږي.» ۲۶: ۸

؛ لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ســـتا د مـــخ ګلونــه نـــوي دي کـــه نـــه دي
بلـــبلان يـــې ســـينه ســـوي دي کـــه نـــه دي
پـــه بهانـــه بهانـــه مـــې وينـــې د زړه روي
دواړه ســـره کســـي دې روي دي کـــه نـــه دي
چـــوي زړه پـــه کـــروړه د تـــورو زلفـــو
کـــړې روځـــې يـــې برچـــوي دي کـــه نـــه دي
اننګـــي يـــې پـــه بوســـه ســـره زخمـــي شـــوه
د اومـــو پيـــو پېـــروي دي کـــه نـــه دي
کـــه ورمېـــږ يـــې د اصـــلي چنـــدنو ښـــاخ دی
ښـــاماران يـــې تـــور پييـــوي دي کـــه نـــه دي
عاشـــقان کلـــه ســـرونه لـــه يـــار ژغـــوري
واړو ايښـــي پـــه ورغـــوي دي کـــه نـــه دي
ســـرو مـــال د محبـــت پـــه جـــوارۍ کـــې
مـــا پـــه تـــا پســـې بـــايللي دي کـــه نـــه دي
چـې دې سـترګې د يـار سـرې شـوې علـي خانـه
ســـتا پـــه خـــون ګـــواهي لـــوي دي کـــه نـــه دي
۱۶۰ :۲۳

د پورته غزل په بيتونو کې (نوي، سوي، روي، برچوي، پېروي، پييوي، ورغوي، بايللي او لوي) د قافيې کلمې دي او (دي که نه دي) يې رديف دی.

اوس د علي خان په ځينو نورو شعرونو کې د قافيې کلمې ټاکو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی بېلګه:

د اشنا د ښېلتانه له ډزه ډوزه
هسې وسوم لکه وسېزي څوک دروزه
چې سرې شونډې سبز خط يې را په زړه کړم
سر تر پايه سره لنبه شم شنه ډډوزه
۲۳: ۷۳

د پورته غزل د قافيې کلمې (ډزه ډوزه، دروزه، ډډوزه) او همداراز ددې غزل د نورو بيتونو د دورونو په پای کې د قافيې کلمې په ترتيب سره (کوزه، وربوزه، وروزه، رموزه، چوزه او اوزه) دي چې هماهنګه برخه يې (وزه) ده او تر پايه يې دغه برخه همدومره ساتلې ده.

دويمه بېلګه:

دا ټګي به يار تر کومه په ماکه زه به يې ورم ربو
خوږين څګر به څو په صبر باران اوښکو ته پاسلم لېو
اننګي که يې ښکاره که زما اوښکې به که وچې
دا په دا چې مدام تبنتي د ګوپان په موسم سم سېو
څه يم زه څه مې قابو دی چې ډاډه شم و هجران ته
په جنګ ځای د ښېلتانه کې په ځای نه وي درستم غرېو
خو چې مل ورسره نه وکيخسرو ښايسته مخې
په مړانه ګاټه نه شه د پشن د جنګ مهم کېو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلېمان د تخت د حسن که مدد شي علي خان ته
بیا به نه مومي که خدای کا په دې ځای کې نیم قدم د یو
۲۳: ۳۸-۳۹

پورته غزل ذوالقافیتین بلل کېږي ځکه چې د دورونو په پای کې یې دوې دوې قافیې راغلې دي چې ددې غزل د دورونو په پای کې د قافیې کلمې په ترتیب سره (رېو، لېو، سبو، غرېو، کېو او دېو) دي چې (بو) یې هماهنګه برخه ده، همداراز (ورم، پاسلم، سم، رستم، مهم او قدم) یې هم د قافیې کلمې دي چې یوازې (م) یې هماهنګه برخه ده.

درېیمه بېلګه:

نن مې ولید د روغ والو مال خوړونی
مال لا څه چې د ژوندي سري زړه وړونی
زه یې پټې جفا هسې لوغړن کړم
لکه پټ سوزي د سري اور لړونی
۲۳: ۱۵۳

د پورته غزل د قافیې کلمې (خوړونی، زړه وړونی، اورلړونی) او د نورو بیتونو د دورونو په پای کې په ترتیب سره (مچ شړونی، سرتړونی، پړونی، کارکړونی) دي چې هماهنګه برخه یې (ړونی) ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلورمه بېلګه:

کــه شــب و روز یـــې بــه در کـــې رغــړم
یـــا د زړه نـــــواړي و یـــــار تـــــه ســــپړم
نـــه راتـــه ګــوري نـــه څـــه پـــروا لـــري
بېهـــــــوده پـــــــړی د شـــــــګو غـــــــړم

۲۳: ۱۷۷

د پورته څلوریځې د قافیې کلمې (رغړم، سپړم او غړم) دي چې (ړم) همآهنګه برخه ده.

www.melitharik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



## علي خان او نوري ژبې

د علي خان د ديوان تر ژورې او دقيقې لوستني وروسته دا څرګندېږي چې دی يو لوی عالم او شاعر و، سربېره پر پښتو په دري ژبې هم پوره پوهېده، دا چې په شعرونو کې يې ډېرې عربي کلمې راغلي حتی پرې يې قافيه تړلې نو په دې کې شک نه شته چې عربي ژبه يې هم زده وه. د بېلګې په توګه يې لاندې غزل ته پاملرنه کوو.

عالمـــان شـــعر پـــه څـــه ګڼـــي ممنـــوع
پـــه قـــران کـــې ډېـــر لفظونـــه دي مســـجوع
عـــين حســـن د ثقـــاتو هـــم پـــه دا کـــې
ډېـــر ابيـــات لـــه آنحضـــرته دي مســـموع
عقايـــد فقـــه ســـلوک راوړه پـــه نظـــم
بلاغـــت رښـــتيا قصـــص ښـــه دي مقطـــوع
عجيبـــه مجـــاز صـــفت نظـــر قـــدرت تـــه
لـــه عفـــت ســـره حســـن وي هـــم مشـــروع
عبـــث پـــوچ دروغ ويـــل وي کـــه کنځـــل وي
بـــې لـــه نظمـــه هـــم قبـــيح وي پـــه وقـــوع
عنوانـــات دي دا ابيـــات معنـــون حکـــم
ښـــه بـــد ګـــوره د محمـــول او د موضـــوع
عمـــده حکـــم د روا نـــاروا کـــوت شـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـــرې راځـــې معاينــــه نقـــض منـــوع
عـام لـه نظمـه کـه يـې کانـدي څـوک پـه نثـر
ويـــل مـــه بويـــه هرګـــز غيـــر مشـــروع
عقـــل نقـــل طبعـــه درې واړه مـــې ملـــه دي
اعتـراض شـو پـرې مـدفوع بلکـې مرفـوع
عـذاب نـه دی نـه ثـواب شـعر خـو ثـوب دی
ګـاه يـې اغونـدي انسـان ګـاه يـې سـبوع
عـــادلان حکـــم هالـــه کانـــدي د بـــدو
چــې سـند يـې هـم اصـول وي هـم فـروع
عاريـــت د معنـــی مـــتن ځکـــه نـــه کـــړم
چـې غالـب نـه دی پـه مـا د فکـر جـوع
عـار خـو نـه دی اتفـاق کـه چېرتـه پـېښ شـي
مـه کـړه خـدای چـې پـه جسـته وي د رجـوع
عشـق پخـوا و اوس چتـې شـو چـې هجـران شـو
ګـران اسـان ليـد شـي پـه وخـت کـې د شـروع
علـي خـان کـه خـم ابرويـو پـه مـلا خـم کـړو
مناســب دي لـــه محــراب ســره رکـــوع
۲۳: ۱۰۳-۱۰۴

په پورته غزل کې سربېره پر مروجه لغتونو لکه عالمان، شعر، لفظ او داسې نور، د قافيې ټولې کلمې په عربي دي؛ لکه: (ممنوع، مسجوع، مسموع، مقطوع، مشروع، وقوع، موضوع، منوع،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرفوع، سبوع، فروع، جوع، رجوع، شروع او رکوع)، سربېره پردې دده په شعرونو کې نور عربي لغتونه هم راغلي دي خو موږ په همدې يوې بېلګې بسنه کوو.

علي خان په دري ژبې کې هم شاعرانه مهارت ښودلی دی، چې هغه دده په دوو غزلونو کې ښکاري، ده صرف همدا دوه غزلې په دري ژبې ويلې او د شعر جادو يې را څرګنده کړې ده، هغه غزلې په لاندې ډول دي:

سماع وعظ واعظ گر به گوشم درنمی ارزد
نوای نغمهٔ بربط به گوشم گر نمی ارزد
نزاکت خوش ندارد شعر برگفتار افغانی
بهای نکتهٔ فارس برین دفتر نمی ارزد
بزلفش گفتم ای مهرو که جان بستان بده یک مو
بگفتا جان بې ابرو بموی سر نمی ارزد
گرو کن چشم بې خوابم بده جرعه می نابم
بگفتا قطرهٔ ز ابم خم کوثر نمی ارزد
بدو گفتم که جان من منم بلبل درت گلشن
بگفتا خاک کوی من به سیم و زر نمی ارزد
نگه کن از غمت میرم سر کوی تو بپذیرم
که در جنت شود قبرم بگفتا در نمی ارزد
بگفتا مردم از چشمت نظر برمن کن از رحمت

(c) ketabton.com: The Digital Library



بگفتــا اینچنــین نعمــت بــرین احقــر نمــی ارزد
بیــین ســوزنده آه مــن کــه آتــش زد بــه کــاه مــن
بگفــت آن شــه نگــاه مــن بــه بــد اختــر نمــی ارزد
علی خـان مـرد از هجـرت بجـان کنـدن شـد از حسـرت
تــو دســتم گیــر ای حضــرت در دیگــر نمــی ارزد
۶۲ :۲۳

پورته غزل چې د سوال ځواب صنعت په کې کارول شوی د عاشق او معشوق خبرې منعکسوي، په اووم بیت کې زما په نظر لږ څه تېروتنه راغلې ده غالباً په لیکنه کې تېروتنه شوې او اصلي نسخه به سمه وي (بگفتا مردم از چشمت نظر برمن کن از رحمت) دا د علي خان غوښتنه د هغه له معشوقې ځخه ده نه د معشوقې له هغه ځخه، نو ځکه کېدی شي چې مسره داسې وي:

(بگفتم مردم از چشمت نظر برمن کن از رحمت).

بل غزل یې دا ډول دی:

زبــس باریــدن اشــکم معصــفر شــد عــذار مــن
زهــی یــاران کــه نــه نشــاند هنــوز از دل غبــار مــن
درون ســـینه ام بحـــر فـــراقش مـــوج زد امـــروز
بپـرس احـوال دل ای جـان ز چشـم اشـکبار مـن
بــه آه ســرد اشــک تــر هــوا کــردم زمســتانی
کنــون هرگــز نمــی آیــد بــرون از در نگــار مــن
ســری چــون گــوی درمیــدان عشــق انــداختم زیــن ره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـه بـر چوگـان زلـف آیـا ربایـد شهسـوار مـن
علـو شـان آن دلبـر جـلال و جـاه را بنگـر
مـزد گـر عـار دارد از وجـود خاکسـار مـن
ز زلـف بیقـرار او چـو ارام و سـکون خواهـد
چسـان دیـوانگی دارد دل بـس هوشـیار مـن
گـل رعنـا بدسـت دیگـران بودسـت مـن محـروم
عجـب در موسـم گلهـا خـزان زد نوبهـار مـن
بجـز فضـلت نخـواهم بـرد ایـن بـار امانـت را
بدسـت کـور کـافر چـون شـتر دادی مهـار مـن
ملامـت گرچـه هسـتم زانکـه مختـار خـودم کـردی
مگـر داری خبـر یـا رب ز ضـعف اختیـار مـن
اگـر چـه انتظـار وصـل سـخت از قتـل مـی باشـد
مگـر در مـذهب خوبـان ثـواب اسـت انتظـار مـن
دل و جـان مـن بیـدل فـدای ایـن عنایـت بـاد
کـه امـروز از کـرم گفتـه علـی خـان اسـت یـار مـن
۲۳: ۱۳۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# علي خان او مينه

د علي خان شاعري ډېره خوندوره او دردوونکې هم ده، دده غزل اغېزناک دی، لامل يې د هغه رښتينې مينه ده، هغه مجازي مينه چې دی يې ورو ورو د حقيقي مينې پوړونو ته رسولی دی. د مينې دغه مجازي او حقيقي پړاوونو دده شعر ته عجيبه ښکلی رنګ بخښلی او په پښتو شاعرۍ کې يې نه ختمېدونکی شهرت ورکړی دی او زما په اند خو علي خان د شعر سلطان دی ځکه چې په اشعارو کې يې د وخت مروجه علوم ښه ځلولي او همداراز يې له ادبي فنونو څخه دومره په مهارت کار اخيستی چې لوستونکی يې په لوستلو ارومرو له خولې د آفرين يوه کلمه راباسي.

محمد نواز طاير په دې اند دی چې د علي خان په کلام کې درې مينې يادې شوې دي؛ دی وايي: ((...د هغه مجازي محبوب، پير طريقت او معشوق حقيقي ته مخاطبه د هغه پېش نظر پاتې شوی و ځکه چې د مخاطبې درېواړه اندازه د هغه په کلام کې موجود دي))

۲۱: ۴۰۰

د علي خان مينه ناکامه وه ځکه خو يې په غزلونو کې درد، ارمان، سوز و ګداز، غم او مايوسي ډېر تر سترګو کېږي:

۱ـ د عشـــق بـــاز مـــې پـــه خـــاطر کـــړه پنجـــه ښـــه
شـــــوکوي زمـــــا د زړه د جګـــــر غوښـــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غم باز يې تل په زور لکه تار وخوري
ګونديې کله به چا ورکړو زړه په خوښه

که له دسته د هجران شوم اوچ هډوکی
لا به ښه شم د دلبر ګذار ته ننښه

زلفې مار سترګې نرګس وروځې ښکاري دي
فرقه ځکه د خوبانو شوه سرکښه

ګوره کوم قسم ګناه مې مسلم شوه
چې لا نه وځم د هجر له دوزخه

د هغو کوتاه انديشو زمانه شوه
چې وځي لکه کوتاه غشی له کښه

کميني که کمينه غليم ته ښه وی
مړه به خلاص وو علي خانه له ګورګښه

۲۳ : ۹۱

۲- عشق به څو ساتم په زړه کې هيڅ پرې نه پوهېږم زه
خنګه پټ کړم غر په خوړه کې هيڅ پرې نه پوهېږم زه

که هر څو مينه پېغور ده عاشقي په مثال اور ده
څوبه يې نغاړم په چړه کې هيڅ پرې نه پوهېږم زه

دا يې کبر دی که ناز دی څه بلا شعبده باز دی
بلا که د زړه په وړه کې هيڅ پرې نه پوهېږم زه

لکه ستا د سترګو آب دی دا په نورو کې ناياب دی
نه لامونده شي په چاړه کې هيڅ پرې نه پوهېږم زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



که يې دا د هجر سوی وی دربغه هومره يې زړه سوی وی
لکه مالګه په اوړه کې هېڅ پرې نه پوهېږم زه
دا وصال د دلربا دی که دا دم د مسيحا دی
ننه باسي روح په مړه کې هېڅ پرې نه پوهېږم زه
د دعا غشی که ولم هم مردار وي چې يې پلم
يو رانه شي په کواړه کې هېڅ پرې نه پوهېږم زه
نه يې غم صبر ته توان شي نه به خلاص ترې علي خان شي
حق حيران د رب په کړه کې هېڅ پرې نه پوهېږم زه
۲۳: ۷۲

د هجران په اور سوی علي خان داسې فرياد کوي:

۳- په خوبانو چې مين وي لکه زه
په ښادي کې به غمجن وي لکه زه
په ترښزو نوکو غر دسيني کني
د فرهاد هسې کوه کن وي لکه زه
ته به وايې اور لړونی د نغري دی
هسې سوی لوغړن وي لکه زه
د درياب له مرغلرو بې پروا شي
په سرو اوښکو دولت من وي لکه زه
د خواخوږو نصيحت پرې اثر نه کا
باتريا او سرکودن وي لکه زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لــــه ژونـــدو لــــه مــــړو دواړو وي وتلـــــی
چــې د عشــق پــه ځنګــدن وي لکــه زه
ســـتا د هجـــر محنتونـــه بـــه يـــې زوړ کـــا
کــه لــه د پرشــو کــم پــه ســن وي لکــه زه
فراغـــت ارام بـــه يـــې دواړه شـــي حـــرام
چــې پــه مينــه کــې لــيچن وي لکــه زه
د زلفـــانو د تيـــري لـــه شبســـتانه
همېشــه پــري نماســختن وي لکــه زه
د رســـوا ســـترګو د مينـــې لـــه نســـبته
مشـــهور پـــه مـــرد و زن وي لکـــه زه
علـي خـان غونـدې بـه تـل تروټـه تـاوان وي
ســـوداګر چـــې د ديـــدن وي لکـــه زه
۲۳: ۷۱

۴- يـــار مـــې پـــه خـــاطر د جفـــا اور ولګـــاوه
مـا چـې مـړ کـاوه هجـران پـرې نـور ولګـاوه
هـېڅ قـابو مـې نـه و پـه اختيـار هجـر د يـار تـه
اور يـې د هجـران پـه مـا پـه زور ولګـاوه
مـا يـې لا لـه دره سـوال ځـواب مونـدلی نـه و
ژر بيـا سـپي رقيـب راپسـې شـور ولګـاوه
خـوږ زړه مـې يـار خـوږ کـړو پـه ترخـو تنـدو خبـرو
دا يـې پـرې د مـالګې تـود ټکـور ولګـاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



باغ زما د ګلو زاغ لوټي زه ورته ګورم
خدای مې په ژوندوني ميراث خور ولګاوه

يو وصل د يار که مې موندی په زر سفره
اور به مې هزار ځله په کور ولګاوه

څه شي که ښايست يې يو په دوه شه له اوله
لا يې غم په ما يو په څلور ولګاوه

ستا د مخ و اورته چې پکی د رقيب خوځي
لا يې ښه د زړونو په تاتېور ولګاوه

ځکه ښايسته شوه کشيده زما د شعر
ميني د ګلرخ په کې انځور ولګاوه

سم نه شو کوږ ليک زما په وچولي د مهر
ډېر که مې په خاورو کې نسکور ولګاوه

کيوت علي خان په هسې شوږ و خونه چوړو
وژله يې زده نه وو پرې يې لور ولګاوه

۱۴۴ :۲۳

۵- الحذر اشنا د مينې له دريابه
خلقې په دې درياب کې شوې غرقابه

بې له خدايه نه لري ماڼکی ملاح څوک
دا کشتۍ ځي بې لنګر او بې تنابه

د وصال عيش و عشرت به درنه هېر شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



که خبر شوې د هجران له سخت عذابه
وصال خوږ دی په لذت یې نه مړېږم
خو هجران دی پکې تریخ تر زهر نابه
څه که توره دې له لرې راته برېښ کړې
تشنه لب سېر شوی نه دی له سرابه
ستا د تېغ په اوبو حلق د چا لوند نه شه
بې نصیبه تل ځي تږی له دریابه
چې پرېوتی په سجده یم ستا د مینې
سر به هسک نه کړم د وروځو له محرابه
دا دې مخ کړو رابهر له تورو زلفو
که ښکاره سپینه سپوږمۍ شوه تر سحابه
د دنیا مخلوق همه واړه محتاج دي
خدایه سوال کړي علي خان ستا له جنابه
۲۳: ۴۳-۴۴

په لاندې غزل کې د مینې او هجران دواړو له درده فریاد کوي او وایي:

مینې دې خراب کړم د هجران اور دې کباب کړم
وصل ته شتاب کړم په ژوندون شوم ناویساهه
هجر دې تاراج کړم بېلتانه دې ناعلاج کړم
څه به ابتهاج کړم په اور وختم ناګاهه
۲۳: ۱۴۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



بـــده جـــدايي ده ســـره لنبـــه د تنـــاره ده
زه يـې اور لړونـى كـړم ګونـه مـې د سـكاره ده
۲۳: ۶۰

همداراز په لاندې غزل كې د معشوقې له ستمونو او هجران څخه سترې ښكاري او د مينې په ناكامۍ كې رقيب زيات ملامت بولي او د هغوى له لاسه له وطنه د بهر تللو اراده هم كوي:

ســـتا جفـــا خـــو قبلـــوم ولـــې تـــر كومـــه
لـــه وفـــا زړه صـــبروم ولـــې تـــر كومـــه
د ډېـــر ظلـــم حـــال دې نـــه وايمـــه چاتـــه
تـــول پـــه زړه كـــې ځـــايوم ولـــې تـــر كومـــه
ســـتا د غـــم و تېـــرو غشـــو تـــه دلبـــره
ډال د آه خـــو چورلـــوم ولـــې تـــر كومـــه
كـــه د صـــبر ســـيخ هـــر ګـــوره ډېـــر تېـــره دى
خـــوږ ســـينه پـــرې ســـيخوم ولـــې تـــر كومـــه
ســـتا د عشـــقه ســـره ســـوى د زړه لاژم دى
چـــې مـــين شـــوم خـــود بـــه ســـوم ولـــې تـــر كومـــه
بيابـــان كـــې د هجـــران د وصـــل ســـراى تـــه
اس د عقـــل چورلـــوم ولـــې تـــر كومـــه
زه بـــه كـــړم دفـــع الـــوقتي تـــه خـــوش وقتـــي كـــړه
ســـاده زړه بـــه غولـــوم ولـــې تـــر كومـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــه دريــاب كــې د هجــران بــې تــا ملاحــه
پښـــې لاســـونه غورځـــوم ولـــې تـــر كومـــه
پـــه ســـيپو د ســـترګو زه اوبـــه د اوښـــكو
رنځـــور زړه تـــه څڅـــوم ولـــې تـــر كومـــه
بنـد قلـم چـې كاتـب وچـوي خـو خـلاص شـي
ځكـــه زړه پـــه غـــم چـــوم ولـــې تـــر كومـــه
د رقيـــب تېـــره ويـــل تـــر حـــده تېـــر شـــول
ســتا پــه مــخ بــه يــې تېــروم ولــې تــر كومــه
زه خبـــــر يـــــم تـــــا ويلـــــي لا پخـــــوا وو
چـــې فلانـــی بـــه رنځـــوم ولـــې تـــر كومـــه
علـــي خـــان چـــې مـــع العســـر يســـراً لـــولم
زړه پـــه دا زه ښـــه كـــوم ولـــې تـــر كومـــه
۲۳: ۱۲۰-۱۲۱

د پورته غزل په دې بيت كې د رقيب ناوړې خبرې نورې نه شي زغملی ځكه خو وايي:

د رقيـــب تېـــره ويـــل تـــر حـــده تېـــر شـــول
ســتا پــه مــخ بــه يــې تېــروم ولــې تــر كومــه
۲۳: ۱۲۱

همداراز د بل غزل په يو بيت كې له رقيب څخه داسې شكايت كوي:

مــا يــې لا لــه دره ســوال ځــواب مونــدلی نــه و

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژر بیا سپي رقیب راپسې شور ولګاوه
۲۳: ۱۴۴

او په بل ځای کې داسې وايي:

څنګه به بد نه وايي علي خان دده په باب کې
تل د سپي رقیب له لاسه ناست دی ژړولی
۲۳: ۱۶۸

بالاخره د رقیب له لاسه غواړي وطن پرېږدي:

ورک به علي خان شي د بې دردو له کبله
نوره یې باقي استوګنه ګرانه په وطن شوه
۲۳: ۱۴۷

دا چې د علي خان معشوقه له هغه نه لرې او په بل وطن کې وه ښايي په پېښور کې وه نو داسې فریاد کوي:

که یار نه وینم دلې په هشتنغر کې
پټېوم به له وطنه پسې سر مخ
۲۳: ۵۹

د ختن ترکې دې ژر راځي سلام ته
نن د تخت ترکه لایقه باګرامۍ ده
۲۳: ۶۶

جوړ په دا د کور و کلي مسخره شوم
چې مې کړله د خپل کلي بهر مینه
۲۳: ۱۲۹

علي خان د معشوقې د لیدلو لپاره د بهر تلو اراده کړې او تللی هم دی خو چې څه ګټه یې نه ده ترلاسه شوې ځکه بېرته راغلی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه کــه پوهېــدی چــې دې پــه مانشـــته وتنــه
نــه بــه وم پــه تــا پســـې وتلــی لــه وطنــه
۲۳: ۱۳۲

یـو وصـل د یـار کـه مـې مونـدی پـه زر سـفره
اور بـــه مـــې هـــزار ځلــه پــه کــور ولګـــاوه
۲۳: ۱۴۴

څومره چې علي خان له میني سوزېدلی هغومره یې خپل فریاد پورته کړی. سربېره پردې ده د خپلې هغې معشوقې ستاینه کړې چې دده هېڅ پروا نه لرله، د هغې ښکلا، علم او پوهه، ښه اخلاق او نېک نسب هر یو یې ستایلی دی:

نېـــک نســـبه خـــوش لقبـــه ســـیم غبغبـــه
بوالعجبـــــه شـــــکرلبه شـــــکر خنـــــده
پـــري رويـــه ســـنبل مويـــه عنبـــر بويـــه
ملـــک خويـــه ډ پـــره لويـــه هنرمنـــده
مـــه پيکـــره منـــوره پـــای تـــر ســـره
نـــاز پـــرورہ تـــر ګـــل غـــوره هوشـــمنده
ســـر فـــرازه پـــه نـــادر حســـن ممتـــازه
لکـــه بـــاز پـــه ناغـــه دارو ســـترګو برنـــده
... ترپايه
۲۳: ۶۱

په پورته ټول غزل کې د معشوقې ستاینه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي خان د هجران اور ډېر وسيزه او مينې يې ورسره تر پايه وفا ونه کړه، دی هم ورو ورو له دغې مجازي مينې څخه لرې کېږي او يو اضطرابي حالت کې واقع کېږي:

نه په حقيقت باندې خبر نه په مجاز شوم
نه پوهېږم عشق مې دی له کومې قبيلې
نه لا حقيقت مومم نه وصل په مجاز کې
مرم په ميانځه لار کې نه هورې شوم نه دلې
۲۳: ۱۵۱

وروسته له اضطراب نه حقيقت ته رسېږي:

مطلب دا چې هرګز نه شته
په مجاز کې څه وفا
يا يې حال حقيقت دا دی
يا خو بيا نه مونده ما
ډېر ژوندون مې پسې تېر کړو
په پسخاک په واويلا

او په پای کې يې داسې وايي:

خدای ته مخ کړه علي خانه
کل اغيار که په پس شا
علي خان له فاني مينې
ګوتې وښکې په رښتيا
۲۳: ۳۵-۳۶

خبره تردې حده رسېږي چې علي خان مجازي مينې ته هېڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزښت نه ورکوي او حتی په ډېره سپکه ورته ګوري:

نـوم د مجـاز اخلـي بلبـل د حقيقـت د ګـل دی

څه تپوس نه دی علي خان چې په مرداره ګرځي

۲۳: ۱۷۰

www.melitharik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پایله

د علي خان پر ژوند باندې په بشپړ ډول سره بحث کول څه آسانه کار نه دی، ځکه چې دده په اړه تاریخ چوپ پاتې دی او په شعرونو کې یې هم داسې څه نه دي راغلي چې د ژوند مختلف اړخونه یې ښه څرګند کړي خو پر فن باندې یې ډېر څه ویلی شو ځکه چې په شعرونو کې یې ټولې فنکارۍ او علمیت روښانه دي، سربېره پر نورو علومو د شعر او شاعرۍ پر اصولو هم خورا ښه پوهېږي، چې ما دلته دده د شعري استعداد د څرګندولو لپاره د ادبي فنونو ځینې بېلګې چې زما تر سترګو شوي او یا نورو ادیبانو په خپلو لیکنو کې راوړي؛ ځای کړي دي، له همدغو بېلګو څخه دا جوتېږي چې علي خان هم د ادب د آسمان یو ځلانده ستوری بلکې د شعر سلطان دی چې د ډېرو پوهانو لکه شکسپیر، رحمان بابا او داسې نورو په شان د تاریخ د تیارو ورېځو تر شا پټ پاتې دی.

له خدای جل جلا له څخه هیله منه یم چې دغه ورېځې یې له مخه په پوره ډول لرې شي او لکه لمر وځلېږي.

دا چې علي خان د علم په ګاڼه پوره سمبال و ځکه یې شعر او شاعري پخه او ډېره ښکلې ده نو که درانه شاعران او لیکوالان خپل علمي قوت لاپسې زیات او خپله مطالعه نوره هم پراخه کړي هرومرو به یې اثار تلپاتې مقام خپل کړي.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورانديز:

د علي خان په شان نور ډېر شاعران او ليکوالان (لکه: مصري خان ګګياڼی، معزالله مومند، د الپورې حافظ...) لرو چې تر ورېځو لاندې د پټو ستورو په شان له نظره لوېدلي دي. که زمونږ ليکوالان دغه پټ ستوري په خپلو ليکنو کې راوځلوي نو له يوې خوا به يې د هغوی حق ادا کړی وي او له بلې خوا به د پښتو ژبې د ادب ګلبڼ پرې لاپسې ښکلی شي. ددغې دورې شاعرانو هم منځپانګې ته پام اړولی او هم يې لفظي خواته؛ چې کلام يې په بشپړه توګه خوند او رنګ لري. ددغو ادبي او علمي اثارو په پام کې نيولو سره که د معاصرو علمي او ادبي اثارو د شکلياتو تر څنګ محتوی او منځپانګې ته هم پاملرنه وشي دا به ډېره ښه وي او زمونږ ژبه او ادب به په دې توګه د پرمختګ پړاوونه ووهي.

بله دا چې پښتو ژبه يوازې شعر او شاعرۍ او ادبي مسايلو ته وقف نه شي بلکې د ژوندانه په بېلابېلو ډګرونو کې د سيالۍ ميدان ته راووځي په دې توګه به پښتانه په نړۍ کې هسکې غاړې ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مأخذونه:

۱. آريانا دايرة المعارف. ۱۳۸۶ل. لومړی ټوک. د افغانستان د علومو اکاډمۍ د دايرة المعارف د مرکز رياست، نبراسکا مطبعه کابل افغانستان.
۲. آريانا دايرة المعارف. ۱۳۸۷ل. دويم ټوک. د افغانستان د علومو اکاډمۍ د دايرة المعارف د مرکز رياست، نبراسکا مطبعه کابل افغانستان.
۳. بخاري، خيال. ۱۹۷۲ ع. ديوان نجيب. پښتو اکېډمي، شاهين پرس پېښور.
۴. بخاري، فارغ او همداني، رضا. ۱۹۶۶ ع. پشتو شاعري. انجمن پريس لارنس روډ کراچي.
۵. پاچا، سيد عبدالله. ۱۳۸۳ ل. د علي خان ديوان. دانش خپرندويه مؤسسه.
۶. حبيبي، عبدالحی. ۱۳۴۲ ل. د پښتو ادبياتو تاريخ. دويم ټوک، پښتو ټولنه دولتي مطبعه.
۷. حبيبي، عبدالحی. ۱۳۲۰ ل. پښتانه شعراء. لومړی ټوک، پښتو ټولنه دولتي مطبعه.
۸. حقپال، محمداجان. ۱۴۱۳ هـ ق. بديع پوهنه. قلمي نسخه.
۹. حقپال، محمداجان. ۱۳۸۶ ل. قافيه پوهنه. قلمي نسخه.
۱۰. حقپال، محمداجان. ۱۹۹۷ ع. پښتو رباعي. د ډاکټرۍ (PhD) تيزس، ټايپي نسخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱. ختټک، اقبال نسیم. ۱۹۹۱ ع. د رنګ اوبو قافله. پېښور یونیورسټي.
۱۲. دین محمد. ؟ . تعلیم القران. تاج کمپني لمتیډ نیو اردو بازار داتا ګنج بخش روډ لاهور.
۱۳. د افغانستان جید علماء. کال. کابلی تفسیر. شپږم ټوک.
۱۴. دهخدا، علی اکبر. ۱۳۷۷ هـ ش. لغت نامه. جلد ۱۱. زیر نظر: محمد معین و سید جعفر شهیدی. مؤسسه: لغت نامه دهخدا، ناشر: مؤسسه انتشارات و چاپ دانشگاه تهران.
۱۵. دهخدا، علی اکبر. ۱۳۷۷ هـ ش. لغت نامه. جلد ۱۳. زیر نظر: محمد معین و سید جعفر شهیدی. مؤسسه: لغت نامه دهخدا، ناشر: مؤسسه انتشارات و چاپ دانشگاه تهران.
۱۶. دهخدا، علی اکبر. ۱۳۷۷ هـ ش. لغت نامه. جلد ۱٤. زیر نظر: محمد معین و سید جعفر شهیدی. مؤسسه: لغت نامه دهخدا، ناشر: مؤسسه انتشارات و چاپ دانشگاه تهران.
۱۷. دهخدا، علی اکبر. ۱۳۷۷ هـ ش. لغت نامه. جلد ۱۵. زیر نظر: محمد معین و سید جعفر شهیدی. مؤسسه: لغت نامه دهخدا، ناشر: مؤسسه انتشارات و چاپ دانشگاه تهران.
۱۸. رښتین، صدیق الله. ۱۳۲۵ل. د پښتو د ادب تاریخ. خپرندویه مؤسسه: پښتو ټولنه.
۱۹. رښتین، صدیق الله. ۱۳۷۲ ل. پښتو ګرامر. ژباړن: سید محی الدین هاشمي. یونیورسټي بوک ایجنسي.
۲۰. زیار، مجاور احمد. ۱۳۸۴ ل. پښتو پښویه. دریم چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دانش خپروندويه ټولنه.
۲۱. طاير، محمد نواز. ۱۹۸۶ع. روهي ادب. دويم چاپ. جدون پريس، پښتو اکيډيمي پېښور يونيورستي.
۲۲. کاکاخېل، سيد تقويم الحق. ۱۹۵۱ ع. ديوان علي خان. لومړی چاپ. جدون پريس پېښور.
۲۳. کاکاخېل، سيد تقويم الحق. دويم چاپ ۱۹۸۸ ع. ديوان علي خان. جدون پريس پېښور.
۲۴. کاکاخېل، ميا سيد محمد تسنيم الحق. کال. روح ادب.
۲۵. مومند، قلندر. ۱۹۸۵ ع. د محمدي صاحبزاده ديوان. کوهاټ رود، پېښور.
۲۶. همکار، محمد ابراهيم. ۱۳۷۸ هـ ل. د قافيې فن. التقوی عالي ليسه، دانش کتاب پلورنځی.
۲۷. هېوادمل، زلمی. ۱۳۷۹ هـ ل. د پښتو ادبياتو تاريخ. دويم چاپ. دانش خپرندويه ټولنه.
۲۸. اووه ورځنۍ رهبر مردان. ۱۵ جون ۱۹۵۷ع.
۲۹. اووه ورځنۍ رهبر مردان. ۱۵ اپرېل ۱۹۵۷ع.
۳۰. اووه ورځنۍ رهبر پېښور . ۳۱ اکتوبر ۱۹۵۷ع.
۳۱. قند مردان. غزل نمبر: جولای- اګست ۱۹۵۹ع.
۳۲. قند مردان. اپرېل- مې ۱۹۷۲ع.
۳۳. قند مردان. جنوري- فبروري ۱۹۷۲ع.
۳٤. قند مردان. اپرېل- مې ۱۹۷۲ع.

(c) ketabton.com: The Digital Library





# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک د هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (نورالله حبیب) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا ددې اثر له لیکوالي او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې ددې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

www.meliharik.com 0777 400 116

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**